Ketabton.com



د پښتنو ملی قائد او لوی زعیم میر ویس نیکه چه خپل گران هوادئی دیو دیوله ناروا تجاوز
څخه وژغوره او د هوتکو شهنشاهی ئی تاسیس کړه. ( ۱۱۲۷ ه وفات )

د پښتو ټولنې د خپرونو لمبر (۷۰)

« عقل او حکمت یوازې پناز او نعمت
کې نه دی. - د پښتنو په غرو او
رغو کې هم پوهان او هوښیاران سته »
( میر ویس )

کتابخانهٔ میوند وال
MAIWANDWAL LIBRARY

# میرویس نیکه

د

عبدالرؤف بینوا

تألیف

PROPERTY OF ACKU
5661

د پښتو ټولنې له خوا خپور شو

۱۳۲۵

عمومی مطبعه

د کابل

د طبع شمیر (۱۰۰۰)

دي کتاب په ۱۳۲٤ کال کښي
د آریانا دوهمه جائزه وړي ده .

# اهدا

دا کتاب د «نازو» انا لوړ او سپیڅلی روح ته اهدأ کوم.

چه د پښتنو ملی قائد میرویس نیکه ددي میرمنی په پاکه غیږ کی روزلی شوی دی.

( بینوا )

# دلوی خدای پنامه

## پیل

هغه وخت چه زه لا کوچنی اوووم ماشوم وم ما به د خپلې مور د خولې د حاجی میرخان نیکه نوم (چه د میرویس نیکه پښتني نوم دی) اروېدیء، او کله چه به ناروغه شوم نو زه به ئې د میرویس نیکه زیارت ته بیولم او راته ویل به ئې چه حاجي میر خان نیکه ډېر ګړندی او لوی سړی دی . بیا چه زلمیتوب ته ورسیدم هم به می د پښتنو په مجلسو کې د سپین ږیرو له خولې د دې نیکه نوم اروېدیء، او دا وخت دومره پوهېدم چه حاجي میرخان نیکه د پښتنو یو ملي مشر و، نو کم وخت چه بیا د کتاب سره اشنا شوم ما ته هغه له جوشه ډک احساسات را پیدا شول چه هر زلمی ته پې د غسې وخت کې پیدا کېږي، مینه مې د ر لوده چه د خپلو تېرو نیکه ګانو کارنامې ولولم، خصوصا د هغو نیکه ګانو چه ما لا په زانګو کې د دوی نومونه اروېدلی وه او دوی کتوب څخه ورسره اشنا وم. که څه هم په زانګو کې زه په ښه او بدنه پوهېدم مګر کوم وخت چه مې د زانګو څخه د مور غېږې ته سفر وکړ او پر خبر وراغلم، ما ته به د شپې خپلې مور د دې د پاره چه ما بیده کړي د تېرو نیکه ګانو ډېرې افسانې ویلې .

ښه مې په یاد دی یوه شپه چه مې مور پر نګي د غزا نکل راته کاوه او ویل ئې چه «سپین سرو پښتنو مېرمنو به د اوبو ډکې ژی اخیستي وه او غازیانو ته به ئې په سنګر کې اوبه ورلې او د اکثرو غازیانو څخه توری وې» په دې وخت کې زما مشرې خور له تلتکه سورا و یوست زما مور ته ئې وویل:

«د غازیانو توری همد اسې وې لکه هغه د نیکه توره ؟»

زما موری هم د هغې توری خوا ته چه دې به موږ ته ویل «دا ستاسی د نیکه توره ده چه ستاسی پلار ته او له پلاره تاسی ته پاته شوې ده» په ډېر تأثر وکا ته ، نور خو

نه پوهېدم چه ددې څه پیادرا غله خو ستر ګی ئې له اوښکو ډکې شوې ، وې ویل:

«هو، زویه ! بیده سه شپه ډېره تېره شوې ده ! »

دا هغه تورهوه چه ما اوخوړ. دهغې په مخ کې سرهسره ټکی لېدل نو یوبل ته به مو ویل : « ماد پر ښکلې پېرونیغو ده ! »

همدا شان به اکثره شپې دادلسې افسانې اورېدلې او په دماغ کې به مې یوه افسانوی دنیا تشکیلېدله ـ په دې افسانو کې ماډېر ځله دحاجی میرخان نیکه نوم اورېدلی و ، نو چه لوی شوم دده دژوند سره مې علاقه میندلې وه او په کوم کتاب کې چه به مې دده نوم ولید ، خوشا لېدم به .

مګر متأ سفانه سره ددې چه دا نابغه نیکه هر پښتون پېژني او ده ته د نیکه خطاب ور کوی بیاهم دده دژوند په باب کښې چا یوه رساله هم نه ده لیکلې ـ او نژ دې نژ دې دی چه دده مشهوری کارنامې هم ور کې شي . ددې فکر په اثر ما یو کال دمخه عزم و کړ چه زه دخپله وسه سره سم ترکومه ځایه چه موجوده مأخذ و نه کومک کولای شي یو وړ کو ټی کتاب ولیکم ، نو په ځینو یاد دا شتو نو مې شروع و کړه په دې وخت کې چه کوم شي زما عزم ښه راټینګ کړ ، زما د فاضل او مشر ملګری ښاغلی حبیبی تشویق و .

څو دادی تریو کال وروسته مؤ فق شوم چه ددې ملی نابغه په نامه دا کوچینی کتاب پای ته ورسوم ، شاید ترما وروسته زلمیان به ئې لا ښه بشپړ کړی .

په دې کتـاب کې ما ډېر زیار ایستلی دی چه بې سنده قول را نه وړه شي او هر مطلب ښکـاره مأخذو لری او په هم هغه مخ کې مې د مأخذ صفحه هم ور ښوولې ده .

خدای دی و کې چه زما دا زیار یو وړ کوټی ملی خدمت و بالـه شي او له خدایه غوا ړم چه نور ځوان دې هم په دا سې ملی خدمتو کښې تېر شي .        (بینوا)

## ددې کتاب مأخذونه :

په دې کتاب کې چه هر مهم مطلب اخیستل شوی په همغه صفحه کې ئې مأخذته سره دصفحې دنا کلو اشاره شوې ده او کوم مأخذونه چه ددې اثر په لیکلو کې استفاده ځنې شوې ده دادی :

۱ : روابط ادبی ایران وهند ــ اثر علی اکبر شهامی .

۲ : ترجمهٔ تاریخ مختصر ایران ــ اثر سرپرسی سایکس

۳ : دائرة المعارف بستانی ــ ۳ ج

٤ : دتتمة البیان پارسی ترجمه ــ دسیدجمال الدین افغانی .

۵ : تاریخ روابط ایران واروپا در دورهٔ صفویه .

٦ : داستان ترکتازان هند ــ ځلرم کاخ

۷ : منتخب اللباب ۲ ج

۸ : دفراهی قلمی جونګ ــ چه نباغلی فاضل ګویا ماته داستفادې دپاره راکړی و

۹ : حیات افغانی ــ دحیات خان .

۱۰ : خورشید جهان ــ دشیر محمد خان .

۱۱ : پټه خزانه ــ دمحمد هوتك .

۱۲ : تاریخ سلطانی ــ دسلطان محمد .

۱۳ : جغرافیای تاریخی ایران ــ دبارتو لد اثر

۱٤ : فرهنګ اوستا ــ

۱۵ : قاموس انګلیسی وهندی

۱٦ : تاریخ افغانستان ــ دمیلیسون اثر دمنشی احمدجان پښتو ترجمه

۱۷ : ــ تاریخ ایران ــ دسرجان مالکم اثر ــ پارسی ترجمه )

۱۸ : دافغان او پارس جګړه ــ دا کتاب «جارج نیون هام فور داسحاق » له

لاتینی څخه په انګلیسی ترجمه کړی ـ او لاتینی بیا د ترکی څخه ترجمه کړی چه د ترکی مؤلف د میرویس نیکه په وخت کی د اصفهان په دربار کی و. او اوس ئی ښاغلی سید مسعود خان په پارسی ترجمه کوی او ځو مخه خپله ترجمه ئې ما ته را کړې وه، د بېر تشکر ځنې کوم .

۱۹ : زندګـانی نـادرشاه پسر شمشیر ـ دلارودی اثر .

۲۰ : روضة الصفای ناصری ـ اتم جلد .

۲۱ : مجلهٔ کـاوه ـ ۲ کـال ـ ۱۲ ګڼه

۲۲ : افغان تاریخی ـ په ترکی ژبه دی چه په لاتینی ژبه ترجمه شوې دی او د هغه څخه بیا «د افغان او پارس جګړه» ترجمه شوی دی. چه د فاضل محمد صالح خان په کتبخانه کښې لری

۲۳ : جهانـکشای نادری ـ محمدمهدی .

۲٤ : مأثر الامراء ـ ۳ ج

۲۵ : درهٔ نادره ـ

۲۶ : تاریخ ادبیات ایران ـ اثر برون ترجمهٔ یاسمی ٤ جـلد .

۲۷ : تاریخ علیقلی مرزا

۲۸ : سیرالمتأخرین

۲۹ : نادر نامه ـ قلمی په ښاغلی حبیبی پوری اړه لری او د استفادې د پاره ئې را کړی وه.

۳۰ : تاریخ افاغنه ـ اردو ـ د سیدظهور الحسن موسوی تألیف .

۳۱ : تاریخ نظامی ایران ـ لمړی جـلد .

۳۲ : آئین اکبری . ابوالفضل .

۳۳ : د پټې خزانې تعلیقات د ښاغلی فاضل حبیبی لیکـنه .

# تر میرویس د مخه

غوا ړم د مخه تر هغه چه د ملي قائد میرویس نیکه دژوندون ، فتو حاتو او قیادت حالات ولیکم په ډیر مختصر ډول پر د مخنیو اوضا عو هم لنډرونیا وا چوم ـ ځکه چه تیر شوی واقعات دراتلو نکو پیښو باعث یا زیږ و نکی بلل کیږی . له دې کبله نو که وغوا ړو چه د ملي قائد میرویس نیکه ملي نهضت یا په بل عبارت د هوتکو دشهنشاهی د مؤسس حالات څر گند کړو باید تر هغه د مخه دافغانستان (خصوصاً قندهار ) او پارس او هند د مخنی وضعیت هم په لنډ طور سره بیان کړو ، او په دې ترځ کی به دا هم ښکاره شی چه د کومو کومو عواملو په اثر د هوتـک شهنشاهی یا دپښتو یو ملي نهضت موجود شو .

څنگه چه په هغه وخت کی دافغا نستان په تیره بیا دقند هار پر وضعیت او د حالاتو پر اوښتلو د گاونډیو مملکتو اوضاع ډیره اغیزه درلوده ، نو لو مړ ی به گران لوستونکی د گاونډیو مملکتو پارس هند د وضعیت خواته ملتفت کړم او بیا به دافغانستان په اور شو کی سره وزغیږو .

۱ : دپارس وضعیت : کم وخت چه دپښتو ملي قائد میرویس نیکه دخپل ټبر اواولس د آزادۍ اوخپلوا کۍ دجنډې دپورته کولو دپاره ملا تړله په پارس کی د صفوی شا ها نو حکـو مت و ، چه شاه اسمعیل صفوی تأ سیس کړی و ، شاه اسمعیل په ۹۰۵ هـ کـال د دیرلسو کـالو په عمر د خپل پلار « سلطان حیدر » د مر گ دانتقام اخیستلو په عزم میدان ته را ووت ، او دشیروان حاکم «فرخ یسار» ئې چه دده پلار ئې وژلی و لـه منځه ویوست (۱)

(۱) روابط ادبی ایران وهند ـ ٦٦ مخ دعلی اکبرشهامی اثر ـ دطهران طبع.

ګویا له همدې وخته ددې حکومت خښته کښېښوول شوه، او تر دوو پېړیو ډېر
ئې (٩٠٦ـ١١٣٤) پر پارس حکومت وکړ (١) دا دوره له ډېرو جهتو څخه
دپارس دپاره یوه روښانه او ځلېدونکې دوره وه، او تر ډېرو دورو یو خاص اهمیت
او امتیاز لري . په دې دوره کې کوم مهم شی چه منځ ته راغی د پارس «ملي وحدت»
دی، ددې وحدت اساس شاه اسمعیل دصفویانو لومړي پاچا ټینګ کړ او په دې
وحدت کې معنوي قدرت او نفوذ ډېر موثر و، ځکه چه دا دوره له سره پر معنوي
بنسټ یعنې تصوف او شیخوخیت راولاړه شوې وه او د شاه اسمعیل پلار او نیکه ټول
مرشدان تیر شوي و، او د ده نسب په شپږ مه واسطه مشهور شیخ صفي الدین
اردبیلي ته او په ١٦ واسطه اووم امام حضرت موسی کاظم ته رسیدی (٢) او له
دې لارې ئې په پارس کې ډېر نفوذ او قدرت او په لکو مریدان موندلي وه ،
نو له دې څخه، علاوه پر «ملي وحدت» داهم څرګند یږي چه په صفوي دوره کښې
مذهبي چارو ښه ترقي کړې وه او په دې دوره کې علماو او صوفیانو خورا ډېر قدر
در لود او دشاهانو مخصوصه توجه دمدرسو خوا ته وه او بر سېره پر دې په صفوي دوره
کې د پارس مختلفو صنایعو ته هم ډېره توجه وشوه او دهغه ځانې ځنا یعو لکه
نساجي، معماري، کاشي کاري او نورو مختلفو صنعتونو ښه ترقي وکړه، چه
له دې حیثه هم دا دوره مهمه او روښانه دوره بښکاریږي؛ مګر داهم باید وویل
شي چه په دې دوره کې ځیني بدا چهان پیدا شوه چه ددې دورې پر رونا، ئې
تاریکي واچوله لکه شاه عباس چه دخپلو زامنو دوژلو نسبت ور ته شوی او بیا
شاه صفي (د١٦٢٩ع څخه تر ١٦٤٢ع) چه ډېر صفوي شهزادګان ئې ووژل،
او له همدې ځایه دصفوي دورې انقراض شروع شو ، چه پنځه کاله وروسته

---

(١) روابط ادبی ایران وهند ٦٨ مخ
(٢) » » » » ٧٧ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library




شاه اسمعیل صفوی

Ketabton.com



سلطان حسین صفوی

«ایروان» او «تبریز» د تر کلانو پلاس ورغلل او په ۱۶۳۸ کال بغداد هم دپارسیانو له لاسه ووت (۱)

خو چه ددې دورې وروستنې پاچا سلطان حسین دا کتوبر په ۲۳ په ۷۲۲ ع – ۱۱۳۰ هـ ق کال (۲) مجبور شو چه د پارس د شهنشاهۍ د تاج میرویس نیکه دمړنی زلمی زوی شاه محمود پرسر پخپل لاس کښېښود، او خپله لورئې هم دې پښتون زلمي شهنشاه ته په مدغه ورځ ور پنکاح کړه (۳) چه په همدې ورځ دصفوي دورې کمبله ټوله شوه.

۲ : دهند وضعیت : په همدې وخت کې چه دصفوي دورې وروستنیو شاهانو په ایران کې حکومت کاوه په هند کې دمغولو پاچهي وه. ددې سلسلې دسلطنت مؤسس ظهیر الدین محمد بابر پاچاو. چه دمحرمې په شپږمه په ۸۸۸ هـ کال زیږېدلی دی (٤) اودیرلسو کالو په عمر په ۸۹۹ هـ کال په اندجان کې دپاچهي پر تخت کښېناست (۵) بابر پاچا خو کاله وروسته دخپل لوی سلطنت مرکز ډهلي وټاکه، اودهند پراکثرو ښاروئې غلبه ومو نده. تر ده وروسته دده زوی همایون. او تر ده پر تیموري مغولي شاهانو په هند کې تردرو

(۱) تاریخ مختصر ایران، دسرپرسي سایکس دتألیف فارسي ترجمه ٦٤ مخ
(۲) دائرة المعارف بستاني دریم جلد – ۲٤۰ مخ –
(۳) دتتمة البیان ترجمه – دعلامه سیدجمال الدین افغاني تألیف ۹۳ – ۹٤ مخونه دکابل طبع
(٤) حسامي دالاندني بیت دده دتولد په تاریخ کې ویلی دی :

اندر شش محرم زاد آن شه مکرم — تاریخ مولدش هم آمد «شش محرم»
(فرشته ۱۹۱ مخ)

(۵) روابط ادبی ایران وهند– ۳۰ مخ

بېرېیو لازیات سلطنت و کاوه اود ۸ میلادئ قرن تر آوا خرو پوری ئې په هندوستان کې خپلواك اومستقل حکومت درلود، د ۱۹ قرن په اوائلو کې دانګلیسانو تجاری اوسیاسی نفوذقدم کښېښوداووروورو ئې لمن ار ته شوه.

ددې نفوذمقدمه کهځههم د۱۵۷۹ میلادی=۹۸۷ه څخهچه«تماش استی ونس» یوه انګلیسی زلمی هندته سفر وکړ اوپه تېره بیاپه ۱۵۸۳میلادی=۹۹۱ه کال چه څلور تنه انګلیسی سیاحت کوونکو دشرقی ممالکو دتجارتی او اقتصادی اوضاع دکتنې دپاره ما مور شره شرو ع شوې وه، مګر په ۱۶۰۰ میلادی ددسامبر په۳۱ (ددریمی خورپه ۲٤ـ ۱۰۰۹ه) چه دملکهٔ الیزابت په امر دشرقی هندی شرکت (دلندن دتجارانو شرکت چه دشرقی هندسره تجارت کوی) پنامه تأسیس شو (۱) دانګلیسانو دسیاسی اوتجارتی نفوذ اساس کښېښود شو.

دنورالدین محمد جهانګیر ګورګانی پا چا په وختو کی په ۱۶۰۸ م او ۱۷ ۱ه کال دې پورتنی شرکت خپله لمړی بېړۍ د «ویلیام ها و کین» نامی پهمشرتوب د سورت بندرته چه دهند له غربی بندرو څخه دی راواستوله، دې سړی ـ انګلستان دپاچا «لمړی جیمز» له خوا یوه سفارشنامه هم در لوده اوتر یوځایه پخپل مقصد کنا میاب شو ـ بیا په ۱۶۱۲ کال هم دې انګلیسی بېړۍ د «توماس بست» په مشرتوب هندوستان ته ورسېدلې او دې سړی وکولای شوه چه دسورت له محلی بندر سره تجارتی معاهدې وتړي او څه عده وروسته هلته یوه تجارت خانه هم تأسیس کړی ، اوداوولسم دنیمی قرن رادې خوا ته ددې شرکت دتجارتی چاروسره سیاست هم ګډ شو . په۱۱۰۱ه (۱۶۸۸م) کال چه انګلیسانو دبمبئی جزیره چه پر تګالیانو پرېښې وه هم دې شرکت ته په لېز اجاره ورکړه ددې شرکت مرکز دسورت له بندره بمبئی ته رانقل شواوداوخت لېز لېز دمستملکاتو

(۱) تاریخ روابط ایران وار وپادردورهٔ صفویه ۱۲۸ مخ فرشته ۱۹۲ مخ

په‌چرت ولو پده او په‌هند کي ئې استعماري سياست شروع کړ، مګر دا کار ئې په‌انګلستان کې د نورو تجارانو د حسد او رقابت باعث و ګرځيد او په ۱۱۱۰ه (۱۶۹۸م) کال يو بل تجاران يو لوی شرکت (د شرقي هند د عمومي تجارت د شرکت) په‌نامه تاسيس کړ او د انګلستان له پارلمنټه ئې د شرق د تجارت انحصاري امتيازهم واخيست، دا هم د تجارانو د رقابت د هجوم مورد واقع شو، خو په‌پای کې په (۱۷۰۸م) کال دواړو پخوانيو شرکتو لاس سره ورته کړ او يو مهم او ډېر لوی شرکت ئې د (د انګليسي تجارو شرکت د شرقي هند د تجارت د پاره) پنامه تاسيس کړ، او ضمناً د انګلستان پاچا د شرکت مشرانو ته د هندوستان د پاچهانو په‌دربارو کې رسمي سفارتونه او قونسلګري وروسپارلی (۱) نو پدې سبب د دې شرکت اساس يا په‌بل عبارت د انګليسانو د سياست بنسټ په‌هند کې ښه ټينګ شو او نفوذ ئې يو په دوه شو او ورو ورو د انګليسانو نفوذ پسې ډېرېدی خو چه په ۱۲۱۷ه (۱۸۰۳ ميلادي) کال ئې ډهلي ونيو او د مياشتي ئې يو لك روپۍ شاه‌عالم (چه‌ددې سلسلې وروستني مستقل او مهم پاچا او په‌ستر ګو ړوندو) و ته ګټلې چه هغه هم په ۱۲۲۱ه کال مړ شو (۱) تر ده وروسته د دې سلسلې څو نور شاهان هم په‌هند کې وه چه څه‌نه څه‌نوم ئې درلود مګر په ۱۲۷۹ ه = ۱۸۶۲ ميلادي کښې چه ددې کورنۍ وروستني پاچا بهادر شاه چه ښه شاعر او موسيقي دان هم و، دځينو نورا تو په‌اثر د انګليسانو له‌خوا د خپلې ميرمنې «زينت محل» سره «برمې» ته تبعيد او هلته مړ شو، د تيموري سلطنت کمبله بالکل ټوله شوه (۳)

---

(۱) تاريخ روابط ايران واروپا ـ ۱۵۷ ـ ۱۵۸ مخونه.

(۲) ترکتازان هند. څلورم ټوک ۶۳ ځ ـ ۶۹ ٤ مخونه.

دخافي‌خان دليکني څخه چه تر ۱۱۳۵ هـ کاله پورې‌ئې دمحمد شاه‌دوخت حوادث ليکلي دي‌څرګند يږي چه‌دګرګين دمرګ په کال په‌هند کې محمد اعظم‌بهادر شاه‌مشر توب درلود، څکه چه‌دی وايي‌چه‌په ۱۱۹ هـ کال دګرګين د وژلو خبر چه‌ملي قائد ميرويس نيکه‌مړ کړ په هند کې دمحمداعظم بهادر شاه دربار ته را ور سيد . (۱)

ګويا کم وخت‌چه‌ملي زعيم‌ميرويس نيکه دپښتنو په وينو لو پيل کا وه‌په هند کښې‌محمداعظم بهادر شاه چه‌دمځه‌ذکر شو مشرو، اوور وورو دمغلودحکومت کمبله‌تو لبدله، مګر بيا هم‌په دغه‌وخت کې بېخي کمزوری نه‌وه، بلکه ښه اقتدار ئې پلاس کې و .

۳ : په‌افغانستان کې د قندهار وضعيت: تر اسلام‌دمخه دافغانستان وضعيت خو غربي‌اوشرقي مؤرخينو په‌واروارو، په‌تکرار سره ليکلي دي، او جغرافيوي حدودئې ترننني ورځې ډېر پراخه اوارت وه، په‌تېره‌بيا هغه‌وخت چه‌آريائي قبائل لادخپل اصلي‌ټاټو بي(بلخ) څخه‌دپارس اوهند خو اوته کوچېدلي نه‌وه دافغانستان خاوره‌دآريائي تمدن‌مرکز باله کېده، چه‌ددې خبرې‌څېړل ددې کتاب له‌دغه‌مبحث څخه‌وتلي شمېرل کېږي اوجلا کتابو نه‌لري .

خو تراسلام وروسته هم‌افغانستان دخورا لويولويو شهنشا هيو لکه دسور يانو شهنشاهي، دصفاريانو، دسامانيانو، دغوريانو اودغز نويانو دشهنشا هۍ مرکزو، او هرلورته ددوی دېرې بيرغونه رپېدل‌او غليمان ورته‌سر ټيټي وه، اودا هره دوره دافغانستان په تاريخ کې‌خورا لوړ موقعيت لري‌او هره يوئې ډېره‌ځلانده اوبا شکوهه دوره‌ده. مګر تردې دورو وروسته خصوصاً له‌هغه‌وخته څخه‌چه دمغلودوره شرق ته راغله ، که‌څه هم‌په‌افغانستان کې‌دپورتنيو دورو په‌شان يوه لويه‌شهنشاهي‌چه

---

(۱) منتخب اللباب ۲ ج ۶۴۳ مخ

دافغانستان ته له خاوره ترادارې لاندې ونیسي، دهوتکو تر دورې پورې موجوده نه وه، خو بیا هم دافغانستان هره برخه دافغانستان دهغې برخې داوسېدونکو په لاس اداره کېدله او دهرې برخې اوسېدونکي په هر وخت کې دمتجاوزینو په مقابل کې ولاړ وه او دفاع ئې کوله چه په افغانستان کې ددې حکومتونو مهم مراکز هرات، بلخ، کابل زابل بلل کېدل .

څنګه چه دغزنویانو ددورې تر وقفې وروسته په افغانستان کې د هوتکو دورې بیالویه شهنشاهي قائمه کړې ده او هم دهوتکو نهضت له قندهاره شروع شوی دی، نو دلته هم په دې کتاب کې زموږ دموضوع سره مناسبه داده چه د قندهار وضعیت تر څېړنې لاندې ونیسو، چه دمخه تر هوتکو ئې څه وضعیت درلود، او هغه داسې دی :

دقندهار وضعیت له هغه وخته چه د هوتکو او توخو او ابدالیانو ملي ریاستونه له منځه ولاړه په ډېر تزلزل اخته شو، کله به دهند دمغولي حکومتونو تر اغېزې او کله به د پارسیانو تر سترګې ورته سرې کړې، دقندهار خپل موجودیت نه درلود، چه ورك شي، فقط د ګاونډیو مملکتو په سترګو کښې ئې دیوې مهمې مثال درلود چه هر یوه غوښته یو له بله ئې حمله کړي، خو خبر نه وه چه دوی ته به مړ غوټې شي او دهضم قوه به ئې ونلري، بلکه په پښتني اصطلاح دمور شیدې به په وګرزوي .

دپارس او هند دحکومتونو به تل پخپل منځ کې پر قندهار سترګې سره سرې وې او چه یوه به موقع وموندله بل ته به ئې پلمه جوړه وله او خپل ځان به ئې دقندهار په تصرف او تجاوز کې حقدار ګانه، او یا به ئې دامنیت قایمو او په نامه خپل اقدام روا باله . چه دلته د هغو پېښو څخه دوه مثالونه را نقلوو :

۱ : لمړی په ۱۰۰۵ه کال چه اکبر پاچا دقندهار دتسخیر خیال وکړ، نو یو اوږد او مفصل مکتوب ئې شاه عباس ته ولیکه او خپل دې تجاوز ته ئې یوه پلمه وتراشله خو څنګه دا مکتوب ډېر اوږ ددی، نو څو جملې ئې راوړو :

« . . . لیکن چون قندهار درمیانه بود ومیرزا یان قندهار در لوازم معاونت ومعاضدت آن دودمان عالیمکان تکاهل می نمودند ودر مواقع حوادث ومکاره که محل استطلاع عیار جوهر وفاقست قطعاً آثار یك جهتی ویگانگی بظهور نیاورده اند ونیز بدامن ارفع که متوطن صاحبان نازو نعم است توصل شایسته نمی رسانند مخطور حواشی باطن بود که اولاً قندهار را بکسان خود بسپارم . . . (۱) »

۲ ـ کم وخت چه شاه عباس صفوی پر قندهار لاس وموند او دجهانګیر پاچا خخه ئي ونیوه نو همدا شان ئي یو مفصل مکتوب جهانګیر ته په دي باره کي ولیکه چه مضمون ئي دادی :

« نسائیم دعواتیکه از نفحات اجابت آن غنچهٔ مراد شگفته نکهت قرانی مشام یگانگی باشد ولوامع مدحاتی که از لمعات خلوص انجمن اتحاد منور گشته ظلمت زاوی غالیهٔ بیگانگی گردد . عطر بزم خلت وولای اعلیحضرت وظل اللهی وشمع جمع صدق وصفای آن نور پرورد آگهی گردانیده مشهود راه انور ومکشوف ضمیر منیر ضیا گستر میگرداند که : بر دل دانش پسند وخاطر آسمان پیوند آن برادر بجان برابر که آئینه چهرهٔ دانش وبینش ومرآة جمال حقائق آفرینش است عکس پذیر خواهد بود که بعد از سنوح قضیه ناگزیر نواب شاه جنت مکانی علیین آشیانی انار الله برهانه چه قسم قضایا در ایران روی داده بعض ممالك از تصرف منسوبان این دودمان ولایت مکان بیرون رفته بود چون این نیازمند درگاه بی نیاز مقلد امور سلطنت شد همین توفیقات ربانی وحسن توجهه دوستان جانی انتزاع جمیع ممالك موروثی که در تصرف مخالفان بود نموده ، چون قندهار که در تصرف گماشتگان آن والا دودمانی بود ایشان

---

(۱) دفراهی قلمی جونګ ـ چه بناغلی ګویاته پروسږ کال چه دافغانستان په دوره تللی و ، په فراه کښي چاور کړی دی ـ او نور بنه بنه منتخب اشعار هم پکښي شته

را از خود میدانست متعرض آن نشده ازعالم اتحاد و برادری مترصد بودیم که ایشان نیزبطریق اباواجدادعظام جنت مقام خود در تفویض آن مبذول فرمایند چون بتغافل گررانیدند مکرر بنامه وپیام وکنایه وصریح طلب آن نمودیم که شاید درنظر ایشان این ملك محقر قابل مضائقه نبوده مقرر نمایندکه بتصرف اولیای این خاندان داده رفع طعن دشمنان وبدگویان و قطع زبان درازی حاسدان وعیبجویان گردد. چون مدتی این امر را درعقدهٔ تعویق انداختند وحقیقت اینمقدمه درمیان دولت دشمن اشتهاریافت وازآنجانب جواب این‌مشعر برد وقبول آن نرسید بخاطر عاطر گرشت کهطرح سیر و شکار قندهار اندازیم کهشاید بدین‌وسیله گماشتگان آن برادر نامدار کامگار از روی روابط الفت وخصوصیتیکه مسلوکست مؤکب اقبال را استقبال نموده بخدمت اشرف فائز گردند ومجدداً بر عالمیان رسوخ قواعد یگانگی طرفین ظاهر شده باعث زبان کوتهی حاسدان و بدگویان شود بدین عظمت پی‌یراق قلعه گیری متوجه شده چون بلکاء فراه رسیدیم منشور عاطفت مبنی براظهار ارادهٔ سیر و شکار قندهار بحاکم آنجا فرستادیم که مهمان پذیر باشد وعزت آثار خواجه باقی‌قزاق راطلب فرموده بحاکم‌وامرای که درقلعه بودند پیغام دادیم کهدر میان‌اعلیحضرت پادشاه ظل‌اللهی ونواب همایون ما جدائی میسر نیست وا لکائی که هست از همدیگر میدانیم وما بطریق سیرمتوجه این صوبیم نوعی نشود که کلفت خاطری بهم رسدایشان بمضمون حکم وپیغام مصلحت انجام رابگوش حقیقت نیوش نشنیده ومراسم الفت واتحاد جانبین منظور نداشته اظهار تمرد وعصیان نمودندو تا بحوالی قلعه رسیده وباز عزت آثار مشار الیه مکرر طلب فرمودیم وآنچه لازمهٔ صحت‌بود باو گفته پرستادیم و تاده روز دگر عساکر منصوره قدغن فرمودیم که پیرامون قلعه و حصار نگردند نصائح سود مندنیامد در مخالفت اصرار نمودندچون بیش

ازین مسامحه گنجایش نداشت ولشکر قزلباش باوجود عدم اسباب قلعه گیری وتسخیر قلعه مشغول شدند ودر اندك روزی برج وباره رابا زمین یکسان ساختند کار براهل قلعه مشکل شده امان خواستند ما نیز همان رابطهٔ را که از قدیم الی الایام فی مابین این دو سلسلهٔ رفیعیه مسلوك بوده وطریقهٔ برادری که مجدداً از زمان میرزائی آن اورنگ نشین بارگاه جلالت و نواب همایون ما بنوع استقرار یافته که رشك فرمائی سلاطین روی زمین است منظور داشته بمقرض مروت جبلی تقصیرات وذات ایشان رابعفو مقرون فرموده مشمول عواطف وعنایات سالماً غانماً باتفاق رفعت پناه نظاما حید بیکاسی یوزباشی که از صوفیان صادق اینخاندان است روانهٔ درگاه معلی گردانیدیم حقاً که بنیاد وداد واتحاد موروثی مکتسبی از جانب این دلاجوئی نه بمرتبهٔ میشد و مستحکم است که بجهت ضرور بعضی امور که بحسب تقدیر ازمکمن امکان بمنصهٔ ظهور آمده با شد خلل پذیر گردد ، میان ماوتو رسم جفا نخواهد بود ، بجز طریقهٔ مهر و وفا نخواهد بود مرجو آنکه از انجانب نیز همین شیوهٔ مرضیه مسلوك بوده بعض امور جزئیه را انظار خجسته آثار نفرموده اگرخدشهٔ برعارض الفت ظاهر شده باشد بحسن عطوفت ذاتی ومحبت ازلی درازالهٔ آن کوشیده و گلشن همیشه بهار یکدلی ویگانگی را سرسبز وخرم داشته همگی همتگردون اساس بتاکید مبانی وپاك وتصفیهٔ مسائل اشفاق که نظام بخش انفس وآفاق است مصروف فرمایند وکلی ملك محروسهٔ مارا بخود متعلق داشته بهر کس خواهند شفقت فرموده اعلام بخشند که بلا توقف ومضایقه باوسپرده می شود واین جز وبات راخود چه‌قدر واعتبار باشد. امراو حکامیکه در قلعه بودند اگرچه مرتکب امرای چند که منافی مراسم دوستی بود شدند ، اما آنچه واقع شده از جانب مابوده ایشان آنچه لازمهٔ نوکری وشرط جان سپاری بودبتقدیم رسانیدند. یقین که آنحضرت نیز بشفقت پادشاهانه ومرحمت شاهانه شامل حال ایشان فرموده مارا ازایشان شرمنده نخواهند ساخت ، زیاده

اطناب نرفت، همواره ها لوای آسمان فرسای هم آغوش تا ئیدات غیبی باد --
عاقبت جمیع بخیر باد برب العباد! ، ، (۱)

دا یو دوه مثاله دهند. او پارس دحکومتو نو دیو بل غولولو او دقندهار په مقابل کې ددوی دافکارو نمایندګي کولای شي، چه دې دوو حکومتو نو هر وخت فرصت لټاوه چه قندهار تر لاس لاندې کړي؛ مګر څنګه چه زه دمیر ویس نیکه حالات لیکم نو زه باید دقندهار وضعیت ته دهوتکو له نقطهٔ نظره وګورم او څه چه له دې لارې وموم هغه څرګند کړم، ځکه په همدې هرج ومرج کې یاتر دې دمخه هوتکو او توخیو او ابدالیو پر قندهار مستقل حکومتونه کړی دي، په دې صورت کې نو لمړی دا لازمیږي چه پخپله دهوتکو قبیله وپیژنو او بیا ددوی دریاست بیان تر میرویس دمخه څرګند کړم، چه له دې لارې هم دقندهار دمخني وضعیت څرګندیږي او هم دهوتکو عشیره چه زمونږ ملي قائد میرویس له همدې عشیرې څخه میدان ته را وتلی دی معرفي کیږي، نو دادی په دې مقصد پیل کوو:

دهوتکو ټبر: په پښتنو کې دهوتکو ټبر ډیر شهرت لري. داځکه چه دا ټبر د پښتنو په ملي نهضتو کې لویه برخه لري او پخپله پلائې مهم رول لوبولی دی..

هوتک ټبر دغلځیو یو مشهور ښاخ دی او لکه دا نسابو لیکو نکی چه لیکې ددې ټبر لمړی پلار هوتک نومیده چه ټبرئې هم دهمدی پلار پنامه یادشو او هوتک باباد بارو زوی او د تولر یا توران لمسی او د باباغلځی کړوسی دی (۲)

مګر دا چه هوتک بابا په کوم زمانه کې اوسیدی پوره څرګنده نه ده که څه هم دپټې خزانې مؤلف د «هوتک بابا» په نامه دهوتکو یو پلار لیکلی او معرفي کړی

---

(۱) دا مکتوب له یوه قلمی جونګ څخه رانقل شوی دی ، چه د « فراهی » پنامه او د ښاغلی فاضل ګویا څخه دی .

(۲) حیات افغانی ۲۵۶ - خورشید جهان ۲۱۰ - پټه خزانه ۷مخ

دی چه وایي د ۶۶۱ ه کال داتغرپه علاقه کې زیږیدلی او په ۷۴۰ ه کال وفات شوی دی مګر دخو دلائلو په نسبت ددې خبری منل دقت غواړی : یوخو پخپله دپټې خزانې خو جملې دی چه په یوه ځای کې وایي : «او هغه وقت چه لوی سو نو ئې کا دخدای عبادات او په اتغراو سوری کې دقوم سردار اوباد ارو» ( ۱ ) بل ځای وایي : «بابا هوتك خپل قوم ونه راټول کړل. او دسره غره سره ئې پر مغلو شخړه بوتله» (۳) نو که داسړی دهوتکو لمړی پلار فرض کړو ، نو بیا دده قوم یا اقوام له کومه شوه؟ ځکه چه تردی دمخه دهوتکو یوسړی هم نسته او توخی هم یوسړی دده ورور دی او په دري پښته بابا غلځی تهرسیږی چه ټول پنځه شپږ تنه کیږی، نو بیا څنګه داومنل شی چه دا« هوتك بابا» هم هغه هوتك بابادی چه د بارو زوی، دتولر لمسی او دغلځی کړوسی دی ؟

بله داچه که داخبره ومنله شی باید «باباغلځی» هم په ۴۰۰ ه یالږ دمخه یالږ وروسته وبولو حال داچه پرخلاف دارباب انساب دلیکنو څخه موږ دغلځیو وتېر دنامه ریښه ترهغه رخت ډېر پخوا حتی که څوك پقهر نسی تراسلام دمخه هم موندلای شو ، بلکه تقریباً ثابته ده ، ارباب انساب لیکی چه دبیټنیکه د«بی بی متو» نامی لور دنسه یو زوی پیداشو چه دهغه نوم یې «غلزی» یا «غلجی» کښېښود (۱) مګر څه بهوشی که موږ دانوم «غرزی» وګڼو ځکه چه په زړه او وسنی پښتو کې د«غر» ریښه خصوصاً په نومونو کې ډېره غښتلي اوقوی ده، حتی دځینو محققینو په عقیده دغور، غرج، غلج ،خلج، غرچه دنومو ریښه هم له غره څخه ولاړه شوې ده او په منځنۍ

(۱)(۲) پټه خزانه ۷، ۸

(۳) خورشید جهان ۲۰۹ مخ ـ حیات افغانی ۲۵۶ مخ ـ تاریخ سلطانی ۷۰ مخ

اسیا کې دآریائی ځایو او قبیلو په مورد کې استعمال شوی دی (۱) همدار نګه دغورك او غرجستان یا غرڅه او غرخنی نومونه په پښتو کې شاید دا ادعا ثابته کړی

تو ما سچك یوغربی مدقق هم دګر gar یعنی غره کلمه دبا کتری په ژبه پارسی کې مستعمله بللې ده او وایی چه غرچه دآمو پورته خواته دیوه غرنی ولایت نوم دی چه آریایان پکښې اوسېدل (۲) اوعلاوه پردې په اویستا کې دا کلمه د « ګیری » په شکل په همدې معنی راغلې ده (۳) او په سنسکریت کې د giri پشکل لیدل کیږی (٤) دپورته قرینو په نسبت، نسبت دې ته چه دا نوم «غل زی ، ګلزای ، قلزه ی، غیلجائی ،غلجه ئی، غلجائی» او نورو نومونو چه مؤرخینو رازراز اوړی دی یاد کړو ښه به دادی چه آریائی اصل ته رجعت ور کړو اودنورو ډېر نومونو په شان چه له « غره » څخه اخیستل شوی دی دا هم لدې کلمې څخه واخلو او «غرزی» ئې وبولو که دا نظر یه ومنله شی نو دغرزی « مشهور په غلځی » دنبر نوم به تر هغه ډېر پخوانی شی چه ځینو مؤرخینو لیکلی دی او هم بیټ ، سړبن او غرغښت نومونه هم چه دپښتنو پخوانی نیکونه باله شوی او نومونه ئې هم له مابعدالاسلام سره نه لګیږی داسلام د مخه وبولو. په دی صورت چه مو « غلځی » «غرزی» کړ او غرزی ته مو تر اسلام د مخه یا داسلام سرته نژدې تاریخ وټاکه نو اوس کولای شو چه دهمدې تاریخ په تناسب دهوتکو لمړی سړی هم وټاکو او ددوی دژوند تاریخ هم تخمین کړو .

پهر صورت دا زما شخصی رایه وه، دلته زه نور نه غواړم دا خبره وغځوم فقط زما مقصد دهوتکو داصل په شاوخوا کې یوه رڼا غور ځول وه. خو کمه مثبته نتیجه چه پلاس راغله هغه داده چه هوتك دغلځیو یا غرز یو یوه پښه ده چه دپښتنو د ملت ملی نهضتونه له ۱۱۱۹ ه څخه تر ۱۱۴۹ ه پوری ددوی د همت او غیرت ګټه او دتوری چوټ دی

(۱) جغرافیای تاریخی ایران ـ دبارتولد اثر ۸۸ مخ (۲) زبان پا میر

(۳) داویستا فرهنګ ۲۷۲ مخ (٤) دهنداو انګلیسی قاموس ۶۱۱ مخ د۱۸۰۷ طبع

چیري اوسېدل؟ دهو تکو اصلي ټاټوبی «داتغر» سیمه ده چه د کلات جنوب شرق ته پروت او د هرتکو او توخو د حکومت مرکز دی، ترهغه وروسته چه هوتك بابا ددوی یو لوی نیکه د تېرمشرشو، دسیوري خلکو هم دی په مشرتوب اوسر داري ومانه (١) دمغلو دهجوم په وخت کی د کلات دارغنداو ترغاړو اواو لان (٢) او سورغر «٣» پوري هم ددوی په لاس کی وه اودوی اداره کول؛ څوچه ئې په مېړانه له هغه ځایو څخه دفاع وکړه او مغول ئې وشړل (٤)

دا تصرف اومشرتوب ترهغه وخته و، چه په ١١٠٠ ه کښې خارجي دښمنانو وغوښته ده میشه په شان دپښتنو په منځ کی دغلځو او ابدالی په نامه دنفاق اور بل کړی «لکه تل چه ئې همدا کار کړی دی او هم ئې کوی» مګر له ښه مرغه دا پلاپښتانه و نه غولېدل او ددوی بومشران چه دابدالیانو له خوا سلطان خود کی او دغلځیانو له خوا سلطان ملخي توخی و، ددې نفاق اندازی د دفع د پاره ئې ددې دوو ټبرو په منځ کښې «لکه سلطان محمد چه صریحا «لیکی» یو موقتي حدوټاکه، یعنی ددوی دټاټو بواوداوسېدلو دمځکو ترمنځ ئې یو وېش تعیین کړ اودائې سره وویل چه د کلات دجلدك «ګرماو» دی ددې دوو ټبرو ترمنځ حداو وېش وی (٥ یعنی دهغه لمرختیزه خوادی دغلځیانو په ټبر اړه ولری او لمر لوېدیزه خوادی دابدالیانو دټبروی. اودا وېش تردې نژدو کلو پوري مراعات کېده، حتی اوس هم پاته دی.

ددې وېش ترتثبیت وروسته سلطان ملخي چه د توخو او هوتکو مشرو، داورنګ زیب

---

(١) دسیوری علاقه د کلات جنوبي خواته پرته ده - پټه خزانه ٧ مخ

(٢) اولان - د شاهجوی شمالي خواته یو ځای دی چه د زړو ودانیو آثار هلته شته

(٣) سورغر، هغه غر دی چه داو لان او شاهجوی شمالي پلو ته نژدې پروت دی
پټه خزانه ٨ مخ (٤) پټه خزانه ٧ مخ.

(٤) تاریخ سلطاني ٦٠ مخ

له خوا هم په رسمیت و پېژندل شو، او دده پنامه فرمان صادر کړ (۱) چه سلطان محمد د تاریخ سلطانی مؤلف چه څه وخت په کلات کښې حاکم و، دا فرمان بخپلو سترګو داورنګزیب په لاس لیك دسلطان ملخی داو لادې څخه لیدلی دی (۲) او هم لیکی چه په هغه وخت کی دغلجیانو دټبر مشرتوب اوسرداری په ده اړه درلوده (۳)

څرګه نوتر پورتنی ویش او تقسیم وروسته دهوتکو او توخو دټاټوبی لمن دجلدك د«ګرماو» څخه ترغزنی پوری اوزده شوه، او څنګه چه دپټی خزانې مؤلف لیکی په همدی حدودو کښې ئې مستقل حکومت درلرد . (٤)

دهوتکو ښاغلی ترمیرویس دمخه زموږ ترملی قائد میرو یس دمخه

هم دهوتکو په ټبر کښی او ښاغلی او پیاوړی پښتانه وه، چه دقوم او اولس مشرتوب ئې کاوه او خپل دپښتانه اولس ئې پر سمه لاره بیوه ـ او دخپلی خاوری دودانې دپاره ئې ډیر زحمتونه کښل؛ دپردیو له هجوم څخه ئې خپل هواد او وطن ساته او د وطن دساتلو دپاره ئې دخپلو ښوزلمیانو وینی تویولې ـ .. دوی هر یوه دلارښوونکی او رهنما او پیشوا حیثیت لاره، دخپل او لس په درد اوخوږو خبروه، په غم او ښادی کی ورسره شریك وه، دوی ځانو نه له ملته جلا نه بلل او نه ئې ترې کړ که کو له اونه ئې دخپلو شخصی اغراضو اومقاصدو دپاره استعما لول دوی پښتانه مشران وه، او پښتنو هم دوی ته داحترام سرټیټ کړی و، هرڅه چه به دوی ویل پښتنو کول، حتی روحی عقیده ئې ورته درلوده اوخپل هر مشرئې پورو حانی مشرهم ګڼانه، څرګه

---

۱ـ حیات افغانی ۲٦۱ مخ

۲ ـ تاریخ سلطانی ٦۰ مخ (۳) تاریخ سلطانی ٦۰ مخ

٤ ـ پټه خزانه ۱۷۵ مخ

اوس لاهم نوم سره «نیکه» یاده‌وی، دا په‌زورچا دوی ته تلقین نه‌و کړی او نه‌دا خبره په‌زور په یوه‌ملت منله کېږی، فقط دوی خپل ځان همداشان ملت ته معرفی کړی‌و اوخپل اعمال ئی هم ښنګه چه‌دیوه صحیح مقتداسره ورږدی هغسی ګرزولی وه‌او نه ئې داخیال‌و، چه‌دمهذبو اومتدین نماوغلو په شان دپسو په‌پړ ستوکی دلیو یانو کاروته وکړی او ددوی دسمون په پلمه ددوی غوښی وشکوی او بخپله ئې وخوری ...

که‌څه هم تر میرویس دمخه دهوتکو په‌دوره کی به داډول اشخاص ډېر نه‌وی خو بیاهم څه‌چه‌شته په هغو کښې مشهوراو معروف اشخاص دادرې تنه‌دی : – باباهوتك – ملکیار – شالم خان

۱ : باباهوتك : باباهو تك ( چه‌نوم ئې دمخه ذکر شو) دبعضو مؤر خینو په عقیده بلکه دټولو پښتنو ارباب انسابو په‌نظریه داسړی دهوتك دټبر لوی نیکه‌دی ځکه‌چه‌دوی «غلځی بابا» ته‌درې زامن قائلېږی : توران یاتولر – ابراهیم – بولر اوتوران ته‌دوه‌زامن ټاکی یو «بارو» بل «باهو» چه‌د بارو بیا دوه زامن زیږی دیوه‌نوم ئې «هوتك» اودبل ئې «توخی» کښېښود ۱) داهوتك نودهو تکیانو لمړی پلاربلل‌شوی دی، مګر آیا داچه دا «باباهوتك» چه‌موږ ئې لاندی حالات لیکو هغه لمړی باباهوتك دی که نه؟ اویائې دژوند پتاریخ کښې تغیر راغلی دی که یه؟ دا خبری دمخه‌څېړلی شوی‌دی دنوری څېړنی حاجت‌نلری – احتمال لری چه دابه‌دوهم هوتك نامی وی‌چه دلوی نیکه پنامه یادشوی وی او بابه ددوی دوارو به نومونو کښې کمه‌اشتباه پېښه‌شوې‌وی‌اویا به‌داهغه لمړی باباهوتك وی، مګردژوند تاریخ به‌ئې نژدې ټاکلی شوی‌وی یانور څه ... خو په‌هر صورت ځکه چه په‌دې نامه ترمیر ویس نیکه دمخه دهوتکو یومشهور نیکه تیر شوی دی نو که لمړی

(۱) خورشید جهان ۲۱۰ مخ – تاریخ سلطانی – حیات افغانی – پټه خزانه ۷ مخ

پلاروی کنه، باید دژوند حالات ئې ولیکل شی اوهغه په پټه خزانه داسی راوړی «هوتاك بابا په اتغر کښې زیږېدلی و، په سنه هجری ٦٦١ کښې اوهغه وقت چه لوی سو نوئې کادخدای عبادت او په اتغر اوسوری کښېدقوم سردار اوبادارو.

نقل دی: چه په هغه وخت کښې په هرځل. مغولو دارغنداو پرغاړو لوټ کاوه اواولان او کلات به ئې تالاکول، باباهم تك خپل قوم ونه راټول کړل، او دسره غره سردئې پر مغلو شخړه بوتله، په دې جګړه کښې مغول تالاسول، او دپښتنو ګړندیو ډېر ووژل، ماته خپل پلار داود خان داسی نقل وکا، چه سورغر دمغلو په وینو داسی لجند سوچه پلوشو دلمر به بر پښناندهکا، په دې شخړه کښې چه پښتنا نه لېز اوبې ځواکه وو، چه دسرو مغلو پښه راغله، اواخیستهئې وکا، یوشو غښتلی دبابا هوتك خپلوان ومړل، بابا هوتك په لوړ زغ دا سندره لوله، اوپه غشیو ئې دمغولو تېرونه خیرل (۱)

دباباهوتك ترانه:

پر سور غر بل را ته نن اور دی
وګړ یه جوړ را ته پېغور دی

پر کلی کور باندی مغول راغیء
هم په غزنی هم په کابل راغیء

* * *

غښتلیو ننګ کړیء دامو واردی
مغول را غلی په تلوا ردی

په پښتو نخوا کښې ئې تاتار دی
بر کلی کور باندی مغول راغیء

* * *

آ، د مر غی غښتلیو را سیء
بر ننګ ولاړ دپښتو نخواسیء

تو ری تېرې ی، غشی تر ملا سیء
بر کلی کور باندی مغول راغیء

---

۱ پټه خزانه ۷ مخ

زلمو په غشیو کړیء وارونه — د ټیرو تورو گذارونه
وروړاندي کړیء خپل ټټرونه — پر کلي کور باندي مغول راغیء

* * *

زما د زلمو وینې بهیږي — مځکه او غرونه په سره کیږي
میړ څي زغلي او ترهیږي — پر کلي کور باندي مغول راغیء

* * *

پښتنو هلیء بر غره جنګ دي — سورغر به وینو ددوی رنګ دي
مهال د توري دي د ننګ دي — پر کلي کور باندي مغول راغیء

* * *

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړیء — دښمن په غشیو مو بیپه کړیء
د پښتو نخوا مځکي ساته کړي — پر کلي کور باندي مغل وراغیء

غښتلو میړو چه داسندره اوریدله، په جګړه تود یدل، ترڅو چه سور غرئې د مغولو په وینو ولاړه او ټول ئې پیښا کړل (۱). او سو به ئې په برخه شوه .

وایی چه بابا هوتك د مغولو سره ډیر جنګونه وکړل، او دار غنداو پوري خواته ئې وشړل، او هر کله به دا تغر او مرغې غښتلیو پر دوی یرغلونه کړل او په غرونو به مغول ننوتل، بابا هوتك چه سپین زیری شو، عمر ئې نه او یا کالو ته ورسید، نو په سنه ۷٤۰ه وفات سو (۲)

---

(۱) (۲) پټه خزانه ۱۳، ۱۱۷ مخونه

۲ : ملکیار : په هوتکو کښې چه تر میرویس نیکه دمخه بل سړی مشهور دی او د اولس مشر توب ئې کړی دی ملکیار نومېږي ـ دا ملکیار دهوتك بابا زوی دی ، چه تر پلار وروسته ئې په پنځو پشت کښې د اولس دمشر توب بـګړی په سر کړله . چه په دي حساب نو ده د ز یږ ید و کـال ۷۱۵ هـ کېږی . پټه خزانه لیکي چه « ملکیار ډېر غښتلی او قوتمند سړی و ، په جنګوکی به له لسو تنو سره بهو » (۱) کوم وخت چه ملکیار مشر شو نو تر هرڅه دمخه ئې زراعت او کرنی ته توجه وکړه ، شاړی او ورانی مځکی به ئې ودانولې . دسیوری په لتو کښې ئې ډېر خپلوان راټول کړل ، او هلته ئې کـاریزونه و کښل او خپل زلمی ئې په کښت او کرنه وګمارل ، په دي وخت کښې مغول له دي ودانیو څخه غوزن شول او څنګه چه ئې دپښتنو دملك ودانېدل پرخوانه هوار بدل نو ئې پر سیوری یرغل وکړ او ملکیار ډېر سخت جنګونه ور سره وکړه ، په دغو جنګو کښې لمړی وار دپښتنو مېنې ورانی شوې ، او ځینی لازوب او مرغې ته ولاړل او ځینی هم وازی خواته ، خو دوهم وار بیا ملکیار پښتانه زلمیان سره راغونډ کړل او پر مغولو ئې سخت یرغل یووړ ، مغول ئې وشړل او سیوری ئې بیاودان کړ ( ۲ ) .

ملکیار دمشر توب سره رو حانی جنبه هم در لوده او ښه متدین او خدای غوښتونـکی سړی و ، دپښتنو اولس پرده باندی عقیده درلودله او دده وینائې خیر محض بلله ، لکه چه وایي : یوه ورځ دخپل اکـا « توخي » کورته ورغیء ، دخپل اکـازوی « نوربابا » ئې ولید چه غشی تېره کوی ، پوښتنه ئې ځینی وکړه : « څه کوې ؟ » هغه وویل : « دمغولو په جـګړو کښې ستاملا تړیم ! » ملکیار بابادعاو کړه چه : « تر بوره ! تل سوبمن اوسې ! » او وایی چه دهمدي دعا بر کت و ، چه نور بابا په هر میدان کښې بریالی او فاتح و ، او دده ماته دهیچا یاده نده .

---

(۱) (۲) پـټه خزانه ۷ ، ۱۱ ، ۱۳ مخونه .

PROPERTY ACKU 5661

وایی چه یوه ورځ د مغولو تاړاك پر سیوری راغیء او هغه وخت دملـکیار بابا په کلا کښې پرته لهښځمنو بل څوك نه و ، نو ربابا په خبر سو ، ژرئې ځان هغه کوټ ته ورساوه او په یوه تن ئې مغول و شړل او ډېرئې مړه کړل ، داټول دملکیار بابا ددعا برکت و (١) .

علاوه بردې ملـکیار یوملی شاعر هم و او په پښتو کښې ښه سوځو نـکی او له تأثیره ډك اشعار لری ، دده اشعار پرملی وزن او ملی روح دی ، چه دلته بهئې دنمونې په توگـه یوه سندره راوړو :

وایی چه په ٧٤٩ هجری کښې دپسرلی په موسوم دترنك رود ډېر ډك راغیء ، او سخت نیزونه پکښې راتوی شول ، یوه میاشت ئې چړاوگودرونه موند او غاړی غاړیء بهېدی ، ملـکیار بابا چه دترنـك خښوته راغیء دا سندره ئې وبو لله :

دملـکیار سندره :

ترنـك بهېږی ترنـك بهېږی غاړی ی تر غاړ ی
زما زړگی خو خپل لالی غوا ړی

* * * * *

که روده رو ده ! دترنـك روده ! خا وندیوچ کـا
چه زړگی مومی زما ، خپله سودَه

* * * * *

کهنیز دی نیزدی نیز دبېلتون دی زړه نیزه و ړ ی
په ویر ژړلی پهغم زبون دی

* * * * *

که اوردی اوردی پهزړه‌می اوردی دا اور به رچ کا :
دویر نیزونه بل ډېر پهزور دی

(١) پټه خزانه ١٥ مخ

نمنځـنه يو سه سپينې سپوږمۍ ورته ووايه
چه تر نـك تال كړم ستاله خو لـګيه

* * * * *

كه‌خړو خړو ! اوبوسوان كړىء بيل « ملګيار » دى
ياته له يار دى سوبـئي جانان كړىء

۳ : ښالم خان : دريم سړى چه تر ميرويس دمخه دټبر او اولس دمشر او خان په‌حيث پيژندل شوى ښالم خان دميرويس نيـكه پلاردى چه‌دخپل زوى ترقيادت دمخه دهوتـكو له نوميياليو مشرانو څخه‌و ، حتى دهوتـكو يوه پښه دده پنامه « ښالم خيل » يادېږي ، پښتانه دهرتـكو دي پښې ته په‌درنه سترګـه ګورى ، تر داسې حده پورى چه كه كوم پښتون وغواړى ځانته امتياز وتاكي په ځواب كښې ورته ويل كيږي :

« ته‌نو كم ښالم خيل‌يې ! » يعنى كه ښالم خيل واى نودامتياز حق‌دى درلود . هغه وخت چه ښالم خان دسلطان ملخي دلور ميرمن « نازو » سره از دواج و كړ نودهوتكو او توخو خپلوى تر پخوا ټينګه اومحكمه شوه .

ښالم خان ته دميرمن نازوله‌نسه (چه‌دقندهار يوه پوه او خورا زبردسته شاعره اوعالمه ښځه‌وه چه وروسته به‌ئي مفصل‌شرح حال‌راوړه شي) څلور زامن خداى وركړه چه ترټولو مشر زموږ ملي زعيم ميرويس خان (مشهور په ميرخان )او اودري نورزامن ئي داوه (۱) : عبدالعزيز خان ــ يحيى خان ـ عبدا لقادر خان ـ ددي درو له منځه عبدالعزيز خان دمير ويس تر مرګ وروسته پرتخت هم كښېنا ستلى دى .

---

(۱) پټـه خزانه ۱۷۷ مـخ حيات افغان ۲۵۷ مـخ خورشيد جهان ۲۱۰ مـخ

داو د هوتکو حال تر میرویس دمخه . ددوی حال چه و لیکل شو نو ترملي نهضت د مخه څه نه څه دقندهار وضعیت هم څیني څرګند شو ، یعني دا څیني ښکاره شوه چه قندهار کښه هم ددوو طماعو ګاونډیو ترمنځ واقع و ، خو بیائې هم نسبتاً استقلال او خپلواکي وه ، بلکه پخپل منځ کي ئې مستقل او ځانته حکومت درلود ، چه دهیچا تر اثر لاندې نه و ، داتر هغه وخته چه داصفهان ددربار څخه «ګرګین خان» دپښتنو دپایمالولو دپاره ټاکل کېږه او دیوه خورالوی او مسلح لښکر سره دقندهار دحاکم او بیګلر په نامه قندهار ته راتیء . د ده د راتګ سره د پښتنو دېرې مهمې ورانۍ شولې او دېر ښاغلي پښتانه ئې ترخپلو شخصي اغراضو قربان کړه چه وروسته به مفصل راشي ؛ مګر دګرګین دا ګرګوالی دېر پېانه نشو او نه پښتنو دده ظلمونه و زغملای شوه ، ټول پښتانه دخپل وخت ملي مشر میرویس نیکه ته را غله او میرویس نیکه هم دملي ننګ بر ځای کو لو دپاره ولاړ شو ملائې و تړله ، وخوځېد ، او ده له خوځېدو سره داصفهان تخت په خوځېدو راغیء ، ګرګین ئې له مینځه و یوست ، او بیائې د پښتنو ملي حکومت په افغانستان کي تأسیس کړ ، چه وروسته به مفصل راشي . اوس چه تر میرویس دمخه د پارس ، هند او قندهار وضعیت څرګند کړ شو ، نو به دملي زعیم میرویس نیکه په پېژند ګلوي ګوتې پورې کړو او دده هغه لوړ او قیمتدار خدمتونه چه هیڅکله به ئې د پښتون ملت هېر نکړي تر کومه ځایه چه مأخذ و نه بلاس را غلي و لیکو که خدای کول .

# میرویس څوک و؟ او څه ئې وکړه؟

## ددهٔ دنسب سلسله :

دمیرویس نیکه دنسب په سلسله کې او داچه دی په څووا سطو بابا هوتك او بابا غلځي ته رسیږي دمؤرخینو اختلاف دی نتیجه‌ئې بیرته هغه دپښتو جمله ده چه باید وویل شي : داسلسله «نه پر څه ده نه بې څه ده !» مثلاً حیات خان او شیر محمد دده سلسله داسې را نقلوي : « حاجی میرخان ولد سالمخان ولد کرم ولدمندو ولد عمر ولدجلال الدین ولد قطب ولد اسحق ولد حسین و لد ملکیار ولد هوتك بن بارو بن توران بن غلځی (۱) » مګر سلطان محمد قندهاری بیاد اسلسله ډیره لنډه ضبطوي او پورتنی حسین نامی دمیر ویس خان پلار ګڼي (۲) چه له او ونو څخه سترګې پټوی او صرف نظر کوی ، نو پهمدې دلیل لمړی سلسله هم کاملاً داعتبار او ویسا وړ نه ده خو څنګه چه لږ ډیر دملي عنعنو او روایاتو سره سرخوری نو تر له سرتر پایه غلطه هم نشو بللای .

په هر صورت موږ صرف نظر له دې څخه چه دی په څو سلسله بابا هوتك ته رسیږي ، میرویس دیوه پښتانه مشر او ملي قائد او مفکر زعیم په حیث او بیا دیو غښتلی عسکر پنامه پیژنو ، نو څه دی که ئې د تولو نیکونو ، نو مونه تر بابا هوتك پورې یاد نکړو ؛ ځکه چه ده دخپلې سلسلې په اعتبار هغومره کار نه دی کړی لکه چه دخپل مستقل شخصیت څخه ئې کار اخیستی دی ، میرویس بالذات لوی شخصیت ، فکور دماغ او حساس ماغزه در لوده چه بیائې دپښتنو دملیت زغ دوطن په غرور غوکښې بوږ ته کړ ، او خپل قوم ئې دپردیو له حکمه خلاص کړ او په افغانستان کې ئې دملی حکومت اساس کښېښود .

---

(۱) حیات افغانی ۲۵۰ ـ ۲۵۷ مخونه ـ خورشید جهان ۲۱۰ مخ

(۲) تاریخ سلطانی ۷۱ مخ دبمبئی طبع

دمیرویس مور : تقریباً دری سوه کاله پخوا د کلات او قندهار په منځ کی یوه جگه او باشکوهه کلا لیدل کېده له چه د تازی (۱) د رباط جنوب ته د سلطان ملخی توخی له خواچه د پښتنو ملی مشرو ، جوړه شوې وه ـ او ددې کلا ښتن ته دغزنی څخه تر جلدکه پوری ټولو قومونو دا طاعت سرتیټ کړی و ، او ده مستقله حکمرانی درلوده .

په ۱۰۶۱ هجری کال پهمدې کلا کی یوه ښکلې نجلۍ دنیاته راغله چه ددې مشر دکورنۍ مسرت او خوښۍ یو په دوه کړه ، څوک څه پوهېده چه دا پښتنه نجلۍ به دخپل قوم په سرنوشت کی څه رول ولوبوی ؟ پردې نجلۍ ئی «نازو» نوم کښېښود ، څو چه دوړ کتوب څخه نجلیتوب ته او له نجلیتوب څخه ، پېغلتوب ته ورسېدله .

پلارئې دخپلې لور په علمی روزنه کی ډېره توجه درلوده ، له فاضلو مېرمنو او سپین ږیرو علماؤ څخه ئې لیکل او لوستل زده کړل ، دازده کړه تر هغه وخته جاری وه چه د دې پلار «سلطان ملخی» سره غره ته نژدې په یوه جنگ کی و فات شو ، هغه وخت نو د کورنۍ چارو اداره او داولس مشرتوب د دې پرغاړه ولوېدم ، خصوصاً له هغه وخته څخه چه «حاجی عادل» دنازو ورور هم له دې جلاشو او دخپل پلار دانتقام اخیستلو په نیت جنگ ته ولاړ ، د کلی او کورساتنه هم نازو ته پاته شوه او دې هم دیوه پښتانه زلمی په څېر توره تر ملا کړه او د څو ننگیالیو تر بروسره ئې خپل ټاټوبی د پردیو له هجومه وساته (۲)

میرمن نازو هم د نورو پښتنو مېرمنو په شان مېلمه پالونکې او مېلمه ساتونکې وه ، دمېلمنو په ډوډۍ ورکولو او دمسافرانو په ساتلو ډېره مشهوره وه ، تل به

---

(۱) د کلات دشمال شرق خواته دوهم رباط دی چه د کابل پرلار واقع دی .

(۲) پټه خزانه ۱۷۵ مخ

د ژمي به موسم دلې دلې مسافران راتله او د ېرې دېر د ېسانو قافلې به د میرمن نا زو د کلامخ ته پنډې وې ـ په سووتنو پردېسانو ته به ئې ډوډۍ او کالي ورکول، خوچه ددې میرمنې دسخانوم له خیبره تر کوسانه خپور شو (۱) په دې وخت کې نود «سبالمخان» هوتك په نکاح شوه ، او لوی خدای څلور زامن ورکړه چه نومونه ئې دمخه ذکر شول او تر ټولو مشر نومیالی پښتون میرویس و ، چه ددې زمرۍ پښتنې په غېبز کې وپالل شو او یو زمری پښتون ئې پښتانه ملت ته وړاندې کړ.

علاوه پردې ټولو میرمن نازو یاد میرویس نیکه مور یوه عابده ، صالحه او نیك عمله ښځه وه ؛ ترداسی حده چه د پټې خزانې مؤلف وایی خپل او لاد ته ئې هیڅ وخت بې اوداسه او بې طهار ته شیدې نه دی ور کړی . کم وخت چه ئې سن پوخوالی ته ورسېد او پخه ښځه شوه ، نوبرخېره پر پورتنیو ښېګڼو دا دب او علم سره ئې ټینګه علاقه وموندله او په لېزهمده کښې نوموړې شاعره شوه ، دا یوه رباعی ئې ترموزه پوری را رسیدلې ده چه وایی :

سحر ګه وه د نرګس لېمه لانده خاخکی خاخکی ئې له ستر ګو څڅېده
ماوېل : څه دی، کښلې ګله ولې ژاړې ؟ ده وېل : ژوندمې دی یوه خوله خندېده

همدا پورتنی فکر دی چه داو سنی عصر مشهور فیلسوف او شاعر « اقبال » په خوږو الفاظو کښې ادا کړی دی او وایی :

شبی زار نالید ابر بهار که این زندګی ګریهٔ پیهم است
درخشید وبرق سبك سیر ګفت خطا کردهٔ خندهٔ یك دم است
ندانم بګلشن کی برد این خبر سخنها میان ګل وشبنم است

---

دمیرمن نازو خوب لیدل : چه میرویس نیکه وزېږېده مورئې پهم هغه لمړۍ شپه خوب ولید چه حضرت بیټ نیکه دې ته وایی : « زما لورې ! دا زوی ښه

---

(۱) پټه خزانه ۱۷۷ مـخ

تربیه کړه ؛ کم وخت چه ستا دازوی لوی شی لوی کارونه به انجام کړی - حج ته به ولاړشی . . .

زما لوری ! دده په روزنه اوتربیت کښي غفلت ونکړي ؛ دده له نسله به نیک شاهان پیدا شی - چه دین ته به رڼا ئي ور کړی - دده په تربیه کښي ښه زیار باسه اودقت کوه ، دده پراوزه دلویولویو کارو انجام پروت دی» (۱)

میرمن نازو ددي خوب په اثر برخپره پر مورنی عطوفت یوه بله مخصوصه علاقه هم له خپل دي زویه سره پخپل ځان کښي حس کوله - دمیر ویس په روزنه کښي بهئي ډیر دقت کاوه ، څوچه میرویس ددي له زمری روزنکی څخه پاڅېد ، زلمیتوب ته ورسېد . څنګه چه ئي مور پخپله عالمه او پوه میرمن وه ، دزوی دشپېږ کلنۍ څخه ئي دده په تعلیم شروع وکړه اوپه یوه کال کښي ئي د دین ټول فرائض بهزده کړه اوتل به ئي ورته ویل : « زویه ! دبیت نیکه لهخولي ، تاته ډیر لوی لوی کارونه ګوری چه باید انجام ئي کړي - چه لوی شي دلوی خدای عبادت او دخدای دخلکو خدمت کوه - . . .

زویکه ! ته خدای ددي دپاره پیدا کړي چه لوی لوی کارونه سرته ورسوي؛ اوستا خپل قوم اواولس ستاترسیوری لاندی ستا دخدمت او زحمت په اثر آرام واوسی ! »

چه میرویس زلمی شوتل به ئي په هر مجلس کی دخپلی مور پورتنۍ وصیت یادا وه اوویل بهئي : « زمامور ماته دلویو کارو دانجا مولو وصیت کړی دی ، زه باید زیارو باسم چه دمور وصیت پرځای کړم او له خدایه توفیق غواړم ! »

---

دمیرویس دزیږیدو نېټه : پهیقیني اوقطعی تو ګه څرګنده نه ده چه میرویس نیکه په کوم تاریخ اونېټه زیږیدلی دی ، مګر که دده د مور اودده د لمړی زوی

---

(۱) پټه خزانه ۱۷۷ مخ

دزېږېدو دتاریخ له رویه تخمیني تاریخ وټاکو نو دده دزېږېدو کال ۱۰۸٤ ه تاکلای شو اویقین ته نژدې دی .

ځکه چه دده مور میرمن نازو په ۱۰٦۱ ه کال زېږېدلې ده ، او څنګه چه په پښتنو کی معمول ده دمشرانو اوخانانو لونی ډېر وړ کوری ډېری کښېني ، دشل او پنځه وېشتو کـلو په عمر کی ئې مړوته ور کوی نو ځکه به دمیرمن نازو مړوښی چه دښالم خان پنکـاح شوه په ۲۲ کلنی توب وبولو اویو کال وروسته به هم دمیرویس زېږېده فرض کړو چه پوره په ٤ ۱۰ ه کـال واقع کـېږی ، او داتخمین دمؤرخینو لهدې قول سره چه وایی شاه محمود د میرویس لمړی زوی دمیرویس دوفات په کـال اتلس کلن و ( ۱ ) ، هم تناقض نلری . ځکـه چه دمیرویس وفات په ۱۱۲۷ ه کـالو ، نود شاه محمود زېږېده په ۱۱۱۰ ه کـال یعنی یو کـال تروادہ وروسته طبیعی دی .

دمیرویس ازدواج: دمخه موږوویل چه سلطـان ملخی توخی دغلځیانو دټبر مشراو سلطـانخداداد (مشهور په سلطـان خود کی سره ) دابدالیو مشر دنفاق اونزاع ددفع اوجلوګیری دپاره دابدالیو اوغلجیو دمځکو ترمنځ ئې حدوټاکه . دي دحدټاکـلو کڅه هم په ظاهره ددوی په منځ کی بېلتون اچاوه مګر معناً ډېر ګټو را ومفید ثابت شو ، ځکه چه له یوې خوا ئې ډېر دیو کړ غېړن اوله فساده ډك لاسونه پرې نه ښود ل چه دوی پخپل منځ کی سره واچوی اوله بلی خواهری قبیلې په ډېر جدیت سره دخپلی برخی په ودانولولاس پوری کړاوډېر زیارئې یوست ، دا رویه دسلطان ملخی ترمر ګ وروسته دده دورور حاجی عادل یا حاجی ابدال له خواهم تعقیب شوه ، خو کم وخت چه دولت خان سدوزی دابدالیانو مشر شو پرغلځیانوئې لښکرو کړ اوهغه ئې ډېرزوبل کړه او دمیرویس

(۱) تاریخ افغانستان دمیلسیون اثردمنشی احمدجان ترجمه ۲۱۷ مخ
ترکستاز'ن هند ٤ ج ۱٤۷ مخ ـ سرجان مالـکم ۱۹۹ مخ

پلارئې ښارصفاته را ووست ، داهغه وخت دی چه میرویس لمړی ځل دزلمیتوب ګلونه بویول اوبو ښکـلی قوی زلمی ځینی جوړ ېزی چه دپښتنو په اصطلاح خور برمینه کېدله . اتفاقاً په همدې ځای کی یوه پېغلهٔنجلۍ وه چه «خانزاده» نومېدله ، دې نجلۍ یوه مور درلوده چه نوم ئې « درخو »وه ، پـلارئې جعفرخان نومېده چه دسدوزو مشهور خان او په سدوزو کی « کامران خیل » و (۱) اوخو مده دمخه وفات شوی و ، بل وارث ئې نه درلود او ډېر جایدادئې هم پاته شوی و ، څوک ئې نه در لوده چه کورنۍ او دبا ندې چاری ئې اداره کړی ؛ ـ هغه و ، چه دنجلۍ مور میرویس خپل زوم والی ته را وباله ، میرویس هم دایوه غیبی فتح او الـهی فیض و ګـانهٔ دانجلۍ ئې په نـکـاح کړه ( ۲ ) کمشی چه دې ازدواج میرویس ته ګټه ورسوله علاوه پردې چه دجعفر خان مشر توب ، خانی او جها ندا ر ی دده لا س ته ورغله دسدوزی ټبر صمیمی خپل اومحرم هم شو ، څوچه ورو ، ورو ددې ازدواج په اثر دسدوزیانو په زړو کی ئې هم دغلځیانو په شان ښه ځای او لوړ مقام ونیو او میرویس ئې په اولسی معاملو کی خپل لوی مشاور و ګـانهٔ .

دمیرویس کسب: دمخه ترهغـه چه آزادۍ غوښتونکی او سیاسی اوقومی لوړ افکـار دمیرویس په کړکره کی ځای ونیسی او یاوروسته ترهغه چه دجعفرخان دولت دمیر ویس پلارنۍ بډائې ډېره کړی میرویس دتاجر په نامـه مشهور او پېژاندل کېده او دلویو لویو کـاروانو په ذریعه به ئې دهند خواته تجارت کاوه (۳)

کڅه هم دده د تجارت څخه بېله د « افغا ن او پـارس جنګ » د کـتـاب له لیکونکی څخه بل مؤرخ څه نه لیکی یوازی میلسیون لیکی چه میرویس ډېر هوښیار ، پوه او ډېر دولتمن سړی و (٤)

(۱) کامران خان داعلیحضرت احمدشاه بابا له نیکه ګانو څخه و .(۲) تاریخ سلطانی ۷۰ـ۷۱ مـخ
(۳) دافغان اوفارس جنګ ـ دجارج نیون هام فورد اسحاق ترجمه له لاتینی څخه په انګـلیسی
(٤) تاریـخ افغانستان ـ اثرمیلسیون ۱۹۷ مـخ

مگرد وروستنیو واقعاتو څخه چه دا صفهان د دربار یانو خولي دهندي قیمت بهاو تحفو اوسوغاتو په زور گنډی او یاد حجاز علمأ او ملایان دځان کوی دده بډائی او ثروت ښه تأثیر ښندی او معلومیږی چه حقیقتا هم دی بډای ثروت مند سړی و، او هم ئې تجارت کاوه، او تر هغه وخته د تاجر په نامه یاد یده څوچه د پښتنی مشرانو به ټولی کې ئې ځای نیوه، اودوی ښاغلی مشرتا کل کیده.

**دمیرویس شخصی صفتونه:** میرویس د نرمی او ملائمی طبع خاوند و، دده متین فکر، زړینه رایه، رسا ذهن، لوړ اخلاق او دده د سخاوت شهرت مؤرخین ډیر ستایی (۱) مگر سربیره پر دې ټولو مهم او بهتر صفت چه د میرویس سره ئې په مشرتوب او ملی مقاصدو او سیاسی میدانو کی ښه مرسته کوله دده فصیحه ژبه خوږه وینا، جذاب نطق و، ځکه چه داصفهان د دربار قانع کول او دگرگین برخلاف دهغو رایه گرځول او یا دحجاز علمأ خپلول او دهغو څخه دخپل مرام سره سمه فتوی اخیستل څه داسی آسانه کار هم نه و، چه یوازی په سوغاتو او تحفو سرته رسیدلی وای، بالاخر دپښتنانه یو ملت ترلویه او کوچنیه فداکاری او ځان نثاری ته حاضرول څومره قوت غواړی؟ داټول میرویس دخپلی غوره وینا په زور سرته رسولی دی.

هو، لږ وروسته چه دده خولنډی لنډی وینا وی دواقعاتو پرترخ کی ولولیء هغه وخت به دده دا ښکلی صفت لاښه تاسی ته وځلیږی.

**دمیرویس مقام دپښتنو په نزد:** وروسته تر هغه چه میرویس له سد وزو ښیره خپښی و کړه دده مقام دپښتنو په نزد دوه چنده لوړشو، یوخود غلځیانو مشرتوب د پلار او نیکه څخه په میراث ور پاته شوی و، او میرویس دلوی کالخوا یه مشرحیثیت دغلځو په نزد درلود او له بلې خوا دقندهار ابدالیو اوسدو زو دهغې

(۱) تتمة البیان ۷۰ مخ - سرجان مالکم ۱۹۷ تاریخ سلطانی ۷۱ مخ

خپلوی اوبیا دده دشخصیت په لحاظ دده دېر احترام کاوه ، څو په آخر کي خود پخود دابدالیو مشرتوب او ریاست هم‌ده ته‌ورسېد ، خصوصاً له‌هغه وخته څخه چه ابدالی دولت خان دخپل زوی نظرمحمد خان اود فقیر نا می مېړ یی سر ه دګرګین پلاس پشهادت ورسېدل (۱) دپښتنو ملت دامید ستر ګی دمیرویس خان خواته کېږي شو لي ؛ کڅه هم دولت خان دوه نور زا من هم د ر لودل چه یورستم خان اوبل زمانخان ( داعلیحضرت احمدشاه بابا پـلار ) و، او رستم‌خان وروسته ترهغه چه ګر ګین محمد زمانخان بندی کرمان ته واستاوه دابدالیو مشرتوب په‌غاړه واخیست مګر سره‌له‌دي هم‌دمیرویس نفوذ ورځ په‌ورځ‌ډېر یده او ورو ورو اولس ډېر ده را غونډ یده ، اوبنائی چه ددي نفوذ یو مهم علت او سبب داهم و، چه میرویس دخپل‌عقل اوذکا په‌زور دهغه‌وخت په‌تقاضا ګرګین ځانته جلب کړی اوله‌خپله ځانه‌ئې راضی کړی‌و ، حتی ترلیږي مدي وروسته ګر ګین دی په‌تولو مسائلو کی دځان مشاور ګڼه ، په تېره بیاهغه‌وخت چه ددولت‌خان زوی رستم‌خان هم د ګرګین له‌لاسه په‌شهادت ورسید په پښتنو کی بې له میرویسه بل هیڅ یو مشراوخان چه دپښتنو ستر ګی ورو اوډی پاته نشو او دابدالیو او غلځیومشرتوب میرویس ته‌وسپارل شو، لـه‌همدي وخته‌څخه دمیرویس فوق‌العاده اهمیت اوامتیاز په پښتنو کی شروع کېږي ، څو چه تر آزادی کټلو وروسته پښتنو ده ته د « نیکه » لقب ورکړاوتر ا وسه‌ئې هم‌حاجی میرخان «نیکه» بولی اودده مزارته دپښتنو ترا‌وښځی دحاجت غو ښتلودپاره ورځی‌اوتر هر څه‌دمخه‌ئې دده د کتیبې دالندې ستر ګو ته درېږی :

د ننـګ تـو تـه بـه مې هر هله وی
که پس له‌مر ګه‌ډېر مزارراشي مینه !

---

(۱) تـاریخ سلطانی ٦٧ مخ

گرگین څوك و ؟ او ولي قندهار ته راغی؛ ددې سړي نوم چه څو لیکي دمخه تېر شو اصلاً «وختنك» و، پخته گرجی او د گرجستان و، چه سلطانحسین دفارس پاچا دی دقندهار په حکمراني وټاکه . مگر دمخه ترهغه چه قندهار ته راسي په گرجستان کي دپارس له پاچا څخه یاغي شوی و، څو په پای کي ونیول شو او ځکه چه داسلام دین ئې ومانه سلطانحسین ئې تر گناه ورتېر شو، وئې با خښه او د «شهنواز خان» لقب ئې ورکړ (۱)

گرگین یو ډېر عصبی المزاجه او ظالم او تند سړی و، چه دپارس دملیت سره ئې څه علاقه نه درلوده او خورا خونخوار و، چه دهمدې خونخوارۍ په اثر داصفهان دربار دېښتنو داپلولو دپاره چه نه ئې غوښتل دپل تراسارت لاندی وی مقرر کړ، او د شلو زرو تنو لښکر سره ئې چه نور ډېر گرجستاني جگړن هم ورسره وه دقندهار دبېگلر گي پنامه قندهار ته را واستاوه، او هم پل غرض چه دپارس حکومت دده پهرا استولو کي درلوده او : چه دهند د حکومت په مقابل کي یو ټېنگ سد ولري مگر گرگین یوازی دقندهار په ښار او حکمرانۍ سکته ونکړه بلکه دسرجان مالکم په اصطلاح چه وایی : « کمینه کشی پیش نهاد خود ساخته قوام ریاست را در دوام سیاست شناخت » خپلو لښکرو ته ئې امر ورکړ چه دخدای دمخلوق مالونه چور کړی، وینې وبهوی او ناموسونه ئې بې پردې کړی، نو هغه و، چه سرجان مالکم وایی : « . . . ومصداق ان الملوك اذادخلو قریة بظهور پیوست (۲) » او گرگین په دې گمان چه په داسې شدت او سرزنش به پښتانه خوار او محکوم کړی دخورا سختۍ څخه ئې کار اخیست . نو له همدې

(۱) زندگانی نادرشاه پسر شمشیر ـ دنورالله لارودی اثر ۹ مخ
(۲) تاریخ ایران سرجان مالکم ۱۹۰۶ مخ

ځایـه څخه پښتانه دګرګین له ظلمونو او ستمونو په تنګ شول خپل ملي مشر میرویس ته ئې استغاثه وکړه . ځکه چه دمخه مووویل چه داوخت په پښتنو کي بې لهمیرویسه بل څوك نهو ، چه پښتانه ئې دظلم لهاوره ژغورلی وای ، میرویس هم ددوی پهداد ورسید اودقوم آزادولو اوملي خدمت تهئې پرخپل تجارتي کسب چهپهاختهو، ترجیح ورکړه ـ نوداولس دآزادۍ پهفکر مشغول شو ـ اودګرګین سره ئې رابطه پیدا کړه ، چه لاندې بهئې ولیکو :

**میرویس اوګرګین :** میرویس وار دواره ګرګین ته دخپلوۍ او دوستۍ دلاري راغی، اوپخپله ذکا او کامل تدبیر ئې هغه ځانته جلب کړ ، او ګرګین داسې وګڼله چه میرویس دده له صمیمي همکارانو څخه دئ ، څوچه لږ وروسته دګرګین پهمشوره میرویس اصفهان ته ولاړ اولههغه ځایهئې د پښتنو دمشروب خط راووړ (۱) چهګویا د ګرګین په مصلحت دفارس دحکومت لهخوا دپښتنو مشر مقرر شو .

چه قندهارته راوګرزید دلتهئې لهیوې خواملي اوقومي مشروب دخپل متین فکر او زرینې رایې په زور پداسې ښه توګه اجرا کا وه چه سلطان محمد پهقول « محسود اقران وسر آمدا بنای عصر » شو ، اوله بلې خوا ئې دګرګین سره داسې چلاو کاوه چه ګرګین دی یو درشتینو دولتخوا هانو څخه ګاڼه لکه سلطان‌محمد چه وایـي : « . . . بی مشورهٔ او بکاری نپرداختي وبغیر اجازهٔاش اقدام صلح‌وجنګ نساختي واکثر مالیات دیواني دوردست‌را بموافقت ومرافقت او بدست مي آوردي ولشکر رابسرکردګی میرویس خان باطراف فرستادي ومالیات را حصول نمودي » (۲) برڅېره پردې ئې دښار دکلا نتری منصب چهپه هغهوخت کې ډېرلوی اوجلیل منصب باله کېده همدرلود (۳) چه

(۱) تاریخ سلطاني ـ ۷۱ مخ (۲) تاریخ سلطاني ۷۱ مخ (۳) سرجان مالکم ۱۹۷ مخ

کەئې ددې وخت سره مقایسه کړو ، نوښایی چه « دبلدئې رئیس » بهٔ ې وبو لو.

مگر داټول کارونه تنهااوتنها ددې دپاره وه چه میرویس خان دخپل ملی مقصد اولوړ مرام دحا صلولو دپاره وړ او مناسب فرصت او وخت پلاټه اوده په خپله اصطلاح میرویس غوښته چه فتنه ویده مړه کړی . څنګه چهدگرگین ظلمونه تردد تېرشول میرویس مجبورهشو دملی وکیلانو یوهیئت سره له یوې عریضې چه دگرگین ستمونه اومظالم پکښې لیکلی وه داصفهان دربارته ولېږی چه گوندی دپښتنو پهداد ورسېږی او لمړی سړی چه په هغه عریضه کی ئې امضا کړې وه میرویس و (۱) داهیئت چه اصفهان ته ورسېد هرڅو مره سعیه چه ئې وکړه خپل عرض ئې دپاچا حضورته ونه رسولای شوو ، اوتر ډېری مدې پوری ئې دقابچیانو او در وازه وانانو د ډېرښت له کبله دتشرف موقع ونه موند لــه څو پهپای کی چهتر ډېر کوشش او زیار وروسته دپاچا حضورته ددوی عریضه هم وړاندې شوه چائې پرعرض غوږونه نیو ، دگرگین دوستانو چه دپاچا په حضور کی وه پاچاته وویل چه : « این عریضهٔ باغیانست شا ئستهٔ اعتنا نیست (۲) » او همئې علاوه کړه چه : « این سر کشان می‌خواهند بشکایات ساختگی وبهتان ودروغ ازضبط وربط بیگلرگی برآمده بازعصیان نمایند (۳ » هغهو ، چهدپاچا له حضورهئې سخت څوابونه اوشدیدشدید عتابونه واورېدل ، پهډېری مأیوسی اونا امیدی بیرته را وگرزېدل اوټول حال ئې پښتنوته ووایه او پښتانه ئې داصفهان ددربار پهنفرت او خیالاتو پوه کړل .

گرگین چهله یوې خوا دملت ناراضی ولیدله اوله دې عریضې خبرشو اوله بـلې خوائې هملیده چهدمیرویس نفوذ اوقوت ورځ پهورځ تردولتخان ابدالی هم ډېرېږی نودگرجی مشرانو سرهئې مشوره وکړه اوچارهئې وغوښتله ، هغوی

(۱) تاریخ افغانستان ـ دمیلسیون اثر ـ پښتو ترجمه ۹۷ مخ (۲) سرجان مالکم ۱۹۷ مخ

(۲) دتتمةالبیان ترجمه ۷٤ مخ .

ورته وویل : « که اگر فرقهٔ غلجائی نیز مانند گروه ابدالی قوی گردد حاکم وقت از دست شان بجزبد حالی چیز دگری را نخواهد دید . . » هغه‌و ، چه گرگین او نور قول گرجی مشران دمیرویس دکښېښتلو په فکر کی ولوېدل چه کمه پلمه ورته جوړه کړی اودی له اقتداره واچوی او محکوم ئې کړی .

دهمدي اختلاف په اثرئې څه‌مده وروسته میرویس دپاچا په‌دښمنۍ متهم کړ او دخپلو معتبر وملگرو سره‌ئې تحت الحفظ اصفهان ته ولېږه (۱) مگر « دافغان اوپارس جنگ » دکتاب لیکوونکی لیکی چه گرگین دمیرویس له اهمیت او اقتداره بېرېدی ، په‌ښکاره‌ئې ده‌ته دبندیگرت نوم‌نه‌واخیست او نه‌ئې بندی کړ بلکه دتلبیس له لاری ئې میرویس ځانته وغوښت او په ډېرو نرمو او خوږو الفاظو ئې دده سره مذاکره وکړه او دی‌ئې په‌قسم اولوړه دده دځان دسلامتۍ له‌خوا مطمئن کړ ، بوازی ئې داورته وویل چه‌دی‌ئې داصفهان دربارته غوښتی دی ؛ بیائې نودی اصفهان ته واستاوه ، مگرپټ ئې خپلو سړوته وویل چه په لارکی دده مراقبت وکړی اودده افعال او احوال ترنظر لاندی ونیسی . (۲) په هرحال میرویس پاداسی وخت کی قندهار پرېښوه چه گرگین دده دحبس مکتوب یوځای دده سره پاچاته وا ستاوه ، او په هغه مکتوب کی ئې دده اهمیت او دمقام لوړوالی لیکلی و ، اودائی ذکر کړی وه‌چه : « . . خوب است این مرد در اصفهان باشد ــ آرامی قندهار مربوط بحبس این مرد است ، ورنه باعث اختلال قوم وحکومت شاه در قندهار میگردد ، وباید باو هیچ اجازه عودت بقندهار داده نشود ! »

---

(۱) تاریخ ایران سرجان مالکم ۱۹۷ مخ وتاریخ افغانستان دملیسون اثر ۱۹۷مخ

(۲) دفارس او افغان جگړه ـ مخ

دادی چه دپښتنو ملی قائد میرویس صفوی دربار ته دیوه بندی په حیث ځی وګورو چه داپښتون بندی به دیدی کابینې په مقابل کښې څه وکړی ؟ ددې پوښتنې ځواب به څو مخه وروسته ووایو !

## میرویس د اصفهان په دربار کی : (۱)

مجردی چه میرویس اصفهان ته ورسید ، دی ئې یوه قوی او غښتلی ګارد ته وسپاره چه دی ښه وساتی او څو ورځی ئې په بند کی و ، او له دې پیش آمد څخه لږ په اندېښنه کی و ، په ډېره بیاهغه وخت چه وائې ورپدل د پاچا کابینه ده ته په ښه سترګه نه ګوری ؛ مګر سره له دې هم باید لوستونکی انتظار وباسی چه دیوه پښتون میړه فکر چه هغه هم دیوه سیاسی بندی پنامه یاد شوی وی څنګه دیوې کابینې افکار مغلوبه کوی ؟ له محبس څخه ئې اعتماد الدوله او د کابینې نورو زعماوته پیغام واستاوه او اجازه ئې وغوښتله چه دباندی ورووزی او ددوی سره یوساعت ملاقات وکړی ؛ اجازه ور کړه شوه ، را ووت ، لمړی ئې اعتماد الدوله ولید ، او د هغو څورا قیمتدار وهندی تحفو اوسو غاتو وعده ئې ور سره وکړه چه له ځانه سره ئې راوړی وه . بیائې ددربار نور آراکین ولیدل او هر یوه ته ئې دمنصبو ددرجې په تناسب ښې ښې هدیې او تحفې ورووړاندی کړې : په هغه ورځو کی ئې دیوان بیګ هم ولید او دده سرئې هم په ګرانبها وتحفو خپل ځانته قیمت کړ اوغاړه ئې میرویس ته کښېښوله . ـــ ځکه چه میرویس دشرق و ، او پوهېدی چه دشرق په دربارو کی در شوتو پنامه تحفې څومره مهم مهم رولونه لوبوی ، او همدا ځای دی چه میرویس دقوم د آزادی دپاره دخپلی

---

(۱) کم مأخذ چه داصفهان ددربار وضعیت ښه څرګند وی اوپورته مقاصد له هغه څخه ترجمه شوی دی یو انګلیسی کتاب «دافغان او فارس جنګې» پنامه دی ، چه دلته استفاده ځینې وشوه ..

بهائي او تيمول څخه کېږ راخلی او د اصفهان د دربار دارا کینو زبې را نیسی او دوي دخان پرخوا کوي .

بله ورځ ئې وار وېړله چه د داخلي چارو او قضایا و د حل د پاره یو لوی مجلس جوړ ېږي نوزیارئې ويوست چه دې مجلس ته لاره ومومي اولاره ئې هم وموندله، کوم وخت چه مجلس منعقد شو ، دی هم وبالـه شو ، د مجلس رئيس د استفسار په توګـه د ګرګـین په باره کې له میرویس څخه پوښتنه وکړه ، میرویس د دې د پاره چه د مجلس نظریه د ګرګین په باره کښې ځانته معلومه کړی د پورته پوښتنې په ځواب کې ئې د ګرګین خورا ډېر صفت وکړ او و یو یل چه ګرګـین د خپل ورور په حیث ګڼي او د ګرګـین ډېر ورتوب او عدل او مساوات په باب کښې او د صفوي حکومت په نسبت په دغه د فرمانبرداری په شاو خوا کښې ښه نظریه ورکړه او علاوه ئې کړه چه «دا رشتیا وه ، کوم وخت چه مغول د ګرګین له مقرریدو د قندهار د نائب الحکومه په حیث خبر شول ترهرڅا د مخه مادده له قوته کار واخیست او د ګرګـین بې استشاري مې د قندهار په ساتنه کې زیار ویوست . . . »

په دې وخت دیوان بیـګ چه د ګرګین طرفدارو ، وخت غنیمت و ګـاڼه او د ګرګین په بدویلوئې شروع وکړه ، وې ویل : «ګرګـین ډېر فضول سړی دی دی تراوسه و نه پوهېدیء چه میرو یس دی د ځان ورور بولي ، د دمسرهئې ډېر ظالمانه رفتار وکړ ، او نه پوهېږي چه میرویس د ده حقیقي معاون او ملګری دی ...»

د دې ورځې مجلس تېر شو ، و اپي چه د میرو یس فصاحت او بلاغت مجلس په حیرت کې واچاوه .

بله ورځ دیوان بیـګ ګرګـین ته وایـګل چه : « تو لیاقت جمع آوری یکصد هزار تومان رانداری ! » د اسل زره تومانه معلوم نه دی چه آیا په هغه وخت کښې د اسل زره تومانه د قندهار مالیه وه که څنـګه ؟

بهرصورت څو ورځې وروسته بیا میرویس خبر شو چه د اعتماد الدوله په کور کې یو مجلس جوړیږي خپل ځان ئې هلته ورور ساوه او د سیل کوونکو په ډله کښې کښیناست او د مجلس د ټولو اعضاو سره ئې د لاس روغبړ وکړ (له دې څخه معلومیږي چه په دې وخت کښې ده کولای شوه د اعتماد الدوله په اجازه هر ځای ته ولاړ شي) ـ تر یوې لحظې وروسته صدر اعظم میرویس ته داسې وویل: « ستا په باره کښې له قندهاره یو مکتوب راغلی دی ، او څنګه چه تا پخپله ددې قابل بولم ، نو خواهش کوم چه پخپله تاسې د حقیقت له رویه اعتراف وکړئ او څه چه مولیدلي وي هغه بیان کړئ » کله هم میرویس داسې سړی نه و ، ئې چه دمخه د اصفهان د دولت رجال نه پیژندل او د دوی پخپل منځ کښې د دوی د یر خلافې څخه خبر نه و ، مګر د دې دوو مجلسو څخه ده ته ښه څرګنده شوه چه په کابینه کښې پارټۍ پارټۍ بازي ده او برخلافې شته ، ده وغوښته چه څه ووایي مګر اعتماد الدوله د میرویس په طرفدارۍ مداخله وکړه او وې ویل : « ته نباید د تعصب او هغو مظالمو له رویه چه ګرګین ستاسره کړي دي کار واخلې ، بلکه باید د حقیقت له رویه توضیحات ورکړې او زه یقین لرم چه ته داسې سړی نه یې چه خلاف له حقیقته به څه ووایې ...» میرویس خان چه ددوی پارټۍ پارټۍ بازۍ په پټه خوله تماشا کوله نو ئې فائده په دې کښې ولیدله چه نور نو له حقیقته څخه ډیره واخلي او د زړه څخه رښتینې رښتینې خبرې وکړي او دا دول ئې په خبرو شروع وکړه :

«تاسې زما څخه د حقیقت پوښتنه وکړه او زه هم پښتون یم ، باید حقیقت ووایم او هغه دادی چه که ګرګین څه موده نور هم په قندهار کښې پاته شي د قندهار وضعیت به ډیر وران شي او د قندهار د حکومت هډونه او جوارح به داسې سره بېل شي چه نور به ئې یو ځای کېده امکان ونلري ـ ځکه چه ګرګین تراوسه پورې نه دی قادر شوی چه خپل عسکر هم اداره کړي او د حیا او عفت تر قانون لاندې ئې راولي

هغه کسان چه څه سرئې هم نه و، بنو رولی ګرګین دهغوما او نه او ثروت غضب کړه او دهغو اولادونه ئې دخپلو عسکرو سره ګرجستان ته وابیژل او په دې کې ئې زیار ویوست چه بغی وکړی او یاغیان شی مګر ما نه پر ښودل ...

نو ښه، کم وخت چه ډیری روبی او تمایل سره یو ځای کړی او ډیر عسکر هم ولری، نو آیا دا خطره نسته چه دهغه دحکومت سره موافقه وکړی ؟

کم شی به وی چه ګرګین له دې موافقې څخه را وګرزوی ؟

ولی پاچا دګرګین پر ځای دخپلی کما بینی څخه یو لائق او تجربه کار وزیر چه له خپله دینه او مذهب او ملت څخه وای دسلطنتی کارو داجرا دپاره انتخاب نکړ ؟

تر لمر سپینه ده چه یو وخت به دا پست فطرته سړی داسی موقع پیدا کړي چه د سلطنت دورانی او خرابی سباب او علل را عرضه کړی ...»

پردې ځای دمیرویس وینا پای ته ورسیده او ټول مجلس په دقت وار و بدله طبیعی ددیوان بیك پارتی چه دګرګین په خوا وه دده له دې وینا څخه خوا شینی او زړه تنګی شو له هګر بالمقابل داعتماد الدوله پارتی ډیره خوښه او خوشاله شوه او دمیر ویس سره ئې قول وکړ چه ده قابلی پارتی په مقابل کې ئې تقویه او محافظه کړی او میرویس هم دا خبره له خدایه غوښته، تر هغه وروسته میر ویس هر ځای مقبول واقع کیدی خصوصاً داُعتماد الدوله پارتی دده ډیر احترام کا وه او دې پارتی نه یوازی دمیرویس شفاعت پاچا ته وکړ، بلکه دګرګین ظلمونه او ناحقی ئې ټوله پاچا ته څرګندی کړې او دفارس پاچائې دمیرویس څخه خوښ او راضی کړ او پاچا هم میرویس له قیده معاف کړ.

په دې وخت کې که میرویس غوښتلای قندهار ته تلای شو، مګر دپارس ددربار برهم او درهم وضعیت دده په مغزو کې نور خیالونه پیدا کړه، چه په هغو کې نه یوازی دقوم دآزادی راز پټ و، بلکه دپښتنی خاوری وسعت او ار توالی هم په نظر کې نیول شوی و.

په دې وخت کې دده دوې مهمې قوې وې: لمړۍ قوه ثروت او بډاينې، دوهمه قوه قابليت او سياست. او له بلې خوا هم د اصفهان د دربار وضعيت دده د کارروائۍ دپاره ښه زمينه تهيه کړې وه خو سره له دې ټولو بيا هم ميرويس له تعجيل او تلوار ه کار وانخيست او په دې لاره کې ئې سنجيده سنجيده قدمونه اخيستل او دا هم باید وويل شي چه دميرويس د المړي سفر نه و، چه د اصفهان دربار ته تې، بلکه لکه ريدي خان مومند (دميرويس صميمي ملگري) چه پخپل کتاب محمودنامه (۱) کې ليکلي دا تگ ئې ثلورم تگ و، چه دقوم د آزادۍ دپاره اصفهان ته تللی و، لکه دمير ويس خان دخولې چه وايي:

داثلورم وار دی چه راغلم سلطانه — عرض د ظالم له لاسه کړم سلطانه
که پاچا نکړي داد خواهي دمظلوم — ظالم حاکم کا، ظلم ډېر پر محکوم
جور چه ډېر سي سلطنت سي برباد — د ظلم قصر بې بنا بې بنياد
گرگ دي ايله کړ پر رمه سوشبان — جور ستم کاندي بېحد گرگين خان
موږ له طاقت نسته چه کړو بېزياتي — صبر پر ظلم د ظالم اور منی
کا فر کولای سلطنت سي مدام — که و کړي داد، نه وي جابر پر انام
مگر ظالم خو نسي کړای سلطنت — خالق رحيم دی، ور کوي خلافت:
چا ته؟ چه زړه ئې وي په مهرودان — دخدای عيال گڼي پر مخکه انسان
سلطانه! واوره په ښې غوږ داوينا — مکړه ستم د خلق الله په هر چا
د ستمگارو پای، ورانی دی خراب — دظلم اور ئې کا پخپله تراب

(۱) ريدي خان چه دمير ويس صميمي ملگری و، او پخپل ځای کې به ئې مفصل شرح حال راشي يو کتاب د «محمود نامه» په نامه په پښتو نظم کړی دی چه ثلور زرو بيتو ته رسيږي او ټول هغه واقعات ئې پکښې راوړي چه ده پستر گو ليدلي دي، مگر متأسفانه دا کتاب وروسته تر هغه چه سطان نحسين زرطلا وی صله ور کړه ورک شوی دی - يوازې يوه برخه ئې چه دمير ويس تگ اصفهان او حج ته او هلته دمير ويس مناجات او خوب ايدل او دمير ويس مرگ څرگند وي په پټه خزانه کې ضبط شوې ده (بېنوا)

دمظلوم آه داسې کاري وي گوره — چه اور ئې نه څې دظالم له کوره
سلطا ن ! گوره پر ځان رحم کوه — خپل کلي کور په جور مه ورانوه»

* * *

دسلطان حسین صفوی دخولې بیاداسې ځواب ور کوی :

« پاچاو بل : زه نسوای کولای چاره — د گرگین ظلم و ستم د پاره
که ئې معزول کړم قند هار نه بربېږدی — جورو ستم او خپل شعاير نه پرېږدی
گرگین خو گرگ دی گرگ خو ظلم کوی — و یني نو ینه هم پسو نه څیري
زه هم خائف یم ، چه به څه کړم گرگین — نامسلمان دی ، ارمني دی بیدین
نه په اسلام کې ځا ن پـابند گـڼینه — نه نصرانې نه له عیسی بیر ینه» (۱)

* * *

دمیرویس تـگ حج ته : هغه وخت چه دپارس پاچا په اور آواز دمیرویس

بیگناهي اعلان کړه په دربار کې دده رسوخ یو په دوه تینگ شو ، ترڅه مدي وروسته ئې دبیت الله دزیارت اجازه وغوښتله اودا دلیلونه ئې پیش کړه ، وې ویل :

« . . . ددنیا له مشقتو او تکالیفو څخه ستړی شوی یم ، او بل ناروغه یم ، او دریم خورا ډېر شوق لرم چه دمقدسو ښارونو او ځایونو زیارت وکړم او څو شپې ورځې هلته تیرې کړم او دخدای لوی پاك دربار وویڼم او دمکې اومدینې په زیارت مشرف شم ـ او ترهغه وروسته نو په ریاضت او دعا بوخت شم ـ که اعلیحضرت اجازه راکړي تردې زیارت وروسته نو بیر ته دلته راځم او خپله تو له کورنۍ دقند هار څخه اصفهان ته راولم او دلته ژوند کوم ؛ هو ، که ستاسې خوښه وی خپله تو له قبیله او خپلوان دلتهٔ را غوا ړم اه امر صادر کړیء چه راسی (۲)

---

(۱) پټه خزانه ۱۳۹ مخ (۲) دافغان او پارس جگړه.

ځنګه چه سلطان حسين ظاهراً د مذهبي مراسمو ښه پابنده و، ځکه ئې و نشوای کولای چه د میرویس داعزم فسخ کړي او علاوتاً د میرویس له خبرو ډېر خوشاله هم شو، نو وې ویل: «هیڅوك دی په میرویس غرض نلري او نه دې څوك له دې لوی عزمه څخه را ګرزوي» میرویس د خپلو ملګرو سره د مکې خواته روان شو او مکې ته ورسید .

د حجاز با نفوذه او مقدس علمأ ئې ولیدل او هغه تحایف او سوغاتو نه چه ئې د فارس څخه د ځان سره راوړي وه هر یوه ته ئې د هغه د نفوذ په مقدار ور کړه . بیا نو مدینې ته ولاړ او د هغه ښار مقدس ځایو نه ئې و کتل او د هغه ځای د معتبرو او بانفوذ و اشخاصو سره ئې هم ملاقات وکړ او هدایا او تحفې ئې ور ورانده کړې .

* * *

د میرویس مناجات په مدینه کښې : ریدی خان مومند پخپله محمود نامه کښې لیکي چه په مدینه کښې میر ویس داسې مناجات و کړ چه د لته عیناً هغه منظومه را نقل کوو :

ولاړی د شپې ئې په یثرب کا فریاد　　رسول د خدای ته « چه سو قوم برباد
ستا پر امت راغیء د ظلم دوران　　واوره رسوله د دې قوم فغان
پښتون خوستا پر نامه ځان کړی فدا　　اي خیر الناسه ! وا وره ته ئې ندا
وژ غوره دوی ، ته د ظالم له لاسه　　ګ گین له منځه د پښتون و باسه
ستا په نامه دیء کلمه ګویه پښتون　　نه به سي هیڅکله له تانه راستون
مرګ وژوندون مو د اسلام د پاره　　ستا د دربار ستا د سلام د پاره
مهمو کړه هېر خیرا لوری رسوله !　　فخر کونین نور الهدی رسوله!
او ښکې مې ځاځي پر دربار یم ولاړ　　قوم سو په اور د ظلم ټوله لتاړ
یو وار نظر و کړه پر موږ چه سو وړ　　و ظالما نو ته تر څو به یو پړ

ستا لطف ومهردی شامل پرجهان — هرخراب زړه دی ستا په مهر ودان
که ستا نظر نه وی خراب سو پښتون — په اور دظلم تور کباب سو پښتون
واغلم له لیری ی ستا در بار ته نبی — ته می شفیع سه خدای غفار ته نبی
چه پرپښتون قوم نازل کا رحمت — کړی ئې خوندی ناموس پخپل مرحمت
لاس دظالم ئې لهگر یوانه کا النبی — وچ سی د ظلم د گنډ و خیر د نبی
ستا شریعت سی تینگک په منځ دپښتون — ورک سی بیداداو کم سی رنځ دپښتون
دامی دیء سوال ولاړ و درته یمه — محتاج دی تش و لبز نظر تـه یمه
د قوم حال کړم درته عرض په ادب — ته یې بادار د کل عجم او عرب
بیله تا نلری پښتو ن خوا له گر — ته یې ملهم د خوږو زړو د پر هر
وژغوره زموږ نام وناموس له بیداد — کړو بې نا مو سو ظالما نو بر باد
سر که را بورته زموږ حال وگوره — د ظا لم ظلم بد احو ا ل و گو ر ه
نه ئې له تا شر م و حیـاسته نبی — نه شرم کا ندی له عیسی، اومنی

عرض می دحال وکا ، وتاته پیشوا
بل ځوك مونسته خوا له گر په دنیا»

د میرویس خوب لیدل : همداشان ریدی خان په محمودنامه کی راوړی چه
---

میر ویس نیکه تر پوره ته مناجات وروسته په همغه شپه خوب ولید چه حضرت صدیق (رض) او حضرت عمر فاروق (رض) میرو یس ته داسی وایی:

«وی ای سپین زیری نورخه غم مکوه — قوم دی خلاص سو کورت ماتم مکوه
ولاړسه خپل قوم ته دازیری کړه ژر — چه د ظالم سو کم نقصان او ضرر
پښتون به خدای کاله ظالمه آزاد — نه به سی ننگه او ناموس ئې برباد
خدای به داقوم کا پهرحم ودان — نوم به ئې وینه مجاهد پر جها ن
تل به دخدای په بندگی کی وی لوړ — ځوك به ئې نکا سر په تیټه ورخوړ

کلمه دخدای پهوی جاری په افواه ... ور کوی نوی په پیدي لاره کې ساه
خوئې طره وی داسلام په بېگړی ... ندبه سی ورك نوم ددې قوم له نړۍ »

**دقت:** گران استو نکی پوهیږی چه په وروسته واقعاتو کښې چه میرویس قندهار ته ولاړ شی ددې خوب نقل کول یا اوروول په هغه عصر کې د پښتا نه ملت په روح کې څه شور پیدا کوی ؟

ځکه چه داسې روایات که څه هم حقیقت و نلری د یوه داسې مسلمان ملت په روح کې لکه د پښتانه ملت چه دی، سربیره پر ملي احساساتو پومذهبي او روحاني تحریك او شور هم پیدا کړی. نو هر کله چه مذهبي او ملي احساسات سره یو ځای شول نو ر نو د داسې ملت د خوځولو او په شور راوستلو په مخ کښې هیڅ بل مانع نشي دریدلای او هر اقدام چه وکړی ددې دوو قوو په اثر حتماً یا مخ کېږی او یا کامیا بیږی .

## هغه سوالونه چه میرویس د حجاز علماو ته وړاندی کړل:

وروسته تر هغه چه ئې د مدینې علماو ته هم تحفې ور کړې بیر ته مکې ته راغی او «د افغان او پارس جگړه» د کتاب لیکو نکی لیکی چه میرویس په حجاز کې د هغه ځای خورا لویو لویو مشهورو ملایانو ته دعوت ور کړ او هغوی ته ئې پټ د خپل زړه رازو وایه او ددوی څخه ئې تحریری ځوابونه وغوښتل او ور ته ئې وویل :

«..موږ ددوو مملکتو تر منځ واقع شوی یو چه یو د هند امپراطوری ده او بل د فارس مملکت دی موږ د محمد (ص) په دین یو، او پر څو قبیلو سره ویشلی شوی یو .

لیکن څه موده د مخه زموږ مملکت ته رافضی او شیعه گان راغلی دی او د دوی د لاسه د پیر غیر قابل او نه زغمېدو نکی ظلمونه وینو او س ئې د گرگین په نامه یو رافضی بیگلر بگی چه د پیر ظالم دی زموږ پر سر درولی دی چه خلاف د قانون او عدالت څخه پر موږ او زموږ پر کورنیو ظلمونه کوی .

دي په داسې حال کې اې بزرګو او لويو علماو ! آيا موږ حق لرو چه دخپل دين اوناموس دپاره توري له تېکو را وباسو ؟

که موږ ددوی پمقابل کې دخدای درضا دپاره دجنګ اعلان وکړو اودوی مات کړو آيا ددوی مالونه موږ ته ځنګه دي ؟ » (۱)

دهر سوال په مقابل کې ئې مثبت او کافي ځواب وموند ـ مګر ميلسيون دسوالو شکل بلډول بيانوی او ليکي چه داسې وه :

« ۱ : آيا دهغو مسلمانانو دپاره چه پخپلو ديني کاروکې آزاد نه وی دتوری پزور ځان آزادول روادی ؟

۲ : که ديوه ملت مشران ناچاره شي ديوه بې دين پاچا سره بيعت وکړی او هغه پاچا د بيعت دلمړني شرطو مراعات ونکړی آيا هغه ملت کولای شي خپل بيعت فسخ کړی ؟ »

ددې دواړو پوښتنو پځواب کې ئې د « بلاشك » کلمه و موندله (۲) خو سرجان مالکم فقط دو مره ليکي چه : « . . . درمکه فتاوی از علمای اهل سنت گرفت که محاربه باشيعه وقلع وقمع اينطايفه موافق قانون شرع شريف ومطابق احکام ملت حنيف است » (۳)

پههر صورت کوم وخت چه ميرويس بيرته اصفهان ته راګرزېده دفارس د حکومت پرخلاف ئې ډېرې مهمې فتواوې دحجاز دعلماو او روحاني طبقو څخه پلاس کې وې اوبيرته راوګرزېد .

---

(۱) دافغان او فارس جګړه

(۲) تاريخ افغانستان ـ دميلسيون ـ دمنشي احمدجان پښتو ترجمه ۲۰۲ مخ

(۳) تاريخ ايران ـ دسرجان مالکم ۱۹۷ مخ

دمیرویس بیرته را گرزېده : میرویس اصفهان ته‌را وگرزېده ـ دمکې

څخه ئې خپل له ځانه سره ډېر خوشبویه شیان اوعنبر راوړه اوهغو کسانو ته‌ئې وراندې کړه چه دنفوذ اواعتبار خاوندان‌وه اود هغوسره‌ئې ملاقاتونه هم وکړه، دهغو په زړو کې ئې کامل نفوذ وموند . او ټولو دې ته چاته مقرب کړ ـ دده دور اندیشې اوعقل‌ئې وستایه اودې‌سلطنتی چاروکې‌ئې لاره ور کړه(۱) مگرمیلیسون لیکې چه‌میرویس کښې‌هم له‌وزیرانو سره تنگ اوراتنگ درلود، خو په‌بنکاره ئې په ملکې معاملوکې مداخله نکوله (۲) اوبنائې دادې دپاره‌و، چه‌داصفهان دربار پرده بدگما نه‌شې ـ په دې وخت کې کښې‌هم میرویس خان ته دا شوق پیدا شوی‌و ، چه قندهارته ولاړشې اوهغه نقشه چه له خپله ځانه سره ئې طرح کړې‌وه عملې کړې مگر په‌دې ملی‌مرام کې‌ئې تلوار روانه‌باله اوله‌ځانه سره‌ئې فیصله وکړه چه‌څه مده لانورهم په اصفهان کې پاته شې .

یو تصادف : په‌دې وخت‌کې چه میرویس خان له مکې څخه اصفهان ته را

گرزېده داسې یوعجیب تصادف واقع‌شو چه‌دمیرویس دپلان‌دعملې کولو دپاره ئې زمینه‌خوراښه مستعده کړه او میرویس ته‌ئې ډېرښه فرصت پلاس ور کړ چه‌خپل کاروله پاخه کړی اوخپلې نظریې عملی کړی .

واقعه داوه : چه په دې وختو کې « شماخې » ته یوسفیر را ور سېد چه دروس دامپراتور «پتر کبیر» له خوا داصفهان دربارته راتلی ـ داسړی «اسرائیل‌اري» نومېده (۳) اویو سړی‌و ، چه‌په اصل ارمنی دفارس د « قاپانلوی » و . داسړی وروسته ترهغه‌چه‌په‌فرانسه ایټالیا او آلمان کې دقهوه‌خرڅوونکی پنامه په‌سیاحت

---

(۱) دافغان اوپارس جگړه . (۲) تاریخ افغانستان ـ پښتو ترجمه ۲۰۲ مخ

(۳) Israëlorii

مشغول و 'دلمړی «لئوپولد» د آلمان د امپراطور په عسکرو کی داخل شو ' اوورو .
وروئي په هم هغو عسکرو کی یوجزئی منصب پیدا کړ او څنګه چه یو دسیسه کارسړی و '
« داتریش » د وزیرانو په دربار کی ئې هم پښه خلاصه شوه او څکه چه د شرق
اکثری ژبی ئې زده وي نو مامورشو چه اسلامبول ته ولاړشي او هلته څارو کړی
چه ایا عثمانی دولت د هغی روغی دمنلو دپاره آماده اوحاضر دی چه اطریش او
د هغه متحدینو ( آلمان او لهستان او ونیز ) ئې پیشنهاد کاوه ؟

او دا هغه روغه ده چه په (۱۱۱ هـ) کال ئې تړون وشو .

وروسته تر هغه اسرائیل اری د روس دقیصر خدمت ته راغی ' او د هغه په عسکرو
کی ئې منصب وموند (۱) خو بیا چه ئې د روس دولت ته په عثمانی مملکته کی ښه
خدمتونه و کړه نو ئې د هغو خدمتو په عوض کی د پتر کبیر څخه خواهش و کړ
چه دی د سفیر په عنوان دپارس دربارته واستوی ' امپراطور بر څېره پردي چه
دده دا خواهش و مانه امرئې و کړ چه هر څومره مال التجاره چه دی او دده
ملګری له ځانه سره وړی د ګمرکی محصول څخه دی معاف وی (۲) دا امر ددي
باعث شو چه خورا ډېر ارامنه پرده بالدی دخپلی تجارتی ګټی دپاره راغ ندشی .
هغه و ' چه اسرائیل اری د روس دامپراطور له خوا داصفهان دربارته معرفی شو '
اسرائیل اری تر هغه د مخه چه اصفهان ته ولاړشی «وینه» ته ولاړ او د تېرو
خدمتو له امله ئې داتریش دامپراطور څخه دسلطان حسین پنامه یوه سپارښتنامه
واخیستله او له هغه ځایه بیاد پاپ دربار «روم» ته ولاړ او پاپ هم د پارس
دپاچا پنامه یوخط ور کړ (۳) تر دې ټولو سپارښتنامو وروسته د ډېرو ارمنیانو
او روسیانو سره «شماخی» ته وارد شو او دپارس سرحدته را ورسید .

(۱) کاوه (مجله) دوهم کال د ۱۲ شماری ضمیمه ۸۷ مخ (۲) تاریخچه ارمنستان ۱۹۷ مخ

دپارس وزیرانو چه ددې سفیر دراتگ خبر واروید، نو یوسړی ئې ورواستاوه چه ددې سفیر هویت او احوال ځانته خبرگند کړی او دوی خبر کړی چه دا سفیر څوك دی؟ او د کم ځای دی؟ او ملیت ئې څه دی؟

ددوی سړی چه بیرته راغئ، دوی ته ئې وویل چه دا سفیر په ملیت ارمنی دی؛ کم وخت چه دوی دا خبره واروېده ډېر مشوش شول، خصوصاً چه دې سفیر و یلی وه چه دارمنیانو شهزاده دی. ځکه چه دوی نه غوښته چه یو ارمنی سړی د سفارت په لقب (هغه هم دروس دسفارت بنامه) داصفهان دربار ته راشي. له دې کبله ئې نو دفرانسه دسفیر «میشل» نامی سره چه دفرانسه دخورلسم لوئی له خوا دتجارتي چارو دپاره په اصفهان کې و، مشوره و کړه او له هغه څخه ئې وغوښتل چه ددې سفیر ملیت او نژاد ښه ورته خرگند کړي او دوی ته دا معلومه کړي چه دروس امپراطور ته په څه نسبت معرفي شوی دی او څه قرابت ورسره لري؟

د فرانسه سفیر چه هم دا سرائیل اری په راتگ خوښ نه و (ځکه چه دې سفیر دهغه لئو پولو اعتماد نامه په لاس کې ارله چه د فرانسویانو سره په جنگ اخته و او هم ئې اروېدلی وه چه اسرائیل اری خیال لري دا سې اسباب راغونډ کړي چه کاتو لیکی کشیشان له پارس څخه وشړل شي (۱)

نووې ویل: ... حقیقتاً دا سفیر نژاداً ارمنی دی - چه تردې د مخه ئې په فرانسوی عسکرو کې کار کاوه او دفرانسوی عسکرو د بارهٔ ئې کافي درستو له بیا دیوه عسکر پنامه په خدمت کې داخل شو، دخو وظیفو تر اجرا وروسته یو کښته منصب ور کړه شو - څو واره هم جرمنی ته ولاړ او دلئو پولو خصوصي ترجمان و، بیا په روسي خدمت کې شامل شو او دسروانی په عهده مقرر شو او دجرمنی شهزاده دی دروس «تزار» ته معرفي کړ - دا دی چه اوس داصفهان دربار ته دیو

(۱) کابل مجله ۳ کال د ۱۲ شمارې ضمیمه ۷۸ مخ

سفیر په حیث را استولی شوی دی » ( ١ )

او دفرانسه سفیر به دخپلو خبر و په پای کښی داویل چه «داسرائیل اری طالع هم ده په نامه کښی پته ده که دده دنامه توری وروسته وړاندی شی داسی جمله ځینی جوړیږی چه په فرانسوی ئې داسی معنی کیږی «دی پاچا کیږی » (٢) کم بل شی چه ددربار دارا کینو وحشت ئې ډیر اوه دقره باغ دکلی دیوسړی Aghwanitsch نامی پیشګوئی وه چه خلکو ته ئې داسی ویل :

«داسفیر دارمنی پاچهانو څخه دی چه زموږ په کتابو کی ئې دمخه هم ذکر راغلی دی چه یو وخت به پارس ته راشی او داځای به دده تر تصرف لاندی شی او دا سړی خودار منیانو حکومت پخوانی عظمت ته ونهر سوی پرځای به نسکښینی» هغه وخت چه دی شماخی ته راورسیدی سوه ارمنی کسان ورسره وه چه دلته سل نور کسان هم ورسره شوه او ویل ئې «زه د پخوانیو ارمنی شاهانو خلف یم!» دا پیرو یا ګمه ډیر زر خپور شو ، او لکه څنګه چه دوی په پخوانیو کتابو کښی لیدل شوی وه دوی ویل :« پریږدیء ـ چه دی زموږ پاچاشی ، دی خپل مملکت ته راغلی دی او باید چه حتماً زموږ له خوا تقویه شی »

دفرانسه سفیر چه داپیرو یا ګنډواوریده پاچاته ئې وویل :« دد نیاار منیان دا سړی هغه پاچا بولی چه دهغه باره کښی ددوی کتاب پیشګوئی کړی ده !» او په خپلو خبرو کښی ئې ډیره مبالغه وکړه او وی ویل چه هرڅو زر کیږی باید ددی بلاخو له پته کړه شی ـ پاچا ډیر په چورت کښی واو بیا اودستی ئې اعتماد الدوله راوغوښت مشوره ئې ځینی وغوښتله چه ددې سفیر په راتګ کښی څه وائی ؟

اعتمادالدوله ویل : اجازه ور کړی چه راسی !»

---

(١) دافغان او پارس جګړه .

(٢) Israelorii=Iiseraroii(roy)

**دمیرویس استفاده له موقع څخه:** موږته او سه چه دمیر ویس نیکه حالات لوستي دي، میرویس موږ ته یو دیپلومات او سیاسي هوښیار سړی معلومیږي. دی نو ځکه دي تصادف میرویس ته ښه موقع پلاس ورکړه چه دارامنه او ګرجیانو په باب ښکنبې اودوی سره دګرګین دمناسبت په شاوخوا کښې هرڅه چه وغواړي هغه وکاندي. ځکه چه دده وینا ظاهري رنګ هم درلود. که ئې ویلای چه ارمنیان او ګرجستان غواړي چه آزاد اوسي اوګرګین خان ددې کار لمړی محرك دی شاید حقیقت به هم داله کیږده. خصوصاً هغه وخت چه د کابینې داعضاو په نظر داغوږ ته نه خلاصیږي ونکي ښکاره شوه او میرویس ئې دمشورې دپاره مجلس ته راوغوښت (۱) ښه زمینهٔ مساعده وه چه باید میرویس له خپلی وینا او تلقیناتو څخه کوم کار چه زړه ئې غوښت اخیست.

چه مجلس ته حاضر شو دواړو پارټیو ده ته رجوع وکړه او ورته وي ویل: کمه نظریه ښه ده؟ «دسفیر پرېښودل او که ئې ګرفتارول؟» ځکه چه یوه پارټي د دې نظریې پرخواوه چه سفیر دی ګرفتار شي او بله ددې نظریې مخالفه وه، څوك لا هم بې طرفه ناست وه. بیائې نو دمیرویس څخه داسې خواهش وکړ:-

«... موږ ستاخدای درکړی رایې او ستا سلیم عقل ته ضرورت لرو. ته څه وایې؟»

میرویس واردواره دوی دلوړو ستایلو او احترام شکریه اوخپله خبرې په څو کلمو کښې خلاصه کړه او بیائې داسې وویل:-

«زما په عقیده ددې سړي راتګ سیاسي رنګ لري. چه دې خاوري ته راداخل شي ستاسي دقوې ترشعاع لاندې کیږي. نو ددې قدرت او واك به پیدا نکړي شي چه کومه فتنه او شخړه جوړه کړي. که تاسي د کمې شخړې انتظار له ده څخه لرئ، نو پرې ئې ږدئ چه اقدام وکړي. بیا تاسي کولای شئ

(۱) دافغان اوپارس جګړه په انګلیسي. افغان تاریخي په ترکي ژبه

چه دی محبس ته وسپاری؛ او په یوه جام ئې کارتمام کړی؛ او کله چه د کوم داسې اقدام ونکړ ترڅه مدې وروسته چه وخت ئې پوره شو بیرته ئې « زار » ته ور واستوی؛ په دې صورت کښې به دده په حق کښې لوی توهین شوی وی

او خوړا به سپك شی ځکه چه دی ئې د یاغیانو د پاڅول او ده غو د مجلس داوربلولو دپاره دې ځایته را استولی و ' او نا کام ولاړ — . له دې څخه هم باید و بېره پېژ ی؛ که داسفیر ستاسې په دربار کښې قبول نشی احتمال لری چه د گر گین دوروره په شان خپل ځان روسی قونسلگری ته ورسوی او دار منیانو د سر کښې او طغیان باعث شی — هغه وخت نو لا زمیږی چه د گر گین د هنگامې په شان یوه بله هنگامه توده شی او ډیرو خلکو وینې به توی شی او تر حد زیاتې پیسې به و لگولی شی . . .

په هر صورت کوم شی چه په دې وخت کښې مهم او ضروری ښکاری دادی چه تر هر څه د مخه باید خپلو سرحدا تو ته توجه و کړی؛ — و گوری؛ : له یوې خوا گرجی شهزاد گانو د روس له قیصر څخه د مرستې او ساتنې غوښتنه کړې ده او نظر علی خان د گر گین دا کا زوی او د گرجستان والئې روسی دربارته استولی دی (۱) او له بلې خوا هم پوهیږی چه گر گین دارمنی ټبر څخه دی ' څه لیری نه ده چه د روسیانو سره علاقه پیدا کړی — هو ' گر گین فرصت او وخت لټوی چه سر کښې و کړی ( لکه د مخه چه ئې هم په نا کامی سره اقدام ختم شو ) او هغوی به د خپلې

مرستې دپاره راوغواړی او له خپلو گاونډیانو څخه به استفاده و کړی او یا خپل حکومت د هغه پاچا ته تسلیم کړی او د هغه سره قول او تړون و کړی چه د ده سره مرسته و کړی او داهم څه لیری نه ښکاری چه پخپله له پښتنو څخه استفاده و کړی، هغوی پخپله پارټۍ او حزب کې داخل کړی . ځکه زه هلته حاضروم او دده کارونه می لیدل —

---

(۱) کاوه مجله ۲ کال ۱۲ شماري ضمیمه ۸۹ مخ.

گرگین له ماسره کوم مخالفت ونه لید. او نه ما ظلم کړی و، مگر زما وجود ئې هلته نه غوښت اوزه ئې له هغه ځایه لیری کړم خودی پخپل مقصد بنه کامیابه شی که زه هلته وای او (خدای دی نه کوی) که واقعه د پښتنو په منځ کښې پیښه شوې وای په خورا آسانۍ سره ما کولای شوای چه هغه اور مړ کړم په هر صورت که داسفیر ومنل شي نود راتلونکی خطر دپاره باید کم از کم دور اندیشه او سئی او دده په کار او کړو او عمل پسې ډېر مواظب اوښا رووسئی ... » ( ١ )

میرویس په آخر کښې داهم وویل چه : « . . . حقیقتاً ډېر نازك وخت دی که پتر کبیر دروغی او دوستۍ له لاری غوښتلای چه یو سفیر را واستوی دا او منی سړی به ئې نه رااستاوه په تېره بیا داسې سړی چه دارمنیانو دشهزادگی دعوه هم کوی ځکه نو دپارس حکومت ته داضرور ده چه ټول گرجیان او ارامنه تر نظارت لاندی ونیسی ځکه چه ډېرمده نه کېږی چه گرجیان دگرگین تر مشر توب لاندی بغاوت کړی و، او اوس چه هم دگرگین دا کارزوی دزار روس په دربار کښې لوړ مقام لری آیا دې سفیر راتگ به دگرجیانو او ارمنیانو په روحیاتو کښې خصوصاً دگرگین په روح کښې څه تأثیر پیدا کړی ؟ » ( ٢ )

دمیرویس داوینا چه « دافغان او پارس جگړی » د لیکو نکی په عقیده یود هغو جامعو وینا وڅخه وه چه دیوه هوښیار او مقتدر سیاسی سړی څخه چه د لوړ عقل خاوند وی انتظار کېده - او وئې کولای شوه چه د گرگین په نسبت دپاچا په مغزو کښې راز راز افکار پیدا کړی - نو پاچا فکرو کړ : څه وکړی ؟

که گرگین معزوله کړی محتمل چه دده حکم به و نه منی او دهند پاچانه به ځان تسلیم کړی - او که ئې معزوله نکړی هغه تشویش چه دده له وجوده ورته پیداشوی و، دده زړه ئې برآرامه نه پرېښود او تحمل ئې نشو کولای .

---

( ١ ) دافغان او پارس جگړه مخ (٢) تاریخ افغانستان - میلیسون - پښتو ترجمه ٢٠٤ مخ

نوشته ئې وکړه ؟ وروسته تر هغه چه د اسرائیل اری ئې په ډېر مجلل ډول پذیرائی وکړه او اصفهان ته راغی ، دګرګین دپاره ئې داسې چاره وسنجوله چه هم معزوله نشي او هم له اقتداره ولوېږي چاره داوه چه میرویس ئې بېرته دقندهار وکلانترۍ ( ریاست بلدیه ) په منصب مقرر کړ چه هلته د ګرګین د حالاتو مراقبت وکړي او که ئې موقع پیدا کړه دده ځای هم ونیسي ( ١ ) نو دادی هغه میرویس چه دیو سیاسي بندي په حیث تحت الحفظ اصفهان ته لیږلی شوی و» اوس دحکمران په حیث وطن ته راځي ـ بنائي چه ګرانو لوستونکو به د هغې پوښتنې ځواب چه ځو مخه مو کړې وه (چه دیوه پښتانه مېړه فکر به دیوې کابینې په مقابل کښې څه وکړي ؟ ) خود پخوده پیدا کړی وي .

خیر یه راتلونکو پښو کښې به څو نورې نکتې هم ولولی چه دملي زعیم دپیلوماسی افکار لا ښه ځینې څرګند ېږی .

❀ ❀ ❀

**د میرویس راتګ قندهار ته :** په دې ترتیب میرویس د ملي پروګرام د عملي کولو دپاره دډېرو آرزوګانو سره په خوراشوق خپل ګران وطن ته رهي شو او درارهي کېدو په وخت کښې ئې څو مکتوبونه د ګرګین پنامه له ځانه سره راخیستي وه چه په هغو کښې پر ګرګین باندې تاکید اوسپارښت شوي و ، چه د میرویس بې مشورې به کار نکوی او ده ته به بیرته هغه پخوانی منصب وسپاری او ډېر احترام به ئې کوی ، دده عزت او شرافت به محترم ګڼی حتی اعتماد الدولته میرویس ته په خصوصي توګه ویلی وه چه د ګرګین په کړه او وضعیت پسې دې څارووی او یو مهر شوی سند ئې هم ور کړ چه کوم وخت که ضرورت پېښ شي له هغه څخه کار واخلي ـ دیوان بیګ هم څو مکتوبونه ور کړه او په هغه کښې ئې ولیکل چه : « میرویس یو له هغو هوښیارانو خلکو څخه دی چه دپاچا سره ئې ډېر کومکونه کړی دی »

( ١ ) تاریخ افغانستان دمیلیسون اثر دمنشي احمد جان ترجمه ٢٠٥ مخ .

میرویس چه دا مکتوبونه واخیستل نور ئې نو ځنې روانه باله دستې وقندهار خواته راوخوځېد اوپه لاره کښې ئې په کاروانسرایو اونظامې کلاو کښې په ډېر تجلیل او احترام دَبوې تشریفاتې عسکرې ټولګې اودبوې دستې موز یك له خوا ښه راغلې کېد له ـ هر پښتون دده په راتګ خوښې کوله او دده د کارو آرزو منده و (۱) ځو چه قند هارته را ور سېد .

د میرویس رسېدل قندهارته : د میرویس په قندهار کښې په ډېرې ګرمجوشې اوحرارت استقبال وشو ، اوټولو اهالیو په ورین تندی اوخوشالو زړو دده «ستړي مشي» وویله ؛ ګرګین که څه هم په ښکاره دده په پذیرائې کې داهالیوسره ګډون وکړ اودمیرویس احترام ئې پر ځای کړ ، مګرپه زړه کښې له غضبه او کینې څخه سره خوړل کېده او دانتقام لارئې پلټله ، خصوصاً له هغه وخته څخه چه ( داصفهان ددربار تهدید نامې اوسپارښتنامې ئې ولوستلې . )

په دې وخت کښې میرویس د ګرګین څخه اجازه واخیستله خپل کوراوخپلې علاقې ته ولاړ ؛ هلته اکثر خوانین اومشران اوددہ ملګرې دده دملاقات دپاره راغلل اوهم دلې دلې خلك دحج د مبارکې دپاره ده ته راتلل او ټول پښتانه منتظره وه چه دی څه کوی ؟ اوڅه وایې ؟ غوښته ئې چه پوه شي : میرویس د قوم دنجات اوآزادولو په باب کښې دوی ته څه زېرې راوړې دی ؟

ګرګین ددې ملاقاتو اوتګ راتګ څخه بې خبره نه و ، مګر دانتقام اخیستلو دپاره ئې غوښته چه یوه پلمه پیدا کړې اوداسې کارو کړې چه میرو یس دقوم اواولس په نظر کښې سپك اوذلیل ښکاره کړې - یوه پلمه ئې پیدا کړه هغه داوه :

میرویس یوه لور درلوده چه خورا ډېره ښکلې وه ، چه دسر جان مالکم په اصطلاح ددې دحسن اوښکلیتوب آوازه دخلکو په خولو کښې خپره شوې وه (۲)

---

(۱) د افغان اوپارس جګړه مخ (۲) تاریخ ایران سرجان مالکم ۱۹۸ مخ

ګرګین میرویس ته حال واستاوه چه دغه لور دده د زوی د ازواج دپاره (۱) د ګرګین کور ته ور واستوی څنګه چه دا پیغام دتحکم په تو ګه، نومیر و یس ته غوندی اندیښنه پیدا شوه ـ ځکه چه له یوې خوا دلور استول دده له پښتنی غیرت سره مخالف وه او بر سېره پر هغه ئې دده قدر دقوم او اولس په نظر کی سپکاوه او له بلی خوا په داسی وخت کښې چه میرویس لا تر اوسه پښتانه دخپلی عقیدې او عملیاتو څخه پوره نه وه خبر کړی ددې حاکمانه امر رد ول دده هغه طرح کړې نقشه ورو رانوله ـ نوئې څه وکړه ؟

دقوم مشران اوغټان ئې راغونډ کړه او ملی جرګه ئې جوړه کړه، چه دا خبره ورته وکړی او دملی قانون په قرار تر مشورې وروسته یوه فیصله وکړی .

ځکه چه په پښتنو کښې دا دستور دی چه د ملی کارو دپاره مشوری مجلسونه جوړوی کڅه هم معامله ډېره وروه وی په انفرادی توګه ئې بیله ملی مشورې نه فیصله کوی او نه ددوی په عقیده فیصله کېدلای شی. دا مجلسونه د پښتنو په اصطلاح «جرګه» بولی دا جرګې چه څنګه فیصله وکړی هر پښتون ئې عملی کول پر ځان لازم بلکه ملی فرض ګڼی ـ دادی چه د پښتنو ملی زعیم هم له دې دستور څخه کار واخست او دقوم مشران ئې راوبلل .

❀ ❀ ❀

لمړی ملی جرګه : میرویس د مخه ترهغه چه ګرګین ته منفی یا مثبت ځواب ورکړی د اولس مشران ئې په کوکران کښې (چه د قندهار په شپېز کروهی کښې دغرب خواته واقع او د میرویس مدفن دی) دمشوری دپاره را وبلل ـ لمړی ئې د ګرګین ددې غوښتنی په باوخوا کښې خبری شروع کړې ، پښتانه چه طبعاً پر ننګ او ناموس مینان دی لوی او واړه وایی «دنیا تر سر جار سر تر ناموس!» نو طبیعی

(۱) تتمة البیان دسید جمال الدین افغانی پارسی ترجمه ۷۷ مخ .

دەچە ددې خبرې داروېدو ځنې روحاً متأثره شول، دغیرت و ملي ئې په جوش راغلی او میرویس ئې دلور لەاستولو ځنې سخت منع کړ اومقاومت تە ئې تشویق او ترغیب کړ او پښتنې قسم ئې یاد کړ چەدده پەمرستە کښې ترسر او مال تېر شي؛ میرویس چە دوی دځان پەشان متأثر ولیدل پەزړه کښې دېر ډېر خوښ شو، مګر پەظاهره ئې دوی تە دصبر توصیه وکړه او وې ویل :«بهتره دەچە بلا پەخوب کښې مره کړو! مګر تاسی تە لازمەده چە پرخپلو خبرو ټینګ سیء، خپل رازپټ وساتیء او پرما اعتماد ولریء- یقین وکړی چەله دښمنانو ځنې بەسخت انتقام واخلم» (۱)

پەدې وخت کښې ملي قائد درحمان بابا دیوان راواخیست او دفال پەتوګه ئې خلاص کړ وې ویل :« راسیء چە عبدالرحمان باباقدس سره هم وپوښتو، چە دده دیوان ئې خلاص کړ، هسی شعرونه و:

زه مکتوب غوندی په پټه خوله ګویایم  خاموشي زما تېری کا ترغوغا ازما
ګنبت دعشق پەتود دزمکه امان چری  سمندر بو یەچه زیست کا پەصحرا زما

چە دغە بیتونه ئې ولوستل هغه مغفور حاجی، وویل :«چه دظالمانو کار تمام دی، اما اوس دستی خاموشي بهترەده، ټوله بەیه پټه خوله داکو ښښ کړو، چه ظالمان ورکسی چەمناسب وقت راسی، نو بەزه پرتاسی ږغ وکړم، هغەوخت باید ټول تیاریو او ظالمان له وطنه وباسو .» (۲)

دجرګې خبری اتری ترماښامه جاری وې، خو په آخر کښې ئې داسی فیصله وکړه چە: «قطعاً دمیرویس خان دی نه لوراستوله کېږی- مګر دې دپاره چە ګرګین غافل وساتو او پەحال خبر نسی، بلکه نجلۍ دی دمیرویس دلور پەعوض واستوله شي څو چە د ګرګین دهلاکولو دپاره فرصت پیدا کړو ...»

تردې فیصلې وروسته ئې بیا ټولو په قران، توره، ډوډۍ او مالګه قسم وکړ او دخپل قول پروفائې بیا ټینګ تړون وکړ او وې ویل: «هرڅوک چە له خپلی خبری

(۱) تاریخ ایران سرجان مالکم ۱۹۸مخ (۲) پټه خزانه ۹۵ - ۹۶مخونه.

واودی «زن‌طلاق» بهوی ـ دپښتنو په‌عقیدة داقسم‌اشدترین دقسمودی چه میرویس ته‌ئې دهغه په یادولو داد ورکړ.

تر هغه وروسته میرویس یوه‌بله نجلۍ چه دده پکور کښې روز لې شوې وه دخپلې لورپنامه د گرگین سرای‌ته واستوله (۱) اوهغې نجلۍ وو یل: «زه دمیرویس لوریم!» په‌دې تو گه د گرگین هغه‌پلمه چه‌دا نتقام اخیستلو دپاره ئې جوړه وله بې‌اثره‌پاته‌شوه اوهم گر گین وغولېده چه‌میرویس نونورخه په‌زړه کښې نلری اوروغه غواړی اوبیادده دمظالمو دپاره زمینه‌مساعده ده.څرکه‌ئې‌نو ترخپله وسه‌پوری دمیرویس زړه‌ساته اوپه هر کار کښې به‌ئې دده‌دراېي مراعات کاوه ملی زعیم میرویس خان هم دازیاربرست چه‌داسې ښکاره کړی چه‌د گر گین ټول‌مظالم او صدمې ئې‌چه‌دده قوم‌ته رسولی دی‌هېرې‌شوی دی‌اود خپلوی اظهار ئې‌داسې حدته ورسوله‌چه گر گین پرده‌باندې کامل اعتماد پیدا کړ ـ څوچه‌یوه میاشت وروسته ئې د گر گین دور کولو دپاره دوهمه‌جر گه جوړه کړه

❀ ❀ ❀

**دوهمه ملی‌جر گه:** یوه‌میاشت وروسته چه‌د گر گین دظلم اور بیا په زور

کښې‌شو اولمبې‌ئې‌هر لورته‌خپرې شوې د پښتنو مشران په تنګ شول بیا پر میرویس راغونډ شول‌او د گر گین دظلم څخه‌ئې استغاثه وکړه ـ اوبیادپښتنو یوه ملی جر گه جوړه‌شوه، مګر داپلا د کو کران په کلې کښې نه‌وه، بلکه په‌«مانجه» کښې جوړه‌شوه چه‌دقندهار شمالی شرق‌ته تخمیناً دشلومیلو په فاصله د کابل پر لارواقع دی‌اوپه ښارصفا پوری نښتی‌دی، اوغالباً داځای د میر ویس خان د ښځې یعنې دجعفرخان‌سدوزی‌د لورو، څکه‌چه داحدودبه هغه‌وخت کښې دسدوزوه.(۲)

---

(۱) تاریخ افغانستان دمیلیسون ۲۰۶مخ ـ دسید جمال‌الدین افغانی دتتمة البیان ترجمه۷۷مخ سرجان مالکم ۱۹۸ مخ.

(۲) تاریخ سلطانی ۷۱مخ پټه خزانه ۹۶.

داجرګه هغه‌وروستنی جرګه‌وه چه‌دقوم د آزادی وثیقه ئې مهرولهٔ او څنګه‌چه ریدی خان په محمود نامه کتبې راوړی په‌دې جرګه کښې لاندی مشران او خوانین راغونډ شوی وه ١) :

١: سیدال‌خان ناصر، چه وروسته دهو تکړ ددورې یومهم لوزیور او معروف جنرال او سپه سالاررو ـ دده مفصل شرح حال به‌وروسته راشی .

٢ : بابوجان بابی ـ چه‌دده شرح حال به‌هم برخپل ځای پوره ذکر شی .

٣ : بهادرخان ـ چه‌وروسته به‌ئې شرح حال ولولی .

٤: میاجی ـ دده أصل نوم ملا پیرمحمد میاجی دی چه مفصل حالات به‌ئې په راتلونکو صفحو کښې ولولیء .

٥: یوسف‌خان ـ دهوتکو لهٔ‌غښتلوخانانو څخه‌دی چه‌په سیوری کښې اوسیده مګر متأسفانه بې له‌دې کتابه په‌بل مأخذکښې‌ئې ذکر نه‌دی راغلی .

٦: عزیزخان نورزی ـ چه ریدی خان‌ئې د «دلارام» دپهلوان پنامه یادوی نور ذکرئې نسته ښایی چه‌دفراه دنورزو مشر وی .

٧: ګل‌خان‌بابر ـ ددې مشر ذکر هم په بل کتاب کښې په ستر ګه نشو .

٨: نورخان بریخ ـ داسړی دبریڅو لهٔ‌خانانو څخه‌و، اومحتمل چه‌دښوراوك اویا پښتنی بلوچستان و، په‌نورو کتابو کښې دده نوم ونه لید شو .

٩ : نصرو خان الکوزی ـ داالکوزی قوم له غټانو څخه و ، چه په جلدك کښې اوسیده .

١٠ : یحیی‌خان ـ دملی قائد میرو یس خان ورور دی .

١١ : محمدخان ـ دمیرویس وراره چه‌په‌وروسته وقایعو کښې دحاجی انګو پنامه ډیر مشهور شوی‌دی اوشرح‌حال به‌ئې وروسته درته‌راشی .

---

(١) پټه خزانه ١٤٥ ـ ١٤٧ مخونه .

۱۲ : یونس‌خان کاکړ – ښایي چه دارغسان یا ژوب له‌خوانینو څخه وی . په محمود نامه کښې همدا پورته اشخاص ذکر شوی دی ، مگر دنورو مؤرخینو له‌لیکنو څخه څرگنده یږي چه علاوه پردغو اشخاصو نوردبلو څو دقوم مشران او ملکان هم‌دي ملي جرگې ته را بلل شوی وه . (۱)

دي جرگې بیا په‌قرآن گوتی پوری کړې اود وفادارۍ لوړه‌ئې وکړه ، بیا نو میرویس داعتمادالدوله کاغذ دوی‌ته وروښود او ورته وې‌ویل: «چه د پارس حکومت هم دگرگین څخه خوښ نه‌دی اوماته اجازه را کړه شوې ده چه گرگین له‌منځه ورك کړم اوپښتانه دده له‌ظلمه وژغورم‌مگر دایه‌هغه‌صورت کښې‌امکان لري چه‌تاسی ټول‌په‌یوه زړه‌اویوه اراده اویوه‌ژبه زماسره‌ملگری‌شیء» ټولو دده دامرو داطاعت قول‌ورسره وکړ اوده‌ته‌ئې دخپلې‌ملگرۍ پوره اطمینان ورکړ.

تردې وروسته نومیرویس خپل‌هغه‌پلان چه‌ده دخپله‌ځانه سره سنجولی‌و ، دوی‌ته ووایه ، هغوی‌هم ټولودده عاقلانه‌اومدبرانه پلان‌ومانه اوخوښ‌ئې کړه د جرگې له‌خوا یوه خان‌ته امروشو چه گرگین‌ته دې‌مالیه نه‌ور کوی او خپله طائفه دې دگورجیانو پرمقابل پورته کړی – داچه داطائفه کومه‌طائفه‌وه په‌دې کښې دمؤرخینو اختلاف دی : دافغان او پارس دجگړې لیکونکی لیکی چه د«بلوڅانو» مشرته امرورکړه شو (۲) مگرتاریخ سلطانی اوخورشیدجهان د «کاکړو» طائفه‌ښیی (۳) اومیلیسون بیاد «ترین» قوم‌یادوی (٤) همدارنگه ددوی په‌ځای کښې اختلاف‌دی څوك ارغسان ذکر کوی اوڅوك دبلوچستان علاقه‌یادوی خوحقیقت‌ته همدادوهم قول نژدې‌دی ، ځکه‌چه دوروسته پېښو څخه څرگندیږی چه جرگې غوښته دگرجی‌عسکرد قندهارڅخه یوې‌لیری‌علاقې ته‌ولیږل‌شی اوارغسان دومره‌لیری ندی.

---

(۱) دافغان اوفارس جگړه ۰ مخ (۲) دافغان او پارس جگړه مخ

(۳) تاریخ سلطانی ۷۲ مخ خورشید جهان ۱۳۲ مخ

(٤) تاریخ افغانستان – پښتو ترجمه ۲۰۷ مخ

په هرحال داملي جرګه نرمازيګره جاري وه، او دجرګې شامليڼو هر يوه ته وظيفه ورکړله شوه اودلمړي اقدام دپاره لازمه ترتيبات په نظر کښې ونيول شوه دجرګې په پای کښې پردې وخت بياحاجي ميرخان مغفور، لهرحمان بابا څخه دابيتونه ولوستل :

چه آسمان ئې مخ پټ کړی په سحاب و | خدای وماته ښکاره کړه هغه نمر بيا
چه رقيب راته ترلی په زنځير و | خپل حبيب را باندی برا نيت هغه وربيا
په وصال ئې منت باراوسه رحمانه ! | په صدف کښې دخل نشته د ګوهر بيا

نقل کا: چه دخدای په قدرت، دغه ورځ پر آسمان اوريځ هم وه، حاجي مير مرحوم دابيتونه ولوستل په هغه ګړی لمر ښکاره سو اوريځ ئې له مخه هسته سوه، خلقو هم دغه يوالهي مددو ګڼانه اوبيا نو جنت مکان حاجي مير خان خلقوته وويل :

«دادی دخدای تعالی مهر اولطف هم زموږ ملګری دی، او س نو وقت دی چه توری له تېکيو وکاږو، اوځانو نه له دښمنه وژغورو! .» ( )

❀ ❀ ❀

## دميرويس لمړی اقدام :

دبلو څواوکا کړو مشران چه خپلو علاقو ته ورسېدل، دستي ئې خپل قومونه پاڅول اودماليې له ورکولو څخه ئې سرونه وغړول ګرګين چه دالمړی وارو، چه دداسي شديداوبرملا انکار سره مخامخ کېده سخت قهر ورغیء فورأ ئې ټول ګرجي جګړن اوغښتلي چه يوازي دهمداسي جدی اقداماتو د پاره ساتلي شوي وه دبلوڅو اوکاکړو دسرکوبۍ دپاره وټاکل اوروان شول .

ميرويس چه دا وضعيت په دېر دقت کوت ګرګين ته راغیء اود پورتنيو قومو دسر کښې له امله ئې تأسف وکړ او د ګرجي لښکرو له لېږلو څخه ئې خو ښی څرګنده کړه، اوضمناً ئې دښاردباندی يوباغ ته ګرګين دعوت اوميلمه کړ (۲)

(۱) پټه خزانه ۹۷ مخ (۲) سرجان مالکم ۱۹۸ مخ ـ دسيد جمال الدين تتمه ۷۸ مخ تاريخ افغانستان ميليسون ۲۰۷ مخ.

او په دې ترڅ کښې ئې وويل چه په دې مېلمستيا کښې غواړي دخپل قوم دوه غښتلي سرداران دې ته معرفي کړي چه د حکومت په خدمت کښې شامل شي (۱) گرگين دا مېلمستيا ومنله. د مېلمستيا ورځ را ورسېدله: د پښتنو ملي زعيم ميرويس خان د قوم د مشرانو په مصلحت ځوتنه پښتانه په مخصوصو ځايو کښې سره وويشل چه هلته دې اشارې او فرصت ته منتظره وي .

گرگين دخپلو ملگرو او ځوتنو محافظينو سره د باغ خواته وخوځيد او هلته ورغی؛ ميرويس او د پښتنو نورو غټانو مشرانو په ډېرې گرمۍ دده «هر کلی» وو او په «ښه راغلې» ئې وکړه مېلمستيا ډېره مجلله وه هر ډول شراب د دوی د پاره مهيا شوي وه او هر مېلمه دومره وخښل چه بې هوښه ولوېدل، او ياد سيد جمال الدين افغاني په اصطلاح په دې مېلمستيا کښې د مېلمنو د مرگ شراب تهيه شوي وه او پخپله ميرويس ئې ساقي شو . — پر ټا کـل شوي وقت د انتقام اشاره يا د وطن د آزادي زغ چه دا تولي مقدمې او نيرونگونه د همغه د پاره وه ، د ملي زعيم ميرويس له خوا وشو په دې اشاره او زغ گرگين او د گرگين ملگري د پښتنو تر تورو تېر شول او دا د هغو زرو زرو بېگناهو پښتنو د وينو انتقام و ، چه د گرگين د شخصي اميالو او مقاصد و په اثر قرباني شوي وه .

په دې کښې چه د گرگين قاتل څوك و، بې د محمد مهدي څخه بل مؤرخ په دې باب کښې څه نه ليکي، محمد مهدي په جهان کشای نادري کښې ليکي چه « مراد خان » نامي د ميرويس په امر گرگين مړ کړ ( ۲ ) او هم ليکي چه دا مراد خان نامي ترښځي و .

نور مؤرخين په مجموعي حيث د گرگين وژل ذکر کوي - مگر بې له سر جان مالکم . سيد جمال الدين افغاني او ميليسون نور مؤرخين لکه محمد هوتك ،

(۱) تاريخ افغانستان پښتو ترجمه ۲۰۷ مخ ( ۲ ) جهانکشای نادري ٦ مخ .

دافغان او پارس د جګړې لیکوونکی او سلطان محمد او نور ـ د ګرګین دوژلو وضعیت بل ډول په جلا توګه بیانوی یعنې دمېلمستیا ذکر نکوی ـ مثلاً سلطان محمد لیکی چه یوه شپه ګرګین خان د کاکړو د طائفې د تنبیه دپاره تللی و ، دارغسان د « ده شیخ » په کلی کښې میرویس او نورو غلځیانو دشپې یرغل پرو کړاو شهنواز خان ئې دستګیر او کار ئې ورتمام کړ ( ۱ ) بالعکس بل مؤرخ لیکی چه میرویس تردوهمې جرګې وروسته د ګرګین قصرته ورغی او په بلوڅانو پورې ئې و تړل چه هغو پر نورو پښتنو حمله کړې ده ـ ګرګین دستي خپل افسران را وغوښتل اودبلوڅانو دنیولو امرئې ور کړ ، هغوته ئې وویل « زه درسپېږم » بیائې میرویس ته مخ را واړاوه اووې ویل : « تاسې هم ژر خپله وسله را واخلی اودخپلو نفر یو سره زما سره ولاړشی څوچه د ګرجي عسکرو سره یو ځای شو اودمخه تر هغه چه غلیم یوه شي یرغل پرو کړو ! » ټول کاروونه په دې حکم ختم شوه مګر میرویس پټ دبلو څومشرانو ته خبرور کړ اوهغه ئې دغفلت له خوبه و یښ کړه اوهغوته ئې خبرور واستاوه چه : « داهم هغه ورځ ده چه موږ او تاسې سره ټاکلی وه او تاسې قول راسره کړی و ! »

فوراً میرویس د درو زرو پښتنو سره د ګرګین رارسید وته معطل و ، اوپه ډېری سرانبې ئې د ګرګین د راتګ انتظار یوست ـ تر لږ ګړی وروسته ګرګین له زرو تنو محافظو سره راورسید ـ بیله دې چه خبروی دپښتنو ددوو کتارو عسکرو په منځ کښې داخل شو اوله هری خوا محاصره شو او دفرعون په شان د مرګ په دریاب کې ډوب شو او د ټولو عسکرو سره له دنیا ولاړ او یو نفر هم پاته نشو چه دد ې قربانۍ خبر قندهار ته یوسی ( ۲ ).

خو د پټې خزانې لیکوونکی محمد هوتک چه پهوتکي دربار کې روزل شوی دی

---

( ۱ ) تاریخ سلطانی ۷۲ مخ ( ۲ ) دافغان اوپارس جګړه مخ

او ده قول ته باید ډېر اعتبار ورکړه شي په مجهول ډول لیکي چه : « اولس ټول سول او جنت مکان حاجي میرویس په قندهار ور ننوتل ، او د ښمنان ئې ټول مړه کړل » ( ۱ ) کټه هم دا قول د سرجان مالکم ، سید جمال الدین افغاني او میلیسون له قولو سره چه مېلمستیا یاد وی تر یوه ځایه پوري منافي نه دي ، ځکه چه دا مؤرخین هم وایي چه میرویس د ګرګین تروژلو وروسته سره د نورو مشرانو ښار ته داخل شول ، مګر بیا هم تصریح ئې نه ده کړې .

❀ ❀ ❀

**دده‌ي اقدام نېټه :** مؤرخین دده‌ي اقدام په نېټه او تاریخ کښې چه د پښتنو ملي قائد د آزادۍ غوښتلو په نیت کړی دی ، یا په بل عبارت د ګرګین د وژلو په تاریخ کښې مختلف دي :

شیرمحمد د ۱۱۲۰ هـ د صفري میاشت لیکي (۲) سلطان محمد ۱۱۲۱ هـ د صفري میاشت ټاکي (۳) او نواب صمصام الدوله دا اقدام په ۱۱۲۰ هـ کښې بولي (٤) مګر خافي خان چه د خپل وخت حوادث ئې تر ۱۱۳۵ هـ پوري لیکلي دي او د هوتکي شاهانو معاصر دی دده‌ي اقدام تاریخ ۱۱۱۹ هـ لیکي وایي پدې تاریخ د هند د ربار محمد اعظم شاه ته د ګرګین د وژلو خبر راورسید (٥) میلیسون د افغانستان په تاریخ کښې ۱۷۰۹ ع = ۱۱۲۱ هـ کال ښوولی دی (٦) او نورالله لارودي د «زندګاني نادر شاه» په کتاب (۱۱۲۱ هـ) کال لیکلی دی (۷) د تر کتازان هند مؤلف بیا (۱۱۲۰ هـ) کال ضبط کړی دی (۸)

---


(۱) پټه خزانه ۹۷ مخ

(۲) خورشید جهان ۱۳۲ مخ (۳) تاریخ سلطاني ۷۲ مخ

(٤) ماثر الامراء - ۳ ج ۷۰۱ مخ د کلکتې طبع (٥) منتخب اللباب ۲ ج ٦٤۳ مخ

(٦) د تاریخ افغانستان پښتو ترجمه ۲۰۸ مخ (۷) زندګاني نادرشاه پسر شمشیر ۹ مخ

(۸) تر کتازان هند ٤ ج ۱٤٤ مخ



د قندهار زوړ ښار د غره پر سر

مگر تنها هغه کتاب چه موږ له ټولو اشتباهاتو څخه خلاصوی او د هغه قول ترټولو مؤرخینو موثق او د اعتماد وړ دی همدا«پټه خزانه» ده چه مؤلف پخپله په وقایعو او پېښو کښې حاضردی او مستقیماً له خپله پلاره روایت کوی او لیکی چه : «په ۲۹ د ذیقعدةالحرام سنه (۱۱۹ ) هجری اولس ټول سول او . . .» (۱) او هغه څه چه ریدی خان په خپله محمود نامه کښې وایی (۲) :

گرگین یې مړ کاټول گرجی سو کشتار قوم کا خلاص له ظلم و جوره غفار
چه داسی کار و کا حاجی گرندی د پښتنو ناموس یې و کا خوندی
کال وېوسل ذونس او زر په شمار خلاص سو له ظلمه د گرگین قندهار

هم ددې مدعا تائید کوی . نو په مؤرخینو کې هم هغه د خافی خان قول په منتخب‌اللباب کښې درست او د پټه خزانې د روایت سره موافق دی . ځکه نو د ذیقعدةالحرام نونسمه ورځ او (۱۱۱۹ه) کال د گرگین د وژلو تاریخ او هم عموماً د پښتنو د یوه ملی نهضت نیټه او خصوصاً د هوتکو د شهنشاهی د تاسیس تاریخ باید وبلل شی او په همدې تاریخ تربوی لوبی اوز دې و قفېې وروسته بیا د پخوانی عظمت په شان په افغانستان کښې یو «ملی حکومت» تاسیس کېږی او بیرته د پښتنو مملکت د پښتنو د پاره آزادېږی .

❀ ❀ ❀

د قندهار د ښار نیول : گرگین ووژل شو ، مگر د قندهار د ښار نیول او فتح کول لاڅه آسانه کار نه و ، ځکه چه په ښار کی د گرجیانو ډېر عسکر پروت و او د کلا پر برجانو او دروازو یې توپونه اېښی وه . هغوی کولای شوه چه هم د میرویس سره مقابله وکړی او هم د ښار خلك د توپکو تر خولو لاندی کړی لدې کبله نو باید داسی چاره سنجولې شوې وای چه نه د ښار خلك یقتل رسېدلی

(۱) پټه خزانه ۹۷ مخ (۲) پټه خزانه ۱۴۸ ـ ۱۴۹ مخونه .

وای او نه د ښار په نیولو کښې د میرویس آزادی غوښتونکی زلمیان دمقابلې سره مخامخ شوی وای ـ نو دا چاره یوه حربې خدعه وه ، چه میرویس کار ځینې واخیست او هغه داوه چه پخپله ده د ګرګین کالي واغوستل او دده ملګرو د ګرګین د ملګرو او ساتونکو کالي واغوستل او د هغوی په آسو سپاره شول ترغونی ماښام په هغه د بد به او برم لکه ګرګین چه روانیدیء دښار خوا ته روان شو ـ او نوریې دري زره پښتانه د ښارشاو خوا پټ کښېنول چه دده اشاري ته معطل وی ـ چه د ښار دروازې ته راورسېدل ګرجی پېره دارانو د میرویس پرسوارلۍ د ګرګین د سوارلۍ خیال وکا ، پرې یې ښودل چه ښارته ننوزی په مجردی چه ښارته ننوتل د دروازې او کلا پر محافظینو یې یرغل وکړ ، په دې وخت کښې هغه درې زره پښتانه چه د باندی منتظر وه هم ښارته را داخل شول او د ګرجیو عسکر یې ټول تارو مار کړل او ښار ئې و نیو او دستی میرویس اعلان وکړ اوجارچی جار وواهه چه:

«دهغه چاماال اوځان په امان دی چه ګرجی اوپارسی عسکر رونه ساتی او ځای ورنکړی!» (۱)د ښارخلکو دا د آزادۍ اعلان په ډېره خوښۍ واروېده او یوزتنی شرط ئې ومانه، نورنو متجاوزینو ګرجیانو سرپناه اود ساتنی ځای نه درلود ټولو دمرګ یاکډئې و کولای شوه د ښتې پر لور وترپال او په دې صورت دقندهار ښار چه له څه مدې راهیسی کله دمغو او کله دپارسیانو ستر ګی ورته سرې وې او حملې به ئې پر کوائي بیا دپښتنو دملي حکومت مرکز شو .

په همدې شپه میرویس خدای ته سجده وکړه اووې ویل:

« خدایه! دایو دهغولویو کارو څخه و، چه مورماته وصیت کړی و، او ماته ئې راسپارلی و، داخو ستا دعبادو اوبندګانو خدمت و، چه ماتر سره کا » (۲)

(۱) دمیلیسون «دافغانستان تاریخ» پښتو ترجمه ۲۰۹ مخ ـ دسید جمال الدین د تتمة البیان ترجمه ۷۸ مخ سرجان مالکم ۱۹۸ مخ (۲) پټه خزانه ۱۷۷ مخ .

## درېیمه جرگه او دمیرویس وینا: کوم وخت چه قندهار دمخالفینو څخه

خالي شو، نو میرویس د قوم مشران او غټان راوبلل او درېیمه جرگه ئې جوړه کړه یا په عصري عبارت «لویه جرگه» ئې تشکیل کړه، چه ټول رابللي شوي مشران راغو نډ شول نو میرویس ولاړ شو او داوینائي په فصیحه او خوږه لهجه ایراد او بیان کړه:

«پښتنو! په ایمان در ته وایم چه زما مطلب یوازې او یوازې ستاسې آزادي وه او آزادي هغه بې بها نعمت دی چه د هغه د لاس راوستلو د پاره دا ټول چاو نه او جنګونه رواوه – گرگین له منځه ووت.

د قندهار د پښتنو د پاره چه تل ئې د طاقتور مغل سره اوږه ور کړې او مقابله کړې ده د هغو عسکرو تښتول چه د اصفهان له جرگانو څخه تشکیل شوي دي څه گران کار نه ښکاري (۱)

که زما سره لاس یو کړئ او متحد شئ او زما ملا و تړئ، زه به ستاسې له غاړې د ذلت او مړیتوب ځنځیر لیرې کړم او د آزادۍ او عزت جنډه به مو د وطن په هر گوټ او د جهان په ټولو ملتو کښې پورته شي – او د پارس د شیعه گانو د سلطې جوغ به مو له اوږو بیرته شي (۲)

پر خدای توکل وکړئ – زړونه وخوشال لرئ، په داسې حال کښې چه زموږ او ستاسې نیتونه پاک او خالص دي، د لوی خدای په کومک کولای شو چه پر غنبتلیو روافضو باندې بری ومومو.

اوس د پارس دولت د ناهلانو په لاس کښې ولیدی او له ډېرې مودې راهیسته د نړېدو خوا ته د رومي. زه چه په اصفهان کښې وم په ټولو حالاتو ئې خبر وم د دولت غټان پر دوو لارو روان دي، په تدبیر او رایو کښې یو د بل پر ضد کار کوي او یو د بل د پښو خاورې سره کاږي، هر فرد ئې د خپل نفس تابع او پیرو دی – د ټولو

(۱) دمیلیسون د افغانستان تاریخ پښتو ترجمه ۲۱۰ مخ (۲) مرجان ما لکم ۱۹۸ مخ سید جمال الدین ۷۹ مخ

مشغله همیشه عیش اوعشرت دی ـ دولت اوملت ئې هېر کړی دی ـ هیڅ ستر ګور سرې نه و، چه دمملکت دنظام په باره کښې ئې خوله ښوروولې وای ۰

دخدای له خوا هم بلاوی باندی نازلېدلې چه یوه بلا خارجی ایلچی او سفیرو چه دشیروان او آذربایجان ارمنیان ئې یاغیتوب ته پاځول، چه په آخر کښې ګرجستان هم دروسیې تابع شو او شاه ئې دښمنا نو له هجوم ده ډېر متزلزل و ایا په داسی حال کښې بیاهم امکانلری چه دوی لازمه تدارکات ونیولای شی؟

خدای مومل اوساتند وی دی ـ نو بری اوفتح هم زموږ ده ۰

(نعوذ بالله) که موږ مقاومت ونشو کولای بیاهم دهغه پاچا زموږ مرستی ته حاضر دی ـ خو که موږ په قربانی او ځان نثاری سره زیار وباسو هغه ملك او مال چه مونیولی دی اویا ئې نیسو هغه ټول زموږ دی، نو ایا لازمه ده چه دا ټولی ولجې چه مو اوس لاس ته راغلی دی بیرته پخپل لاس له لاسه وباسو؟؟

دېښتنی لوړ همت څخه کار واخلیء، څو (ځلور طلاوی اوقبه) چه هره ورځ پارس ته تلله اوهغه ثروت چه زموږ له وطنه ډېر دیولاس ته ورتیء راوسپموواونور ثروت لاهم لاس راولو چه خپل ځان بډای کړو اوخپلې اړی په پوره کړو ۰ (۱)

اوبر سېره پردې ددې ضاله او ګمراهی ډلی ورکول دټولو مسلمینو وظیفه ده او ددوی سره جګړه یوه «فی سبیل الله غزاده» (۲)

دائی وویل او دمکې دملایانو فتوګانی ئې ملی جرګی ته ښکاره کړې او وی ویل: ـ «ـ د خپلی تیری خبری پر صدق تر دې ښه شاهد نسم پیدا کولای» په پای کښې میرویس خپله وینا په داسې الفاظو پای ته ور سو له چه دیوه مېړه وطندوست دخولې دآزادوزلمیانو داروبډو سره ورډوه اوداسی ئې وویل: ـ

---

۱ ـ افغان تاریخی ـ ترکی اثرمخ (۲) سرجان مالکم ۱۹۹ مخ ۰

« هغه څه چه د غیرت او شریعت مقتضا وه هغه می تاسی ته وویل اوس که ستاسی په مینځ کښې داسی څوك وی چه بیالاهم دمریتوب ذلت دآزادۍ پر عزت غوره گڼی او دآزادۍ په دې رشته سره چه تاسی ته دآسمان لهخوا راغلې ده ځان نه تړی یعنی آزادی ئې خوښه نه ده اود ظالمو ملحدانو خدمت ئې دګرانو پښتنو ورونو تر متابعت خوښ وی ــ په ډ کهخوله دی ووایی هیڅوك به غرض پهونـکړی؛مګر دومره ده چه داسی څوك دی نو زموږ سره دهستوګنی هیله نکوی اوزموږ د آزادی خاوری او قومی ریاست تر پولی دی ها خوا تـه ووزی ــ او د کوم نوی ظالم پاچا تر سیوری لاندی دی ژوند وکـړی » ( ۱ ) دپښتنو مشرانو دمیرویس دا وینا په ډېرمینه اود لـګرمیواورېدله ، خصوصاً چه پهدې وینا کی له یوې خوا ددوی پښتنی اوملی احساسات په ښور راوستلی شوی وه ، او له بلی خوائې دا اقدام پر محمدی(ص) شریعت سم او برابربالهاودحجاز دعلماؤ فتواوی‌ئې پخپلو سترګو ولیدلې ــ اوهم لهبلی خواچه څهوخت دګرګین ترسخت فشار لاندی وه ، اوس‌ئې په هوسائۍ ساوئیستله اوهم دبل پلوه دپښتنی طبیعت له مقتضا سره سم له ډېره زخته آزادۍ ته تږی ناست وو ــ نوددې څو عواملو په اثرئې دمیرویس سره پښتو وکړه اودده پر اقدام‌ئې آفرین او شاباش ووایه اویاد « لاړودی» یقول‌ئې دمیرویس سره قول وکړچه څوچهئې وروستنی څاڅکی وینه په بدن کی وی دخپلی آزادۍ حاصلولو په لاره کی به زیار باسی او خپل همت بهنه سپموی اودده له امره به سر نه غړوی ، میرویس چه لهخدایه دا وخت غوښت پخپلو ورلـګو ونـکو ویناوئې دپښتنو وینی په جوش راوستلې اوپه آخر کی‌ئې ورته وویل :

---

(۱) دمیلسیون دافغانستان‌تاریخ ۲۱۱مخ ــ سرجان مالـکم۱۹۹مخ ــ سیدجمال‌الدین ۷۹ مخ.

« زما ورونو ! الهي انتقام نژدې دی ، پښتانه پهلوانان باید د جور او ستم تر بار لاندی ولاړ نشي . » (۱) په همدې ورځ پښتنو میرویس د ځان مشر و ټاکه ــ کڅه هم میرویس د شاهی رتبه او حیث درلود مګر ده پر ځان د پاچا نوم نه کښېښود (۲) د شاه او شاهي د نامه څخه ئې ځان وژغوره او یوازې ئې د « ملي مشر » په نامه اکتفا وکړه چه دا هم د میرویس یوه مخصوصه ممیزه ګڼلای شو او ځینی څرګندېږي چه میرویس دا ټول اقدامات او کړونه د کوم شخصي غرض د پاره نه وه کړی ، بلکه فقط او فقط د ملي لوړتیا او د ملت د آزادۍ د پاره ئې زیار یوست.

**دولجي نیول :** د ګرګین تر مرګ څلور ورځې وروسته د سهار مهال چه لاشنه څرګ وه د ګلا د سر محافظینو دلیري څخه ولیدله چه یوه لویه عسکري رساله د ښار خواته راځي او دا رساله همغه شپږ سوه ګرجي عسکر وه چه د بلو څو او کاکړو د ټرټلو د پاره استول شوی وه ؛ د دوی سره ډېری ولجې وې چه پښتانه ئې چور او چپاو کړې وه او هم دیوه کال مالیه نغدی پیسې ئې ورسره را وړې وې . دوی کڅه هم شپږ سوه تنه وه مګر رشتیا خبره هم دا ده چه ډېر جنګیالي او مړني زلمیان وه او د میلسیون په عبارت ډېرو جنګو د دوی څخه او سپنه جوړه کړې وه او د فولاد په شان ئې ټینګ کړی وه (۳)

دوی د ګرګین د مرګ څخه ناخبره ښار خواته راتله او د ښار له خوا هم دوی ته هېڅ نه ویل کېده ، څوچه ښه د ټوپکو او توپو تر خولو لاندی را غله ، نو ناڅاپه د ټوپکو او توپو د ګولیو سره مخامخ شول او په « اوربل » ئې استقبال او ښه راغلي وشوه . په دې وخت کی دوی وپوهېده چه معامله بل رازده او ښار د لاسه وتلی دی نو ئې په مقاومت شروع وکړه ، کڅه هم ماتې وکړه او د میرویس

(۱) زندګاني نادرشاه پسر ششمیر ۱۰ مخ (۲) تاریخ سلطاني ۷۲ - ۷۳ مخونه .
(۳) د افغانستان تاریخ - میلسیون ۲۱۲ مخ.

زلمیـا نو دوی تر گریشك او هیلمند پوری تعقیب کړه او د ډېر تاوان ئـې و رور ساوه تهول غنایم او نغدی پیسې ئې ځنې و گرځولې خو بیائې هم د خپل جلادت او مړانی په اثر و کولای شوه چه تر هیلمند پور یوزی او ځکه چه دمیرویس لښکر لامنظم نه و ، او هم دمملکت نوری چاری برهم او درهم وی لازمه ئې و گڼل چه بیر ته قندهار ته را وگرزی نو هغو عسکرو و کولای شوه چه ځانو نه خراسان ته ورسوی او د ډېری خسارې تر تحمیل وروسته نجات ومومی اودا واقعه پارسیانو ته نقل کړی اودهغو وحشت او پریشانی زیاته کړی ( ۱ )

دمیرویس بـله ویناا ود پښتنو ځلرمه جرگـه : تـردې وا قعـې وروستـه

میرویس بیا دپښتنو مشران اوغټان را غونډ کړه او هغه پښتانه ئې هم را وبـلل چه دښاره لیری په غرو کې اوسېدل اوحال ئې ور واستاوه چه : «موز بریالی شوو ژر راسیء او زموز سره یو ، سیء (۲) » چه دهغو مشران‌هم راورسېدل‌نو دځلرم وارد یاره جرگـه جوړه شوه . لمړی میرویس په پند او نصیحت ، وعد او وعید خپله وینا شروع کړه اودوی ته‌ئې دټینـگ عزم او استقامت توصیه کولـه. له‌یوی خوائې پښتنوته آفرین اوتحسین وایه دعا ئې ورته کوله اوله بلی خوائې دوی ته سختی پیښی اود پارس متقابله اقدامات‌یادول ، یعنی‌ده غوښته‌چه‌پښتانه دبیری او امید په منځ کـی وی ـ خو نه داسی مغروره شی چه د غلیم څخه بې پرواشی اونه دومره ئې زړونه وخیزی چه بیله شرطه تسلیم وی ـ بیائې نوداسی وویل :

« . . . حقیقتاً تاسوداسلام ددین په لاره کی یو لوی خدمت پای‌ته رسولی‌دی

---

(۱) دسیدجمال‌الدین دتتمة‌البیان ترجمه ۷۹ مخ .

(۲) دافغانستان‌تاریـخ ، میلسیون ۲۱۱ مخ .

سکه مو په مرمرکې کېندلي ده او د قيامت ورځې ته مو ښه نېك عمل پرېښي دی، په هغه لويه ورځ به ستا سي په حسنه اعمالو کې وشمېرل شي او ستا سي دياد ولو باعث به وگرځي . . ددې ښه کار له کبله دی ستاسي خواږه پر تاسي مبارك او ستاسي داروشي ! ستاسي دزيار او همت څخه مشکور يم ـ مگر په دې هم پوه شئ چه هغه فرمان چه گرگين د قتل په باره کښې داعتمادالدوله له خوا تاسي ته ښکاره کړی و، هغه جعلي و ـ او هغه ددې خبری په اثر کښې و، چه دينې غيرت زما څخه صبر او تحمل يووړ او نورمې نو پخپل ځان کښې دطاقت او صبر ځرك نشو . ايستلای او همدې غيرت او پښتنوالی زه مجبور کړم چه داسې وکړم .

تېر پر تېر ـ خو ترډې وروسته پر موږ لازم دی چه ټول په يوه زړه ، متحد شو دزړه له صدقه يو دبل ملاوتړو او د محمدی (ص) دين په لاره کښې خپل سراو مال فدا کړو . ځکه چه دا کار چه موږ کړی دی دپارس دشاه په نز ديو عصيان دی او دپارسيانو په نزد موږ باغيان يو، او دوی به ضرور دانتقام اخستلو په فکر کښې وی او عسکر به راوليږی او په نتيجه کښې (العياذبالله) که لاس ئی برسی او بری ومومی د پښتنو نارينه به ټول ترتيغ وباسی او ښځې او واړهٔ به بنديان دمرييانو په توگه بوزی »

په دې وخت کښې يو خان ولاړ شو وې ويل :« دپارس دولت ډېر قوی دی او ډېر عسکرلری، دپښتنو دالږ زلميان به څنگه دهغو مقابله وکولای شي ؟»

ميرويس دستی پځواب کښې دا آيهٔ کريمه ر لوست چه : « کم من فئة قليلة غلبة فئة کثيرة» او ددې آية دمضمون سره ئې موافق دزړه دداډ وينا وی وکړې، څوچه دجرگې دهری خواڅخه دآزادی د ساتلو د پاره زغونه پورته شول او ميرويس ئی دځان کالخوای اومشر و ټا که ټول واك ئې ده ته ور کړ او جرگه منحله شوه .

په کار بیل : میرویس دستي پکار شروع و کړه اوټوله وسلهچه ورسره وه

اوبائي د ګرجي عسکروڅخه په غنیمت نیولی‌وه دخپل اولس پهزلمیانوئي وویشله او دمیلیسون په قول ټول وسله جوړونکي کارګرانو ته میرویس امرو کړ چه دپری وسلی اواسلحې جوړی کړی (۱) اوځینی ئې باروت جوړولوته وګمارل او بیائې دکلا ددیوالو اوحصارونو مرمت کاری شروع کړه، توپخانه ئې منظمه او باقاعده کړه او ټول عسکر ترنظام لاندی راغله (۲)

کوم وخت چه په دې تدابیرو اواستحکاماتو مشغول و، نووئي غوښته چه څه وخت نورهم داصفهان دربار غافل کړی- چه ددفاع دپاره ښه لازمه تر تیبات او تدارکات و نیسی- ځکه ئې نودحربي چل اوخدعی له رویه دستي دپارس دپاچا په نوم یو مکتوب و لیکه - په دې مضمون :

دمیرویس مکتوب دپارس پاچاته : (ترالقابو وروسته) «په دې تقریب چه

تاسی ماته اجازه را کړې وه او دمخه می جسارت کړی ، تاسی ته می خپل عرض وړاندی کړیو، چه بایدد ګرګین اوضاع او حالات ترمراقبت او څارلاندی و نیول شي ځکه چه ماویل ددهٔحر کتونه به په مملکت کښې دفتنې سبب شي اوس زما هغه پیشلوئی رښتیاشوه، کوم وخت چه زه قندهارته راورسېدم، څه مده تېره نشوه چه دېښتنو قبیلې سره یوځای شوې اوددې کبله چه دګرګین دېر ظلم او جور ئې نشوګالالای نو په پای کښې ئې ګرګین دښار ترکلاراویوست او به یوه کلی کښې په یوه هجوم هغه وواژه - بیائې دښار کلاونیو لهٔ زه پخپله مځکه مشغول وم، زهٔ ئې دخپلی مځکی څخه راوستلم دخپلوځانو مشر اورئیس ئې وټاکلم- اوس ئې دېرې لویې ډلی او جمعیتونه جوړ کړی دی- اونهٔ بنائي چه زما ددولت خیر اندیش غوندی په حق

(۱) دمیلیسون ددې عبارت څخه څرګندېږي‌چه هغه‌وخت په‌قندهار کښې‌داسلحه‌سازی صنعت ښه‌رواج درلود (۲) دمیلیسون دافغانستان تاریخ ۲۱۱مخ .

کښې اشتباه و کړیء - بلکه دا لاهم دشکر ځای دی چه په داسی نازك او داختلال په وخت کښې کوم ناپوه او ناحق شناس سړی ئې دځان په مشر توب نه دی تا کلی او زه ئې وتا کلم چه داهم ستاسی ددولت نیکرغی ده ځکه چه تر څو چه زه د پښتنو مشریم ددې اختلال په رفع کولو کښې به دزړه زیار باسم انشاءالله د تدبیر او فکر په واسطه هر مشکل آسانه کیږی او دا اور به وروروو مړ شی او داهواد به د پخوا په څیر نظام ماهوالمرام پیدا کړی، که په دې خصوص کښې تاسی ته څه وویل شی باید تاسی اهمیت ورنکړی او ددې خوا تول احوال او اوضاع ماته را وسپاریء او تر یوې مدې پوری باید داغماض العین معامله وشی او نه بنائی چه تهور وکړیء او دخود بینانو په خوله و داسی فتنې ته عسکر راو لیږیء - ځکه چه که عسکر راو لیږل شی، ټول پښتانه تر لوی او واړه پوری دمقابلې دپاره پر دوو پښو ولاړ دی. یا به دشاهی عسکر دژوبلېدو او مرګ سره مخامخ شی او یا که بیخی د پر عسکر را و لیږیء دخپل ژوند دساتلو په غرض به خپل مملکت دهندپاچاته تسلیم کړی او دا خبری دا کثرو دخولو هم اورېدلی کیږی - لنډه دا چه په دې وخت کې لازم دی چه ددې غوټې په خلاصولو کښې دتدریج او تأنی او احتیاط څخه کار واخستل شی او دا نکته د پر مهمه ده - ددې سیمې نظام دې بنده ته تفویض و بولیء - کڅه دا اشارة جسارت دی مګر سره له دې هم که د اهمال او امهال په صورت دتانی او تدریج دقواعدو او اصولو مراعات وشی دلوی خدای په مرسته او فضل به په کارو کښې د پر سهولت او آسانی پیښه شی. » (۱)

دې اقدام په اصفهان کښې څه تاثیر وکړ؟ شاه حسین او ده نور درباریان

---

چه په دې واقعه خبر شول، په هغه اندازه چه انتظار کېده متأثر نشول او نه ئې دا تصور کاوه چه پښتانه د آزادی لپوال دی، دوی به ویل: «تاریخی پېښې تکراریږی

---

(۱) افغان تاریخی مخ - دافغان او پارس جګړه مخ.

ځنګه چه د مخه هم قندهار دپارس څخه ځان جلا کړی و ، او دهند مغول ئی رابللی وه اوس به هم هغسی شی . مګر کوم وخت چه موز حمله پرو کړو بیرته زموږ دی » ( ۱ ). نود اصفهان دربار ددې په عوض چه قندهار ته عسکر راولیږی یوازی ئې محمدجامی خان دپښتنو د بیرولو او دمیرویس دتهدید د پاره قندهار ته دایلچی او سفیر په حیث را واستاوه چه پښتانه تهدید کړی او دشاه طاعت ته ئی راوبولی دا ایلچی چه قندهار ته راورسید دستی دپارس د دولت د عظمت او قوت او واك لوړی لوړی خبری ئې شروع کړې اوددې اقدام دبدانجام او د پښتنو دخوارېدلو اوذلیل کېدلو دمامې ئې وهلې ، چه پښتانه وبیروی مګر دده داخبری پرمیرویس بدی ولګېدلې او دده خبری ئی پرې کړی ورته وې ویل :

« ته چه وایې عقل او حکمت یوازی په ناز او نعمت کی متصوردی؟»
« اویوازی دهوسائی د خاوندانو په ماغزو کی ځای لری ؟ »
« زموږ غرونه هم پوهان او هوښیاران لری ! »
« که ستاشاه څه نورڅه کار کولای شوای ـ ستادې : »
«بې معنی او لا طـا ئـلو خبروته ضرورت نه و ! » ( ۲ )

امرئې وکړ چه دایلچی بندی کړی ، دمیلیسون په قول میرویس دده په حبس کښی دوه مقصدونه لرل یو داچه دپارس تیاری اوآماده ګی وځنډېږی ځکه چه ځواب ته به ډیل ور کېږه شی اوبل دا چه پارسیانو ته معلومه شی چه دی په رضاطاعت نه منی اودپښتنو د آزادی لوبه شروع شوی ده (۳) او کم دخپلوا کی جنډه چه میرویس جګه کړې ده بیرته به کښته نشی او داصفهان د دربار تطمیع به ددې پښتون نابغه پر روح څه اغیزه و نکړی .

مګر د میرویس داحرکت هم داصفهان په دربار کښی بدتلقی نشو او د « سرجان مالکم » په عبارت دوی ئی دغفلت له خوبه ویښ نکړه اوسر بېره پردې چه وائې ور ېدل

( ۱ ) دافغانستان تاریخ ـ دمیلیسون ـ پښتو ترجمه ۲۱۲ مخ
( ۲ ) د تمة البیان ترجمه ۸۰ ـ ۸۱ مخونه ـ اوسرجان مالکم ۱۹۹ مخ .
( ۳ ) دمیلیسون دافغانستان تاریخ پښتو ترجمه ۲۱۳ مخ

چه د د و ی ا یلچی بندی شوی دی بیائي هم د دوهم وار د پاره محمد خان د هرات حاکم چه دمیرویس زوړ اشنا او دحج دلاری ملګری و ، د نما یند ه په حیث میرویس ته راولیږه اودائی یقین و ، چه دده ملګرتیا اوخپلوی به د پښتنو ملی زعیم دخپل ملی او لوړ مقصد څخه راوګرزوی ، مګر کوم وخت چه دا ایلچی قندهار ته راورسید او میرویس ئی دانقیاد او اطاعت خواته وباله میرویس ورته وویل:

« لوی خدای ته شکر وباسه چه دزړې اشنائی اوملګری حق دی »
« را بـاندی ستا او زما ستر ګو ته در ښزی ، که نه وی تا به هم »
دهغه په شان سزا لیدلې وای ـــــــــ مګر پـو ه شه : »
« پښتـانه میـړونه به بیاد مریتوب پـه قید کښی و نـه لو ښز ی »
« زمو یو ځنځیرونـه وشلول او توری له تیـکیو وئیستلی شو ې »
« تر هغـو بـه پـه تیـکیو کـښی و نـه لو بـښزی ، څـو چه : »
« ستاسی پاچا مشـکوب او ستاسی مملکت مسلوب شی ! »
« الهی انتقام نژدې دی ، پښتانه پهلوانان دجبار منتـقم »
« د لاس آلات دی چه دپارس د ملحدانو دسزای دپاره ئې »
« انتخاب کړی دی ! » ( ۱ )

کڅه هم دمحمد خان سره نسبتاً ښه وضعیت وشو ، خو بیاهم حکم وشو چه دی دیوه معزز میلمه په نامه په محبس کښی وساتی .

هغه وخت چه داخبر د اصفهان دربار ته ورسید ، نو هغوی و پوهېدل چه بې له جنـګه د ښتیتی لاره نشته ، نو د هرات هغه حاکم ته چه د محمد خان په عوض مقرر شوی و ، په (۱۱۲۲ هـ ـ ۱۷۱۰ ع) کـال کې امر ور کړ چه خپل عسکر د قندهار

---

( ۱ ) سرجان مالکم ( ۱۹۹ ) مخ .

دحملې دپاره چمتو کړیءاو پرقند هاریرغل وکړیء ، دهغه عسکرهم تیار شول او دقندهار خوا ته وخوځېدل .

مګر میرویس‌هم دپارس د پاچا ددې حکم څخه بې خبره نه و ، د یر پښتانه زلمیان ئې دمقابلې دپاره تیار کړی وه ، او دپنځو زرو عسکرو سره د پارسیانو مخ ته ورو تل او ترلږ جګړې وروسته ئې دپارس عسکرو ته سخته ماتې ور کړه تردې ماتې وروسته د پارسیانو لښکر و به اتلسو میاشتو کښې څلو ر لویې حملې وکړې چه په څلورو سرو حملو کښې نا کامه وتښتېدل ؛ او په آخره حمله کښې خو دپارسیانو پنځو زرو عسکرو چه دمحمد خان د تبریز دحاکم ترقوماندانۍ لاندې وه ، د پښتنو دپنځو سوو زلمیانو طاقت را نه وو ، و تښتېدل او په دې حمله کښې ئې تر زرو تنو ډېر تلفات ور کړه اوپخپله حاکم ددروزامنو سره دپښتنو جنګیالیو پلاس ورغیء (۱) دمحمد مهدی دلیکنې پقرار پښتنو دفراه تر «دلخك» ار «دلارا» پورې مځکې بیر ته دپخوا په شان دځان کړې او دده په عبارت «با دلارام‌مرام هم آغوش شد واز منحل کامرانی جرعه نوش» (۲)

دې پر له پسو ماتیو داصفهان ددربار غیظ اوغضب یو په سلو کړ ، او پوه شول چه دپښتنو سره مقابله کول هغو مره آسانه هم نه وه ، لکه هغوی چه تصور کړی و ویوهېدل چه د پښتنو د آزادۍ پیاله تشول او نسکورول څه دعراقی شرا بو ساغر نه دی چه دشاه په سلامتۍ ئې پرسر پورته کړی نوئې دا لازمه وبلله چه باید دپښتنو دپایمالولو دپاره ډېر پوځ او لښکر تهیه او آماده کړی اودې کار څه مده هم غوښتله ځکه نودیوې خوا دپارس سلطنت په لویو حربی ترتیباتو او تدارک تو مشغول شو اودبلې خوا میرویس‌هم دمقابلې دپاره وسائل سنجول ، چه ددې وسائلو څخه یوه وسیله دهند ددربار سره دمیرویس مراوده وه چه بیرته ئې له سره تازه اوټینګه کړه .

---

(۱) دمیلیسون دافغانستان تاریخ ۲۱٤مخ (۲) درهٔ نادره ـ ۳۹مخ .

## دمیرویس مراوده دهند د دربار سره : دا باید وویل شي چه میر ویس

داستقلال او خپلوا کی تر اعلان وروسته ددېرو سیاسی مشکلاتو اوسختیو سره مخامخ شو، ځکه چه دیوي خوا دهند مغولی دربار داوضعیت په ښه ستر گه نه کاته او دپښتنو خپلوا کیئي ځانته لوی خطر باله، لکه «صمصام الدوله» او«خافی خان» مؤرخ چه لیکي: هغه وخت چه دپښتنو داستقلال داعلان خبر دهند مغولی دربارته راورسید، دهند د ربار ظاهراً دمجبوریت له کبله دپښتنو دا استقلال په رسمیت سره وپېژاند اوخپله خوښیئي ښکاره کړه او دبل پلوهئي داصفهان ددربارسره مفاهمي او مخابرې و کړې چه ددې پیښې (چه دخافیخان په تصریح ددوا ړو ملتو اوهوادودپاره دصائبي رایي څخهئي مخالف کار باله) پهدفع کیږر کوښښو کړی.(۱)

کهچه هم میرویس خان ته دا وضعیت ښه معلوم و، مګر دخپل سیاست لهرویه ئي نه غو ښتل چهدهند سره مراوده ونلري او یاد مخنی مراوده قطع کړي ، ځکه چه میر ویس د پخوا څخه دهند ددرباره سره مراوده درلوده ، خو لا هغه وخت چهئي تجارت کاوه دخپل ثروت اوبډائي پهسببئي دهند پهدربار کښي ښهشهرت اوامتیاز موندلی و اوخپل هغهتجارت چهدهند سره ئيدرلود ورځ پهورځ زیاتاوه اودهند د وزیرانواوحکمرانانوسرهئي خپلوی اچولې وه، تل بهئي دهغوسره مکاتبه کوله اودصمیمي اواعتمادي خپلوانو په واسطهئي دهغو دمراتبو په قرارهغوی ته سوغاتونه او تحفې لېږلې اودخپل وضعیت څخهئي هغهخبرول اوځانته ئي جلبول .

نو همدا سبب و، چهپهدي وخت کښيئي هم وغوښته چهدهند دربارځانتهمتوجه کړي، که کوم وخت اړتیا حس کړی یوملاترولری اوهمئيغوښته چهپهدي وسیله دهند او پارس ددولتو په منځ کي دخلاف نظر تکي پیدا کړي، ددې مفکوري

(۱) منتخب اللباب ۶۴۳ تر۴۶۶ مخ،یوری ۲ ج ـ ماثر الامراء ۷۰۱ مخ ۳ ج .

په اثرئې دهند دربارته دا مکتوب ولیکه . (۱)

دمیرویس مکتوب دهند دربارته:

«... موږ پښتانه نسبت وټولو ګـاونډیانوته دهند دپاچا په ګـاونډ یتوب ډیر افتخار کوو ـ ځکه چه زموږ په مذهب اودین را شریك دی اوله همدې نقطهٔ نظره تینـګ امید او اعتمادلرو چه دضرورت په وخت کی به زموږ سره ملګری او مرسته وکړی پښتنو دپا رس دپاچا پرخلاف تصمیم کړی دی ـ ځکـه چه هغه ز موږ دمذهب پرخلاف زموږ سره دجګړې دپاره عسکر را استوی څنګه چه اوس هلته (په هند کی) پوره امنیت دی، نو که یوه دسته عسکر زموږ دکمك دپاره راولیږل شی دلوی خدای په مرحمت به خپل ددین اومذهب پردښمنانو بری ومومو او پردوی به غالب شو!

پښتانه زړوردی اوښائی چه ځینی مقتضیات به له ښه مرغه زموږ سره مرسته وکړی چه ددوقشونو (هند اوپښتون) سره دیوځای کېدلو په وخت کی وکـلای شو چه دپارس ځینی توابع دپارس دحکومت پر ضد و پاڅوو! » (۲)

کوم وخت چه دا مکتوب دهند پاچاته ورلاندی شو، هغه ظاهراً ډیر خوښ اوخوشاله شو، اودمیرویس استازوته ئې ډیر دحرمت اوعزت په سترګو وکـاته اوپه احترامانه اومعززانه وضعیت ئې ورسره وکړ اودیوه اطمینان بخښه ځواب سره ئې رخصت کړه. مګر په دې ځای کی خافی خان دمنتخب اللباب مؤلف څه قدر داغراق او مبالغی خوانه تللی دی او داسې لیکی چه: میرویس د ښار تر تصرف وروسته «مصلحةً خطبه دقطب الدین بهادرشاه پنامه دبدنامی درفع اود استحکام دبندو بست دپاره وویله او د کـلا دتسخیر طلائی کلی ئې دیوه مکتوبه او د

(۱) دامکتوب د(۱۷۰۹م) کـال په آخر کی چه بهادر شاه دهندوستان پرتخت ناست و، دشاه دوزیرانو په عنوان لیکلی شوی دی ـ ماخذ دافغان اوپارس جګړه.

(۲) افغان تاریخی مخ ـ اودافغان اوپارس جګړه

کلاداری د سند سره دهغه دربارته ولیږل شو ـ خلعت او د آفرین باد فرمان او د کلاداری سند میرویس ته واستاوه . (۱)

په هرحال میرویس په دې مکتوبو ډیر خوشاله شو اودهغه دخوا د کومی پښتی څخه بالکل مطمئن شو ، اوبناپې چه دمکتوب په لیږلو کښی هم مهم غرض داو چه دقندهار او پښتنو په نسبت دهغه ددربار نظریه ځانته معلومه کړی چه په هغه باریك وخت کښی ددوی په نسبت څه نظریه لری ؟ اوس چه دهغه له خوا مطمئن اوبی غمه شو نودملکی او نظامی چارو سمولو ته ئې ملاوتړله او ډیر پارسی مفسدین اوفتنه غوښتونکی خلك چه لا په قندهار کی وه له منځه وئیستل .

دپارس ۳۱ زره عسکر دخسرو خان په قوماندانی : وموویل چه دهرات

حاکم محمد خان گرفتاره شو اولښکرئې ماتې وکړه او داموهم ذکر کړه چه د پارسیانو حملی بی اثره پاته شولې او ډیر له پسی شکستونه ئې وخوړل ، نوځکه دپارس حکومت تصمیم وکړ چه یوخورا لوی پوځ قندهار ته را واستوی اوویې غوښتل چه په دې پوځ کی دپارس د ډیرغښتلی اوجنگجویه او جګړن زلمیان د پښتنو پرمقابل دتجاوز دپاره راغونډشی ، خصوصاً دهغه وخت څخه چه د روسی سفیر اسرائیل اری له خوا مطمئن شول . یعنی وروسته تر هغه چه داسفیر ئې په احترامانه توګه رخصت کړ د « استراخان » په ښار کی مړشو (۲) چه دهغې خوا څخه دفارسیانو زړونه بی غمه شوه نودقندهار دتسخیر دپاره ئې لوی اقدامات شروع کړه اودا موضوع داصفهان په دربار کی تر مذا کرې لاندی و نیوله شوه مگر نظریات مختلف وه ، خوپه آخر کی په اکثریت فیصله شوه چه : خسروخان د وژل شوی گرگین وراره چه هغه وخت دگرجستان حاکم اوډیرد ماغدار سړی و ، دلښکرو په قوماندانی مقرر کړشی ، خوډخیل آکا او نورو گرجیانو

(۱) منتخب اللباب ۲ ج ۶۴۳ مخ د کلکتی طبع . (۲) د افغان اوپارس جګړه مخ .

دانتقام اخیستلو دپاره د قندهار په نیولو کې ښه زیار وباسي ـ او هم له دې جهته چه په هغه وخت کې گرجیان په توره او جنگ ډېر مشهور وه ځینو دربار یانو دامشوره ور کړه چه باید ټول عسکر د گرجستان دهغو علاقو څخه چه دپارس دحکومت پلاس کې دي راغونډ شي مگر مخالف حزب ددې نظریې سره مخالفت و کړوي ویل: که ټول عسکري گرجي واستول شي او هغه بریالی هم شي ، بنائي چه دپارس دحکومت له متابعته به غاړه وغړوي ، ځکه نو باید شپېږ زره پارسي عسکر هم دعباس قلي بیگ تر قوماندانۍ لاندې ورسره ولاړ شي او دا چه خسرو خان دوه سوه زره تومانه دلاري دمصرف دپاره غوښتي وه باید پنځوس زره تومانه ور کړه شي » ( ۱ ) دا قول « دافغان او پارس جگړه » د لیکونکي قول و ، مگر میلیسون په مجموعي توگه لیکي چه دپارسیانو داپوځ یو دیرش زره او دوه سوه تنه زلمیان وه چه له دې جملې څخه یو زرو دوه سوه تنه گرجیان وه او نورنو گډوډ د هر فریق څخه پکښې شامل کړ شوي وه ـ ( ۲ ) په دې ترتیب خسرو خان دیو دیرش زرو او دوه سوه نفرو په اعلی قوماندانۍ وټا کل شو ، چه قندهار ته ولاړ شي او دخپل آکا انتقام واخلي ؛ خسرو خان هم داامر په ډېرې خوښۍ ومانه او په ( ۱۱۲۳ هـ ـ ۱۷۱۳ ع ) کال یا د ځینو مؤرخینو د لیکنې پقرار په ( ۱۱۲۲ هـ ـ ۱۷۱۲ ع ـ ۱۷۱۱ ع ) کال د قندهار خواته په ډېر دبدباب او برم را رهی شو او بې له کومې پېښې فراه ته را ورسید ، په فراه کې میشته شو ، مخبران او جاسوسان ئې پرمخ واستول چه دمیرویس د لښکر و حال ورته وړي ، او هغه بیرته ژر را و گر ځېدل ، ځکه پښتنو د گرشك او فراه دمنځ درې خوشي کړي وې .

د خسرو خان نفاق اچول : کوم شی چه ډېر د تأسف وړ دی او بد بختانه هر وخت پردي او دښمنان له دې لارې څخه ښه کامیاب شوي دي او پښتانه ئې په دې وسیله ښه هر یه در کړي دي د پښتنو په منځ کښې دنفاق اچولو فتنه ده ، چه په

( ۱ ) دافغان او پارس جگړه مخ ( ۲ ) دمیلیسون د افغانستان تاریخ ۲۱۵ مخ .

دې وسيله چه دغليمانو دلاسه شوى دى ددې فتنې په ويښولو ښې ئې زيار ايستلى دى او كاميابشوى هم دى ـ نو خسروخان هم دا فكر دراود چه كه د نورو حربى چالو او آلاتو څخه ماً يوسه شي بايد دا «پښتون تباه كړونكې» حربه ورسره آماده وى او كار ځنى واخلى ـ په دې فكر كښې لا هغه وخت و، چه د پارس څخه ز وخوځېدىء ـ هغه وخت چه دمشهد څخه لا فراه ته نه و، رارسېدلى د عبدالله خان سره چه دحيات سلطان (مشهور په سلطان خد كهٔ ابدالى سدوزى خضر خېل) زوى دى يوځاى شو ـ دا عبدالله خان دهرات دابداليو پښتنو په غو ښتنه سره دخپل زوى اسدالله خان سره دملتان څخه هرات ته راخوځېدلى و ( ) خسروخان دستى دپارس دحكومت له خوا دهرات پحكومت اومشرتوب مقرر كړ او دقندهار دمحاصرې دپاره ئې كومك ځينى وغوښت ـ او هم ئې بيا دده په ذهن كښې دابدالى او غلځى ورك شوى فكر تحريك كړ، او دقبيلوى اختلاف مړشوى اور ئې بيا غوښت چه دعبدالله خان او ميرويس خان ترمنځ بل كړى ـ نو دهرات د ابداليانو څخه ئې ډېر زلميان چه عبدالله خان ئې پخپله مشرو، راغونډ كړه او دقندهار دمحاصرې دپاره ئې دخان سره بوتله، مگر خوشبختانه عبدالله خان چه خپل ځان دخپل پمقابل اوپردى اجانب پرخوا وليد، نو ملى عنعناتو او ملى قانون دده وجدان ته اجازه ورنكړه چه دخسروخان پراوزه ودرېږى او دپښتنو سره جگړه و كړى ځكه چه د پښتنو داملى قانون او نعنه ده چه كڅه هم پخپل منځ كښې زر كېږى او د ښمنى سره ولرى خو كم وخت چه دپردېو اوغليمانو مقابل ته خبره ورسېږى نو پرخپلو شخصى اوداخلى بديو او گونديو ډېره ژدى اوبو دبل په اتفاق د غليمانو په مقابل كښې جنگېږى، هغه وخت چه دپرديو جگړه ياى ته ورسېږى ښائى چه بيادنا پوهى او جهالت ا بدبختى په اثر هغه ډېره واخيستله شى او دوه ورونه پخپل منځ كې يو دبل وينى توى كړى ٠

---

(١) خورشيد جهان ١٣٢ مخ

نوداسبب و، چه د ناصری روضة الصفا د لیکنی په قرار عبدالله خان پر لاری خسروخان ته یوه بهانه و پلمه و کړه او سره دخپل لښکره خپل اېل ته ولاړ (۱) او دغلځیو او ابدالیو پرشخصی عناد و ئې دېره کښېښنود له .

دمیرویس آمادگی : د پښتنو ملي زعیم چه دپارسیانو دلوی لښکر څخه خبرشو پښتانه ئې خبر او ټول ئې جنگ ته چمتو کړل - امرئې وکړ چه ټول کښتونه او کرهنی وربېل شي اوحصار ته دی یوړه شي او په دې لاره کښې ئې دېر زیار و یوست چه مځکی او کرندي توری تشي شي او ټوله غله دي ښار ته یا کوروته ننه ائستله شي .

په دې ترتیب ئې دخوراکي مواد او نور ضروري شیزونه په کافی اندازه راټول کړه او د افغان او پارس دجګړې دلیکونکی په قول ددوو کالو دمحاصرې دپاره ئې پوره ترتیبات ونیول (۲) او دښارا کثرخلک چه سپین ږیری یا ښځې وې او دجنګ نه وه دښار څخه لیری ځایو ته واستول او په تېکرلو ډو ځایو کې ئې میشته کړه او هم ئې خپل دسپرو د نظام لو یه برخه د داؤ د خان ( د دپټې خزانی دمؤلف پلار) تر قیادت او سپهسالاری لاندی دفراه د دروخوانه واستوله ، څوورو سته ترهغه چه ئې په فراه ، سیستان او ګلستان کې د پښتنو سره مرکې وکړې او دنور زو ، بارکزو و اوساکزو دېرزلمیان ئې د ځان ملګری کړه پرخسروخان ئې چه دفراه څخه راوخوځید یرغل و کا او دهغه سره په جګړه اخته شوه (۳) پخپله میرویس خان ددېر ولبز وپلو عسکرو سره د هلمند پرغاړه د بست په کنډ وا او خرابو کښې دخسروخان انتظار یوست ، کڅه هم دپښتنو زلمیانو شمېر پوره نه څرګند نېږی خو دمیلیسون په قول دېرلبز و ، اودی

---

( ۱ ) روضة الصفا ۸ مخ ( ۲ ) د افغان او پارس جګړه مخ ( ۳۰ ) پټه خزانه ۱۹۷ مخ .

وایي چه سره ددې چه دپښتنو عسکر دېرلږو ، بیاهم دلمر نیوفتو حاتو په نشه دومرې مست وه چه دیوه پرش زرواو دوه سوه تنو پارسیانو مقابلې ته حاضرولاړوه (۱) دقندهار محاصره : خسروخان را وړاندی شو ، د هلمند ترغاړو راو رسید ! دلته

بیادجگړې اوربل شو ، کڅه هم ددې جنګ تفصیل ښه معلوم نه دی ، مګر دومره ئې ایـکلی دی چه دخسروخان لښکر په ډېرزوریرغل و کړ او پښتانه چه د هغو لسمه برخه هم نه وه نوځکه میرویس خسروخان ته موقع ور کړه چه دهلمند له سینده راتیرشي او دقندهار ښارته راورسیږی ، قندهار محاصره شو ، مګر میرویس تر محاصرې دباندې پاته شواودمیلیسون په قول «میرویس دناپلیون په څېر په (۱۸۱٤ع) دایقین درلود که پردارا لخلافـه مقابله شروع کړی نو ښه داسی کارو وکړی چه دښمن به دماتې او شکست نغاره و د نګوی (۲) »

پارسیانو ددې محاصرې دټینګولو دپاره هرډول اقدامات وکړه ، مګر کوم شی چه خسروخان اوده عسکروارخطا اوسراسیمه کړه داو ، چه هغوی په دې امید چه دمنې موسم دی غلې اووا ښه ډېرپیدا کیږی دځانه سره ئې هیڅ خورا که اوآزوغه رااخیستې نه وه ـ دلته چه ټول کښتونه او کرهنې له منځه تللې وې اومځکې ئې تشې توری ولیدلې خورا پریشانه او مضطرب شول ، مـګر بیا ئې غوښته داخپل اضطراب پټوساتی ، خو میرویس ددوی دآذوقې په حال ښه خبرو ، نو دښار ساتونکوته به ئې دصبراوتحمل کـولو توصیې را استو لې ؛ کڅه هـم د میلیسون په قول دښار څو کمزوروتنـو د میرویس او نورو پښتنو بې مشورې اومصلحته وغوښتل چه د میرویس سره هغسې معامله وکړی لکه پاریس چه دناپلیون سره و کړه ، یعنې وې غوښتل چه دخسرو خان سره خبـری اتری شروع کړې اوتر څوشرطو لاندی دروغی معاهده ورسره وتړې ، مګر ددوی دا در خـواست دخسرو خان امیدونه را پاخول او ښارئې دځان وباله

(۱) دمیلسون د افغانستان تاریخ مخ (۲) میلیسون ۲۱۵ مخ .

ځکه ئې د تسلیم بلاشرط څخه ډاسو اددوی « بله خبره نه اوریدله - دښار هغه څو خلك چه دخسروخان په تصمیم پوه شول او دیوې خوائې دمیرویس او اولس نارضائي و لیدله او د بلې خوا « بلاشرط تسلیمیدل» غوښتل کیده نو پښېمانه شوه تر بې شرطه تسلیمیدو ئې مرګ غوره و باله او د نورو پښتنو په شان ئې مقابلې ته ملا وتړله او د همت پښې ئې ټینګې کړې او په هره حمله کې ئې دپارس قواوې پرشا و هلې او هم د د ښندی له خوا ملی زعیم خپلې تیتې شوی قوې را یو ځای کړې او دسره ئې دبلوڅانو، نرینانو او د پښتنو د نورو قبیلو زلمیان راغونډ کړه او د قندهار دجنوب لـه خوائې د خسروخان پر پوځ یرغل وکړ او دښار ساتونـکو ته ئې داسې پیغام واستاوه :

« که موږ بې ننـګه شو، او دښمن بریالی شی زموږ څخه به یو هم ژوندی پرې نږدی نو »
« بهتره داده چه ټول په مړانه زیار وباسو، څو چه یا په نیکنامۍ مړه شو او یا »
« پر غلیمانو بری ومومو!» (۱) دښار پښتنو چه دمیرویس داپیغام واروید لا ئې دغیرت وینې په جوش راغلې او مقابلې ته ئې ملاوی وتړلې.

د خسروخان مرګ او دپارسیانو تېښته :

---

خسروخان اودده لښکری دمحاصرینو دمقاومت څخه دیوې خوا او د آزوغې او ذخیرې د نه لرلو څخه دبلې خوا دخپل موفقیت او بریالیتوب څخه ورځ په ورځ مأیوس او ناامیده کیدل، او هم دبلې خوا دمیرویس حملو ددوی کار مشکلاوه او ددوی معنویات ئې و رورانول، او هم سربېره پردې حملو دژمی حملې هم نژدې وې ځکه نو دوی نه پوهېدل څه وکړی؟ - او سی یا ولاړ سی؟

په دې وخت کی میرویس پر دوی دذخیرو درانـګ لاری هم وتړلې خسروخان

---

(۱) داستان ترکتازان هند - څلوم ټاخ ۱٤٦ مخ.

چه خپل نیم اردو په دې ګیر دار کې له لاسه ایستلی و. که څه هم محاصره یو کال ته رسېدلې وه، مګر بیائې هم تر مشورې وروسته د محاصرې څخه لاس و کښل غوښته ئې بېرته پارس ته ولاړشي مګر داردو په منځ کې ئې بې اتفاقي او نفاق پیداشو پارسیانو غوښته دیوې لارې ولاړشي او ګرجیان هم پردوو لاروسره ولاړه په دې وخت کې چه عباس قلی خان دپارس د دربار معتمد دا بې اتفاقي او تجزیه ولیدله قندهارته راغی او دپارسیانو داردو ټول حال ئې میرویس ته ووایه (۱) میرویس چه داحال واورېد او د دښمن په ډېرې وارخطائی خبرشو، امرئې و کړ چه دستی اته سوه اوښ په حربي لوازمو بار اوتهیه کړی او وروسته تر هغه یخپله د خپلو شپاړس زرو پښتنو زلمیانو سره ئې پرخسروخان حمله و کړه او په ډېر زړورتوب پرورغی، نوهغه، چه خسروخان ئې پخپل آکاپسی قبرته واستاوه، د ګرګین سره یو ځای شو او د پارسی مؤرخینو په اصطلاح «سر در پای قلعه گذاشت» او میرویس خان د ګران وطن صحنه د متجاوزینو له وجوده پاکه کړه او لکه سرجان مالکم او نور مؤرخین چه وائي دیوه پرش زرو اودوه سوو تنو څخه فقط پنځه سوه، یا اوه سوه تنو د ډېرې چابکۍ تېښتې په اثر خپل ځانو نه دپښتنو له تورو او مرګ د خولې څخه خلاص کړه (۲) نورو ټولو دخپل نارو اتجاوز سزا ولیدله او مړه شول او ددوی ټولې وسلې او حربي تجهیزات دپښتنو لاس ته ورغله.

میرویس پردې فتح او ډېرې باندې دلوی خدای شکر ادا کړ او په ډېرې خوښۍ قندهارته راوګرزېد او ټولي ولجې ئې په اولس ووېشلې.

دمیرویس دا لویه فتح یادخسروخان مرګ دروژې په ۲۷ په ۱۱۲۳ ه کال کښې وه (۳ او میلیسون ۱۷۱۳ ع کال لیکلی دی (٤

---

(۱) دافغان او پارس جګړه مخ.

(۲) سرجان مالکم ۲۰٤ مخ - میلیسون ۲۱٦ مخ - سیدجمال الدین ۳۵ مخ زندګانی نادرشاه پسر شمشیر ۱۱ مخ - تاریخ ادبیات ایران - اثر برون د یاسمی ترجمه ۱۰۱ مخ.

(۳) خورشید جهان ۱۳۲ مخ (٤) میلیسون ۲۱٦ مخ.

**دپارسیانو د بل لښکر ماتې :** دوه کاله وروسته بیادا اصفهان دربار یو لښکر سره جوړ کړ او د رستم خان په سرداری ئې د قندهار خواته راواستاوه، مګر څنګه چه زموږ ملی زعیم د پښتون ملت په اتفاق او مرسته د پر غښتلی شوی و، دې اردو هم څه و نکړه په جنګ کې مغلوب شوه او رستم د دې دپاره چه د خپلو اسلافو کانه په ونشی بیرته پارس ته و تښتېد، د پارسیانو دا شکست په (۱۱۲۶ھ ـ ۱۷۱۴ع) کال و(۱) او هم دا د سلطان حسین او د اصفهان د دربار وروستنی کوښښ و، چه پنا کامی تمام شو. مګر سلطان محمد او د جهانګشای نادری مؤلف او د روضة الصفا لیکونکی تر خسرو خان وروسته د رستم خان نوم نه اخلی بلکه د دې په عوض کی محمد زمان خان شاملو یا دوی چه د پر لښکر سره د قندهار خواته مأمور شوی و، خو متأسفانه پر لاری ئې نفس وخوت او د مخه تر دې چه قندهار ته راورسیږی ځان ئې حق ته تسلیم کړ او لښکر ئې و تښتېد (۲) په هر صورت تر دې پېښو وروسته میرویس د پښتنا نه مات مستقل او خپلواک او ملی مختاره مشر شو او د میلیسون په قول میرویس لمړی سړی دی چه (بې د هرات له ابدالیو) نور ټول د افغانستان قومونه او قبائل ئې د اسی سره متحد کړه چه د مخه نه وه لیدل شوی (۳) او د پښتنو د ریاست پایتخت ئې د قندهار زوړ ښار و ټاکه او د مملکت په نظم او نسق ئې شروع وکړه.

**د میرویس وفات :** د پښتنو ملی قائد او لوی زعیم میرویس تر ډېرو جنګو وروسته چه د متجاوزینو سره ئې وکړه او هغه ئې د خپلی خاوری څخه و شړل او د پښتانه ملت زړه آزادی ئې بیا د دوی په نصیب او پښتانه ئې د پخوا په شان آزاد کړه ـ

(۱) د میلیسون د افغانستان تاریخ ـ د پښتو ترجمه ۲۱۷ مخ ـ د ایران د ادبیاتو تاریخ د برون اثر ـ د یاسمی ترجمه ٤ ج ۱۰۱ مخ

(۲) جهانګشای نادری ٦ مخ او روضة الصفای ناصری ـ ۸ ج صفحه نلری ـ تاریخ سلطانی ۷۲ مخ

(۳) میلیسون ـ ۲۱۷ مخ

او دمملکت دغربی مځکوځخه ئې ترفراه او سیستان پوری بیرته د پښتنو کړې اودملي وحدت رسی ئې بیا وغښتله او ټینګه ئې کړه نو پدې وخت کې داجل استازی راورسید او نه ئې پرېښود چه داستر زعیم خپل نور افکار او آرزوګانې ښه عملي کړي ـ دذیحجة الحرام په ۲۸ ورځ په ۱۱۲۰ ه کال ئې دې استازی ته لبیك ووایه (۱)

که دده نورې آرزو ګانې عملي نشوې اوبائې ارت تشکیلات وضع نکړای شوه دا به ښاغلي لوستونکي دده دنه فرصت له جهته ونګڼي، ځکه چه څو لیکې د مخه مو ولیکل چه د پښتنو ملي زعیم په ۱۱۲۶ ه کال دمتجاوزینو له جګړو وزګار شو او په ۱۱۲۷ ه یعنی یو کال وروسته ئې وفات وکړ، نو دده د آرزو ګانو او افکارو دعملي کولو د پاره یو کال ډیر کم وخت و.

دافغان او پارس دجګړې لیکونکي دملي زعیم وفات داسې لیکي:

« دې معروف اودانشمند قهرمان اوه کاله (۲) په قندهار کې حکمراني وکړه او دپارس دډیرې غښتلي او مقتدرې امپراطورۍ په مقابل کې کلك ودرید او هیڅکله د یاس او نا امیدۍ اند یښنې دده د مخیلیې بار یکتر ینه رشته هم متزلزله نکړه ـ څوچه دده قوا دسن دلویوالي په اثر ورو ورو په تحلیل ورسیدل او سورت ئې نا توانه او مریض شو ـ د ده په ناروغۍ ټول پښتانه ویرجن او مغموم شول، همیشه به دده د پوښتنې د پاره د لې دلې پښتانه راتله او دده ګټور او مفید نصیحتونه ئې اروېدل او په هغوئې عمل کاوه (۳)

دمیرویس ورو ستنۍ خبرې : دپورته لیکو نکي دلیکنې په قرار کوم وخت

---

چه میرویس خپل دحال خرابوالی حس کړ نو دپښتنو مشران ئې راوغوښتل او په لاندې لندو لنډو جملو کې ئې داسې وصیت ورته وکړ:

---

(۱) پټه خزانه ۱۰۹ مخ (۲) اصلاً اته کاله دی. (۳) دافغان او پارس جګړه مخ.

«خپل ټول کارونه خدای ته وسپاریء او پر خدای توکل وکړیء ! »
«جنګ په مړانه پرمخ بوزیء ! »
«په هر کار کې شرا فمند انه وضعیت غوره کړیء اوخپل پت ساتیء ! »
«هر کله اوپه هر ځای کې سره متحد اوسیء ! »
«خپل هررګ اوپله قوی کړیء ! »
«هیڅ کله دپار سیانو اطاعت و نه منیء ! »
«په هر قوت اوسعیه چه ممکنه وي خپل دښمنان چه پر تاسي حمله کوی پرشا وو هیء ـ ځکه چه ستاسي دښمنان ددرباری اختلا فاتو په اثر اودوی دخلکو دفساد اوخیانت له کبله خورا په تلوار دفنا خواته روان دی ! »
«ددوی دشمپر له ډیروالي مه بیریږیء ـ ځکه چه تاسي متحد یاست »
«اوپر خدای موتوکل کړی دی . »
«یقین لرم چه دوی به مغلوبه کړیء ! » (۱)

په دې وخت کې ئې سالنده لنده شوه اونو رئې نود خبرو توان نه دراود ، په دېر تکلیف ئې سترګې رونې کړی اودشهادت تر کلمې دمخه ئې داوروستې جمله وه چه ویل :

« اصفهان ونیسیء: » (۲)

تردې وروسته ئې یوه اوږده ساویستله اودپاك اوسپیڅلی روح مارغه ئې جاودانی ځالي اوعلیین ته والوت (۳) اود آزادی خواهۍ په دنیا کې ئې لوړ مقام اوژوندی نوم پریښود اوتر مرګ وروسته موږته وائی :

« دننګ توته بد مې هر هله وی ـ
که پس له مرګه پر مزار راشې مینه! »

(۱) (۲) دافغان اوپارس جګړه مخ (۳) دافغان او پارس جګړه مخ

ده مزار : اوس ده مزار دقندهار دزاړه ښار په دوه کروهۍ ازدنوي ښار په شپږ کروهۍ کې د زاړه ښار دشمال غرب خواته اودنوي ښار غرب پلو ته دکوکران په کلي کې دی ، دده مزاردپښتنو دوړو اولویانو نراوښځو مرجع اوټول پښتانه دده مزار ته ورځي او دده د روح څخه فیض او مرسته غواړي ، داعلیحضرت شهید محمدنادرشاه په وختو کې ددې ملي قائد پرمزار د اعلیحضرت احمد شابابا د ګنبدی په شان یوه عالیشانه ګنبده جوړه شوه چه تاسی ئې مقابل عکس وینیء .

هو ، په یوه ملت کې چه دې ټبر لېږ حس هم وي خپل ملي نومیالي نه هیروي او تل ئې پخپلو زړو کې ځاي ورکړي وي .


* * *

# تر میرویس وروسته

څنګه چه په دې کتاب کې اصل غرض دملي زعیم اوپښتون قائد میرویس د ژوندون حالات بیانول دي او دهوتکو دوري مفصل حالات غرض نه دی نوځکه تر میرویس وروسته حالات خلص او په مجمل طور سره لیکو چه فقط دومره معلومه شي چه دملي زعیم تر وفات وروسته څه وشوه ؟

اودې برخي مفصل حالات به هم زه په بل کتاب کې ولیکم چه د تاریخ دعمومي مدیریت له خوا دهوتکو ټوله دوره ماته را سپارلې شوې ده چه هلته ئې ولیکم نوځکه که دشاه محمود اوشاه حسین دمیرویس دزامنو دپاچهۍ او جنګو مفصل بیانات نه وي دلته راغلي ګران لوستونکي به ماعفو کړي ، اودهمدې سببه داصفهان دجنګ تفصیل چه دپښتنو دخوا محاصره شوی و ، دلته نه ځائیږي او کله چه دهوتکو ټوله دوره لیکم هلته به ئې ولیکم

دمیرویس ورور عبدالعزیز : دمیرویس دوه زامن پاته شوه چه یو ۱۸ کلن او بل ۱۴ کلن و . ځکه چه دازامن ئې نسبتاً دسن دخوا ز ه کسیان وه نو د میرویس ورور چه عبدالعزیز نومېد دمیرویس پرځای کښېنوست . کښه هم دده



د ملی زعیم میر ویس نیکه هدیره په کو کران کی

نوم ملیسون اوسرجان مالکم او سیدجمال الدین عبدالله ذکر کړی دی مگر څکه چه سلطان‌محمد او شیرمحمد اوجهانکشای نادری او روضة‌الصفای ناصری اوپټې خزانې چه دهوتکو په دوره کې لیکلې شوې ده عبدالعزیز را وړی نو دلته هم دپټې خزانې قول ته ترجیح ور کړه شو .

دې سرې دورور په شان لوړ همت نه درلود ، بلکه هوسائي او آرامی خوښوونکی وضعیت ئې ؤ ، اود جنگ څخه ئې کرکه کوله ، نوچه مشر توب ده ته ورسېد دپښتنو مشران ئې را وغوښته ملی جرگه ئې جوړه کړ او پښتنو ته ئې داسی و ویل : - « تر دې ډېرو مشکلاتو او ډېرو جنگو وروسته به بنائی چه تاسی هم زما په شان د پارس د حکومت سره دروغی غوښتونکی یاست ؛ او آرامی به غواړیء ؟ اوس چه‌می مشر ورور مرحوم‌شو او پښتنو ته ئې لویه سوبه اوفتح گټلې ده نو که موږ دروغی او صلح غوښتنه وکړو د پارس پاچا به ئې په ډېره خوښی ومنی (۱) »

دده دې خبری دپښتنو په‌منځ کې‌شورماشور جوړ کړ اوهغه حرارت اومحبت‌چه ئې تر دغه گړی پخوا عبدالعزیز ته درلود په عمومی نفرت بدل شو اووې ویل چه : « موږ هیڅکله دادبې ننگی خبره نشو منلای - دا خبره دمیرویس نیکه دوصیت سره مخالفه ده که د ورور پر قدم نشې تلای نوروغی ته هم دومره تلوار مکوه (۲) » کڅه هم ملی جرگې دده خبره و نه منله مگر عبدالعزیز په پټه دپارس حکومت ته دروغی دالاندی شرطونه داستازی په ذریعه وړاندی کړه :

۱ : پښتانه‌دی دهغه باج څخه چه‌د گرگین په‌وخت کې اخیستل کېده‌معاف‌وی .

۲ : قندهار ته دی پارسی عسکر نه راځی .

۳ : دپښتنو پاچهی دی همیشه دعبدالعزیز دزامنو اولمسیانو وی . (۳)

---

(۱) دافغان او پارس جگړه‌مخ (۲) سرجان مالکم ۲۰۰ مخ

(۳) میلیسون ۲۱۹ مخ سرجان مالکم ۲۰۰ مخ - سیدجمال‌الدین تتمةالبیان ترجمه ۸۳ مخ

څنګه چه پښتنو خپله د آزادی په خپلو وینو لاس ته راوستلې او راتیولې وه نو چه د عبدالعزیز پدې ناوړه کار خبر شول عبدالعزیز تهٔې د ېرې سخر ګی سرې شوې ، په تېره بیا د میرویس زوی شاه‌محمود ، چه د آ کـا دا پېښنها دونه ولیدل د ځلو ښتو پښتنو مشرانو په مشوره ئې د شپې بـلې د نیاته واستاوه او دده د بې ننګیو جزائې د خپل خنجر په واسطه دده په تېر کی کښېښوله (۱) مګـر پټه‌خزانه وایی چه عبدالعزیز د ملت غم نه خوړ ، شو چه په ۱۲۹ ھ کـال د شپې د نارنج د قصر د بامه‌خطاسو اور او لوېد مړسو (۲) کڅه هم باید د پټې خزانی داقول معتبر وباله شي چه لیکو نکی ئی معاصرو ، مګر زماپه عقیده د همدې جهته چه لیکو نکی د عبدا لعزیز معاصردی نو نه ئی غوښته یا د هغه وخت سیاست تقاضا نکو له‌چه دده د مرګ نسبت شاه محمود ته‌و کړی که نه‌وی نورتـ‌ـل مورخین متفق دی ، د اوا قعه د میلیسون په‌قول د ۱٦۱ ع په مارچ پېښه شوه (۳)

د میرویس اولاد: میرویس چه وفات شو دوه ئی زامن (٤) او یوه ئی لور پاته‌شوه د مشرزوی نوم ئی «محمود» چه اتلس کلن و (۵) د کشر زوی نوم ئی «حسین» چه‌خوارلس کلن و (٦) د لور نوم ئی «بی‌بی زینبه» وه (۷) چه‌دلته به د ېر لنډ‌ لنډ د هر یوه معرفی و کړو :

شاه محمود : شاه محمود د پلار د مرګ په کـال کڅه هم اتلس کلن و ، مګر بیاهم د ېر مېړه پښتون زلمی و ، او پر پلارهم د ېر ګران وڅکه چه‌د پلار سره په

(۱) میلسیون ۲۲۰ مخ ، سرجان مالکم ۲۰۰ مخ ـ سیدجمال‌الدین ۸۳٦ مخ ـ تاریخ علی‌قلی میرزا ۱۲مخ خورشید جهان ۱۳۲مخ زندګانی نادرشاه پسرشمشیر ۱۱ مخ اونور...
(۲) پټه‌خزانه ۱۰۹ مخ (۳) میلیسون ۲۲۰ مخ
(٤) دافغان اوپارس جګړې لیکونکی لیکی چه د میرویس دری زامن پاته‌شوه مګرددریم زوې نوم ئې نه‌دی ذکر کړی مخ (۵) میلیسون ۲۱۷ مخ سرجان مالکم ۱۹۹ مخ
(٦) پټه خزانه ۱۰۹مخ (۷) پټه خزانه ۱۸۵ مخ



اعلیحضرت شاه محمود د ملی قائد میر ویس نیکه زلمی زوی ، چه په پښتنی قوت ئی متجا و زینو ته ماتی ور کړه او اصفهان ئی فتح کړ . ( ۱۱۱۰ه - ۱۱۳۷ه )

ته لو جګړو کې ملګري و ، او په حربي چارو کې ئې ښه تجربې حاصل کړې وې دپلار تر مرګ وروسته بیا دخپل آکا په خدمت کې ولاړ و ، او دپښتنو د کار وبار سره ئې ډېره دلچسپي درلوده (۱) مګر کوم وخت چه ئې دخپل آکا پیشنهاد و لید نو دا کاد کړو څخه بیزاره شو او دهغه کار ئې ورتمام کړ ، او څنګه چه د پارس او قندهار پخوانی رواج و ، چه دښار په هر خوا کې یو هیو منارهٔ و ه او په هره مناره کې به یوه نغاره دخلکو دخبرولو دپاره پرته وه ، هر وخت چه به یو مهم خبر و ، نو دا نغارې به وډنګېدلې او خلك په راغونډېدل (۲ محمود چه خپل آکا مړ کړ ، نو دا نغارې ئې وډنګولې او خلك راغونډ شول ، محمود دخپل آکا پیشنهاد دوی ته وښود او د پارسیا و سره جنګ ئې په آیت او حدیث ثابت کړ او بیائې څرګنده کړه چه دده آکا دخپل شخصي آرامۍ او خوش ګزرانۍ دپاره غوښته چه پښتانه بیا دپارسیانو تر لاس لاندې او دهغوی مطیع کړي او زموږ مملکت بیا وران شي . تردې وروسته ئې نو و ویل چه : «ما هغه و واژه !» (۳) پښتنو چه هغه پیشنهاد ولوست او ورمعلومه شوه چه محمود رشتیا وایي ، نو ده ته ئې آفرین و وایه (٤) او دی ئې دځان پاچا کړ او دشاهۍ لقب ئې ور کړ نو «شاه محمود» وباله شو . دا زلمی پښتون دپښتنو پاچا شو او تر ۱۱۳٤ ه کال پوري دافغانستان د پاچا په حیث ئې حکمراني وکړه او څو واره ئې دپارس او سیستان شرقي برخو ته لښکري وایستلې څو په ۱۱۳٤ ه کال د پارس دحکومت پایتخت (اصفهان) محاصره کړ او تر اته میاشتې محاصرې وروسته ئې دمحرمې دمیاشتې په ۱۱ یا ۱۵ په ۱۱۳۵ ه ـ ۱۷۲۲ ع کال دصفویانو وروستنی پاچا سلطان حسین خپل ځان او پایتخت د پښتنو لښکر و ته تسلیم کړ (۵) دې پښتون زلمي پاچا دخپلې شهنشاهۍ په وختو کې د اصفهان

---

(۱) دافغانستان او پارس جګړې مخ (۲) (۳) دافغان او پارس جګړه مخ

(٤) (۵) تاریخ سلطاني ۷۰ مخ ـ خورشید جهان ، مرجان مالکم ۲۰۹ مخ

تر فتح وروسته ډېرى لويى لښکر کښېږ وکړې ، څو چه تر دوه نيمو کالو پاچهى وروسته دېرات د مياشتې په ۱۲ شپه په ۱۱۳۷ ه کال په اصفهان کې ددماغى ناروغۍ له کبله ووژل شو . (۱) دافاتح مېړه پښتون په ۲۷ کلنۍ تردنيا تېرشو اود پښتنو په تاريخ کې ئې ځلانده نوم اوتوره پرېښوده (۲)

دده دژوند مفصل حالات او دده دجګړو دميدانو وضعيت او کوائف به په بل مفصل کتاب کې چه دهوتکو دوره ښيېږه ليکم کاملاً راوړه شي .


❀ ❀ ❀

شاه‌حسين : د ميرويس دوهم زوى حسين نومېد ، چه د ۱۱۱٤ ه کال دربيع‌الاول په ۲۳ د کلات په سيورى کې وزېږېد ، د عمر تر دوولسو کلو پورى ئې دفقه او تفسير او منطق اود بلاغت علوم ولوستل ، هغه وخت چه په ۱۱۳۵ ه کال اعليحضرت شاه محمود اصفهان فتح کړ ، نوخپل کشر ورور شاه‌حسين ئې دقندهار پرتخت کښېناوه ، اعليحضرت شاه‌حسين ډېر عالم اراديب اوعلم‌روزونکى پاچاو ، اودده عصر بر پښتنو باندې په ډېرى آرامۍ او راحت تېرشو ، غربى او شمالى خواته ترفراه ، سبزوار او هرات پورى او شرقى خواته ترغزنى او ګومل پورى ده حکمرانى کوله ، او پرځپېره پردې « پښين » شال اود پنجاب داسماعيل خان اوغازى خان ډېرې هم د شاه‌حسين په وختو کې فتح شولې (۳) همدارنګه دملتان لته هم دقندهار دقواو له خوا تهديد شوه اودپښتنو پرمخ تګ دملتان ترحدودو ورسېد (٤) ددې زلمى پاچا دعلم پرورۍ دثبوت دپاره همدا دليل بس دى چه په شاهى ارګ کې ئې ادبى انجمن تشکيل کړى و ،

---

(۱) تاريخ سلطانى ۷٦ مخ - خورشيد جهان ۱۳۵ مخ ماثر الامرا ۷۰۱ مخ ۳ ج روضة‌الصفاى ناصرى - مګر سيد جمال الدين او ميليسون ( ۱۷۲۵ ع = ۱۱۳۷ ه ) ليکلى دى .

(۲) در وضة الصفاى ناصرى‌بقول (۲۱) کلن و . (۳) حيات افغانى ٦۷ مخ (٤) سير المتأخرين ٤۸۰ مخ



اعلیحضرت زلمی پاچا شاه حسین دملی قائد میر ویس نیکه زوی ، چه هم عالم وه او هم توریالی.

(١١١٤ هـ - ١١٥٢ هـ)

او په هفته کې به‌ئې یوه ورځ دخپل وخت ډېر لوی علما او شاعران او ادیبان خپلې کتابخانې ته را بلل ، شعرونه به‌ئې اروېدل او ادبی مجلسونه به‌ئې کول شاعرانو ته به ئې سلې ورکولې (۱) چه دهمدې تولنې په برکت او ددې پاچا په‌امر دپښتو گرانبها اثر « پټه‌خزانه » میدان ته را ووتله او ولیکله شوه او نور ډېر کتابونه په پښتو کې پیدا شوه چه دهوتکو په دوره کې به مکمل ولیکل شي . اودې پخپله هم دپښتوژبې ښه‌شاعرو ، پرملي وزن‌ئې خوازه‌شعرونه ویل ، ددې‌علم‌دوست پاچا پاچهاهی تر ۱۱۴۹ هـ کال پورې دوام وکړ ، ځو دهمدې کال درجب په‌۱۷ نادر افشار دافغانستان خواته‌دضبط پخیال راو کوچېد ځکه چه ده ددرې ځلورو کالو پرله یسې جگړو په اثر دهرات دابدالیو حکومت له منځه اخیستی‌و ، اود پښتنودقواو باقی پاته برخه ئې هم په پارس او گرجستان کې ماته کړې وه ، ځکه ئې نو اوس بې دقندهاردغلځیود پایمالولو څخه بل کارنه درلود ، د کوچنی اختر دمیاشتې په دوهمه نادرشاه ترسیستان را تېر شو اود همدې میاشتې په ۱۸ ددلځك اودلارام لـه لارې دهیلمند غاړې ته را ورسید او ددې ځای ترنیولو وروسته د کوچنی اختر په ۲۱ تر هیلمند را پورې ووت د ۱۱۴۹ هـ دذیقعدې په اوائلو کښې دقندهار مستحکمه کلا محاصره کړه . شاه‌حسین دقندهار زلمی مدافـع سره دخپل معروف سپه‌سالار سیدال خان ناصر سره یو کال او څو میاشتې په مړانه دفاع وکړه او پرې ئې نه ښوده چه : نادر شاه سره دهغه خپل نظامی عظمت پر ښار تصرف وکړی ، د ۱۱۵۰ هـ دذیحجې لمړۍ ورځی وې چه دزلمی شاه‌حسین نظامی طاقت پای ته ور سېد ځکه چه ترهغه دمخه دهوتکو ددورې مشهور او زړور سپه سالار سیدال خان د شاه‌حسین دزوی « محمد » نامی سره د کلات په کلا کې دنادر دجگړنو پلاس ورغیء اودا نامتو او نومړی سپه‌سالار دنادر په امر د سترگو دنعمت څخه محروم

---

(۱) پټه‌خزانه ۱۱۱ مخ

او بروند کړشو (۱) ځکه نو شاه‌حسین هم نادرشاه ته تسلیم شو او دده ددې تسلیمېدو سره دهوتکو دشهنشاهۍ لمر هم ولوېد او لکه سلطان محمد چه لیکي : زلمی شاه‌حسین تر ۱۵ کالو سلطنت وروسته دنادر شاه په امر د پارس مازندران ته تبعید شو اوهم هلته دنادري قهر په زهرو دبرات په لسمه په (۱۱۴۹ ؟) باید (۱۱۵۲ هـ) وې له دنیا ولاړ (۲)

❁ ❁ ❁

دمیرویس لور میرمن زینبه : میرمن زینبه دملي‌قائد یوه عالمه او محترمه او هوښیاره لور وه ، داسلامي احکامو اوفقې اکثر کتابو نه ئې لوستلي وه ، دفارسي مشهور اومتداول کتب ئې هم ترپایه رسولي وه ، خپل دا تحصیل ئې دهغه وخت دمشهور اولوی عالم ملا نورمحمد غلځي څخه کړی‌و ، چه دې عالم دحرم ټولو مخدراتو ته درس وایه ، چه وروسته بیا پخپله میرمن زینبې داوظیفه پر غاړه واخیستله او دحرم او نورو نجنوته به ئې تعلیم کاوه (۳) وایی چه بي‌بي زینبه ډېره هوښیاره میرمن‌وه اودمملکت په اداري چارو هم‌ښه پوهېدله ، خصوصاً د خپل ورور شاه‌حسین سره‌ئې ډېرې‌فکري‌مرستې کولې اودپټې‌خزانې د مؤلف په قول هر کله به ئې دامورو مشکلات په صایبې رایې حل کول اوشاه حسین به‌هم ددې په خبرو عمل کاوه او ددې نصیحتو نه به ئې ار و بدل (۴) بلکه د «تاریخ افاغنه » د لیکونکی سید ظهورالحسن اوهم‌دسلطان‌محمد له قوله ښر گنديزي چه د قندهار د محاصرې په وخت چه نادر شاه محاصره کړی‌و ، هم د حکومت ټوله کار وائي‌ددې میرمنې پلاس کې‌وه‌اودمحاصرې

(۱) سلطاني ۹۲ مخ- نادر نامه قلمي ۱۰۷ مخ- زندگاني نادرشاه پسر شمشیر ۱۰۵ مخ
(۲) سلطاني ۹۰ - ۹۶ مخونه - خورشید جهان ۱۵۶ - ۱۶۱ مخونه - نادر نامه قلمي ۲۰۴ سیرالمتاخرین ۴۸۰
(۳) (۴۰) پټه خزانه ۱۸۰ مخ د کابل طبع .

په پای کې هم دا میرمن د ښاره را ووتله او د نادر سره ئې د متارکې مذاکره شروع کړه (۱)

برسېره پر دې، دې میرمنې داد ب سره هم زیاته مینه درلوده، تل به ئې د شاعرانو قدر کاوه او د پښتو انیو شعراو، دیوانونه به ئې لوستل، پخپله هم ادیبه او شاعره وه ښه ښه خوا زه اشعار ئې ویل چه د دې د اشعارو څخه یو شعر هغه مرثیه ده چه د خپل ورور شاه محمود په مرگ ئې پر ملي وزن ویلې ده او د دې د امنظومه هم د شعري لطافت څخه ډکه ده او هم پښتنی روح پکښې دی، موږ ئې د دې د اشعارو د نمونې په توگه را نقلوو :

ز غ سو چه ورور تېر له دنیا سو نا      قند هار وا ړه پـه ژ ړا سو نـا

زړه مې په ویر کې مبتـلا سو نا      چه شاه محمود له ما جـلا سو نا

* * *

دارو ني جهان را ته تورتم دی نا      زړه د ښپلتون په تیغ کړم دی نا

هوتک غمجن په دې ماتم دی نا      د پاچهۍ تاج مو برهـم دی نا

چه شاه محمود تېر له دنیا سو نا      قنـدهار وا ړه پـه ژړا سـو نـا

* * *

ځوانو، مېړه د توری جنگ و نا      ولاړ د کـام په ننګ و ننـگ و نا

دښمن له ده په وینو رنـگ و نا      پر میدان شیرو، یا پلنـگ و نـا

افسوس چه مرگ دده په خوا سو نا      قند ها ر وا ړه پـه ژړا سو نـا

* * *

محموده! نه یوازې خور ژاړی      پر مرگ دې تول له کلی کور ژاړی

خپلوان لا څه، پاچا دې ورور ژاړی      لښکر سپاه دی پلی سپور ژاړی

پښتون دی تول په واویلا سو نا      قندهـار وا ړه پـه ژ ړا سو نـا

---

(۱) تاریخ افاغنه - اردو د سید ظهورالحسن موسوی تألیف طبع دهلی ۵ مخ تاریخ سلطانی ۹۵ مخ

اصفهان پاته تاج نسکور عالمه! چه شاه محمود سو نن په گور عالمه!
دپښتون لمر سو، تیاره تور عالمه! راته د ښمن ه کا پیغور عالمه!
چه پاچا ولاړ پښتون گدا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

لښکر سو خپور پښتون ولاړ دی اریان په خوروخاي کا شاه محمود عالیشان
پاته سو تخت و تاج د توِل اصفهان زړه ئي راسوړ سو، کا خوښي دښمنان
وایی پښتون اوس بي پاچا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

آسمانه! بیا دي څه ستم کا خرگند و شلاوه تاجه د پښتون و، پیوند
دښمن دی بیا زموږ په ویر کا خورسند چه شاه محمود دی کا په قبر کي بند
پر کور مووير شور و غو غا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

هوتکو! ژاړی محمود شاه څه سو نا؟ پښتنو! ستاسي لوی سپاه څه سو نا؟
له اصفهانه ترفراه څه سو نا؟ پاچا چه و، حشمت پناه څه سو نا؟
دپښتنو پر تم فنا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

محموده! ځوان وې ولی ولاړې له ما؟ له تخت و تاجه ته پر څه سوی جلا؟
اصفهان و لی پاته سو ناله تا؟ سر دی راپورته کړه، چه څه کړی اعدا؟
د ښمن ولاړ بیا شاو خواسو نا قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

اورم ناري د غم چه کړینه فریاد پښتون په مرگ د شاه محمود سو برباد
زړونه چه تل په ؤښادمن سوه ناښاد دساند وزغ دی چه را وړینه ئی باد
ماتم زده پیر و برنا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا




د ملي قائد میر ویس نیکه وراره چه د اعلیحضرت شاه محمود تر مرگه وروسته
د اصفهان پر تخت کښېناست ۰ (۱۱۴۲ ه وفات)

وروره ! مقردی ستا مولا کی جنت     در دی کی تاته پس له مرگه راحت
روح دی وه‌شی دپه لویه ورځ د قیامت     مخ دی وه رون د خدای په مهرو رحمت
د خالق رحم تل پر تا سوتا     قند ها ر وا ړه په ژړا سو تا (۱)

* * *

دا میر من د وروغم د ډېره غمجنه کړه او بیائې د دنیا له کارو باره زړه سو ړ شو تل به د خدای په عبادت مشغوله وه او عمر ئې د قرآن شریف په تلاوت تېرا وه او وړو نجڼکیو ته به ئې لوست او لیك ورښود .

دمیرویس وراره ( اشرف ) : اشرف د میرویس وراره او د عبد العزیز

زوی و ، د اعلیحضر فاتح شاه محمود تر مرګ وروسته د ا یوه زلمی د یارس پر تخت کښېناست او په شاه اشرف مشهور شو . دی زلمی د خپلې پوهې او ذکاء په اثر کې د سلطنتي چارو اداره په ډېر ښه صورت سره وکړه او سیدال خان ناصر ( د هوتکو د دورې هېرو او پهلوان ) ئې بېرته په سپه سالارۍ و ټاکه او ډېری لښکر کښېږ او فتوحات ئې وکړل او ددې د عصر د مهمو وقائعو څخه یوه واقعه د بغداد د والی احمد پاشا د لښکر را تلل دی چه د اعلیحضرت شاه اشرف ـ جلوس په دریم کال د ۱۱۳۹ هـ د برات د میاشتې د ۱۲ څخه د ۱۱٤۰ هـ تر منځه پېښه شوه او شاه اشرف د هغو مدافعې ته ور جګ شو ، مګر پرې ئې نښو ول چه پښتني عسکر د هغوی سره په جګړه ونښلی څو هغه و ، چه دا واقعه د ده د ښه سیاست په اثر کې تر نه میاشتنې ډېر لبر جنګ وروسته په روغې او صلح سره فیصله او ختم شوه (۲) نو دده د جلوس په پنځم کال په (۱۱٤۲ هـ) دسلطان احمد ثالث ـ عثمانی خلیفه له خوا «راشد پاشا» نامی

(۱) پټه خزانه ۱۸۷ ـ ۱۹۱ مخونه . (۲) روضته الصفا ۸ ج ـ تاریخ نظامی ایران ۱ ج ٤۸۲ مخ

دسفارت په‌توگه دا علیحضرت اشرف دربار ته راولیږه او په عوض کې د پښتنو د دربار څخه هم محمد علی‌خان بلوڅ‌دایلچی‌گری په‌دول‌عثمانی دربارته واستول شو ، او په‌دې توگه ددې دوو دولتو ترمنځ روابط ټینګ شول (۱)

تردې وروسته نوا علیحضرت شاه اشرف دنادر افشار سره په جګړو بوخت شو او څنګه‌چه‌دپښتنوعسکر لادمخه هرپلوته سره تیت شوي وه او د قندهار څخه هم کومک نه رارسېدی‌او نادر افشار هم په‌ډېر زور کې و ، نوترډېرو سختو سختو جګړو وروسته پښتانه زلمیان اکثر تباه شول اوا علیحضرت شاه‌اشرف تر پنځو کالو اوږو میاشتو ترپاچهی وروسته دګرمسیر د«ملخان» کلاته چه دهیلمند پرغاړه ده ولاړ اود هغه ځای‌څخه دکښته بلوڅستان په لور روان شو، اوهلته دعبدالله‌خان بلوڅ‌دزوی له‌خوا چه ابراهیم نومېد مړ کړه‌شو - دده مرګ د۱۱٤۲ په‌آو اخرو کې واقع شوی دی (۲)

* * * *

---

(۱) تاریخ سلطانی ۷۹مخ - دسرپرسی سایکس دایران تاریخ ۷۱ مخ

(۲) تاریخ سلطانی ۸٦ مخ ماثرالامر - ۳ ج۷۰٦ مخ - دسید جمال الدین تتمه ترجمه ٦٤ مخ تاریخ نظامی ایران اج ۸۰ : مخ - نادر نامهٔ قلمی ۹۸مخ

# دمیرویس سپه سالاران

## او جنګیالی ملګری

اوس چه دمیر ویس داولاد دلنډی معرفي څخه وزګار شوو، نو بایده ده چه دملي قائد دهغو غښتلیو او نامتو ملګرو یا دونه وکړو چه ددهٔ سره په جګړو کې حاضراوده دخپل ملي لښکر سپه سالاران یاسالاران بللی وه، هغه دادی :

۱: سیدال خان ناصر :

څنګه چه دپټې خزانې مولف لیکي سیدال خان دابدال خان زوی او بابړی زی ناصر دی چه پلارئې دوازیخوا سرته په ډیله نومې ځای کې اوسیده. هغه وخت چه سلطان ملخي استقلال وموند نوبابړی زید دابدال خان سره راغلل او په اتغر کې میشته شول (۱) سیدال خان دهوتکو ددوری یومهم اوغښتلی اوپهلوان نظامی سپه سالارو، او بی مبالغی ویلای شو چه دا پښتون ژنرال د هوتکو د جنګـو ملی هیرو دی ځکه چه دی ددوی په ټولو جګړو کښې شریك و، اومهم جنګونه ئې کړی دی او په ټولو فتوحاتو کې (څه به داخل او څه په خارج کې) دخوراځلیدونکو کار نامو څښتن دی، او دمحمد هوتك په عبارت « په سخاوت او شجاعت زبدهٔ روزګار سو » دهغه وخته څخه چه میرویس ګرګین مړ کړ سیدال خان ناصر دپښتنو دلښکرو سپه سالارو تاکل شو او دمملکت په حربی او نظامی خدمتو کښې داخل شو. بیا هغه وخت چه صفوی لښکر دقندهار دنیولو دپاره راغله همدا ملی پهلوان دملی قائد له خوا دهغه دمقابلې دپاره ور مخ شو او صفوی لښکرئې څوواره پرله پسې ماتی کړې اوډېر جګړن ئې تري ووژل او دمیرویس خان دوخت په ټولو جنګو کې بریالی او فاتح و (۲) بیا چه ملی زعیم وفات شو اعلیحضرت شاه محمود ددې ملی ژنرال په مرسته اصفهان ونیو او دپښتنو شهنشاهی ئې تشکیل کړه او بیاد شاه محمود تر مرګ وروسته د اعلیحضرت شاه اشرف سره دپارس او عثماني او روسی

(۱) پټه خزانه ۱٦۹ مخ (۲) پټه خزانه ۱٦۹ مخ

په‌ټولو جنګو کښې ملګری او غښتلی سپه سالار و او په هر جنګ کې سوبه او بری دده په برخه‌وه .

همدارنګه‌وروسته دنادر افشار سره په‌مدافعوی جګړو اخته‌و ، اوهم دا سیدال وچه دپښتنو دشهنشاهۍ شخه‌ئې سخته دفاع کوله شو دادفاع ئې ترقندهاره راورسیدله، اوپه‌قندهار کې‌هم‌تروروستنې طاقت‌پورې دشاه‌حسین سره‌یوځای دنادر په‌مقابل کې‌وجنګیدۍ اودسیدال قوی‌روح تر پایه پورې نادرته سرټیټ نکړ اوڅوچه‌ئې کولای شوه دپښتنو دحق شخه‌ئې دفاع‌وکړه .

دسیدال جنګو نه :د۱۱٤۲ ه کال په محرم کې چه‌نادر افشار پر هرات حمله وکړه او دا بدالیانو دغټانو سره په جنګ اخته شو او شاه اشرف غو ښته چه بیرته خراسان دځان کړی په‌دې جګړو کې سیدال خان دپښتنو جګړونو او لښکر وسردار او قوما ندان و ،او په کرمان کښې میشته و (۱) دهغه کال دربیع‌الاول د۳ تر ۶ پورې د «مهمان‌دوست» مشهوره جګړه د پښتنواونادر افشار تر منځ‌واقع شوه‌چه په پای کې دواړو خواو ته سخت تلفات واو ښته (۲) تر دې‌جنګ وروسته سیدال‌خان‌داعلیحضرت اشرف له‌خوا دقز وین په حکمرانۍ مقرر او انتخاب شو او دلښکر په‌غوڼو لو بوخت شو . د۱۱٤۲ه‌د ربیع الاول د۲۰ تر۲۳پورې سیدال خان د اسلا مخان‌په ملګرۍ دخپلو اتلسو زرو عسکرو سره ئې دنادر شاه سره اوږه ور کړه . اوپښتانه له تهرانه‌را ووتل (۳)

دسیدال خان‌دری‌یمه‌دفاعی جګړه د«مورچه خورت» مشهوره جنګ دی چه‌دلته هم ،څه‌عسکرو قوماندانۍ په‌اسلام خان اوپخپله شاه‌اشرف اره‌درلوده او۱۱٤۲ه دربیع الثانی په آواخرو کښې‌ونښت . کومه آخرینه‌مقابله‌چه‌په‌پارس کې‌سیدال‌خان

(۱) (۲) جهانکشای نادری ۱۰۵ مخ(۳) جهانکشا ۱۰۸ - ۱۱۰مخونه او تاریخ نظامی ایران ۴۵۳-٤٤٥-٤٥٠

دشاه‌اشرف په‌ملگری دنادرشاه سره‌و کړه د«از قان» او «فسا» د پل جنگ دی
چه‌دهمهغه کال دجمادی الا خر په ۱۳ واقع‌شو او دپښتنو وروستنی ز لمیان
دشاه‌اشرف اوسیدال خان سره ددې فدا کاری صحنې ته ورووړا ندی شول (۱)

په‌۱۱۴۳ه کال دشوال په‌میاشت کښې چه نادرافشاردهرات‌خواته متوجه شو
اودهرات دابدالیو دخواجنگ ورسره‌ونښت‌نوابدالیانوداعلیحضرت‌شاه‌حسین‌څخه
مرسته وغوښتله اودهمدې درخواست‌په‌اثردربیع الاول‌په میاشت کښې دڅو زرو
امدادی‌نفروسره سیدال‌خان دهرات‌دوطنخوا هانو دکومك‌دپاره‌واستول شو (۲)

څو کاله وروسته د۱۱۴۹ه کال دذیقعدې په‌میاشت چه د نادر افشار اردو
قندهار محاصره کړ، داتاریخی محاصره چه‌په‌خورا شهامت سره‌ئې دفاع کېدله
دپیاوړی زړور ژنرال سیدال‌خان په‌همت او مړانه تریوه کال اړ څو میاشتو
پوری وځنډېده اودې زړور قوماندان تر آخر گړیه پو ری په ډېر ا ستقامت او
شهامت اودلاوری اوپښتنی غیرت‌دفاع و کړه‌اوځنگه‌چه نادر خپله‌څه قواد کلات
خواته واستوله نوسیدال‌خان هم دځلورزرو کسوسره هلته ولاړ اود کلات پر کلا
ئې دنادر دجگړونو سره پرسپین ډاگ سختی مقابلې و کړې ، څو چه په آخر
کښې داعلیحضرت شاه‌حسین دزوی «محمد» نامی سره د کلات د کلا دباندی پــه
جگړه کښې دنادر دلښکرو پلاس‌ورغیء او نادر چه خپل دازړور رقیب لاس ته
راووست‌دستی‌ئی امرو کړ چه‌ددې زمری پښتون سپه‌سالار ستر گی‌ړندې کړی(۳)
اوده دسقوط سره دهوتکو شهنشاهی سقوط و کړ .

وایی کوم‌وخت‌چه‌دپښتنوملی‌پهلوان سیدال‌خان نـاصر دوطنخواهی په‌لاره کی

---

(۱) جهانکشا مخ زندگانی نادرشاه مخ روضة‌الصفای ناصری مخ تاریخ نظامی مخ
(۲) جهانکشا ۱۸۱ مخ نادرنامه قلمی ۱۱۵ مخ سلطانی ۸۸ مخ
(۷) جهانکشای نادری ۳۱۵ مخ ـ نادرنامه قلمی ۱۹۷ مخ خور شید جهان ۱۶۰ مخ
زندگانی نادرشاه ۱۰۵ مخ سلطانی ۲۲ مخ

ستر گی بایللي نودخپلو خپلوانو اوخپلی کورنی سره دقندهار ښخه و کوچېد او د کابل د کوهدامن شکردري ته راغی او دلته له دنیا ولاړ ددي مېړه پښتون ژنرال مزاردشکر دري دسیاسنګ په مقبره کښې دی اودده ښخه یو زوی د شیرمحمد په نامه یاته شو چه تراوسه هم ددي کورنی محترم احفاداو اولادونه هلته اوپه کابل کښې او سی . (۱)

● ● ●

د-یدال ادبی مقام : ښنګه چه پټه خزانه لیکی، سیدال خان ناصر علاوه پردي چه دجنګ دمیدان مرنی و' دادب په میدان کښې هم لمړی سړی و' اودتوری سره ئې قلم هم درلود' ښه پوه او ادیب سړی و' مر وجه علوم لکه : فقه تفسیر' فصاحت' صرف' او نحو او فارسی کتب ئې لوستلی وه (۲) دادبیاتو سره ئې ښه مینه درلوده او په کوم وخت چه به له جنګه وزګارو شعرونه به ئې و یل' پخپله هم ښه شاعرو' اوپر ملی لحن اووزن به ئې سندری و یلې چه دلته ئې یو سندره رانقل کوو :

یار ما له هسی ګران سو　　　　را تېر تر ټول جهان سو
نور نه وینم په ستر ګو　　　　جهان ټول راته جانان سو

● ● ● ●

دوې زلفی دی او ږدې کړې　　　　پر مخ دی را خپرې کړې
سرې اشرپی دی په تندی باندی سپرې کړې
ګرزی په باغ کی په ګلونو کی نخرې کړې
په اور دی و سوم یاره　　　　راته اور تا زه بو ستان سو

● ● ●

(۱) دپټی خزانې تعلیقات دښاغلی حبیبی لیکنه ۲۵۷ مخ
(۲) پټه خزانه ۱۶۹ مخ

مین چه اشنا بی کا      شپه اوورځ به ګریاڼی کا

شهیر ده ستمګاره خوشحال زړونه به زخمی کا

لیندی لری دورځیو، د بانو غشی کاری کا

پر هار می ګوره خلقه      د دلبر د تیر نښان سو

❀ ❀ ❀

مین پر لویو غرو ځی      سر تور په نیمو شپو ځی

و وزی له وطنه، وطن پر بیزدی پرچولو ځی      فریادو ناري و کا، په نارو په غلبلو ځی

وصال ئی نصیب نه سو      ګوره زړه دك په ارمان سو

❀ ❀ ❀

ناري وهم عالمه!      د شپي تر صبحدمه

ناتوا نه د بیلتون یم یو ګړی نلرم دمه      بیتامی نفس خیژی راځه زما دزړه همدمه

نظر پر ما غریب کړه      چه تاخون می ستا، په ځان سو

❀ ❀ ❀

شبنم پر ګلو ښکاری      زما او ښکی داری داری

خوناب ځی ستالغمه زما په مخکی لاری لاری

تمامه شپه کم تیره په ژړا په ناری ناری

ښکاره سوه چه مجنون یم      لیونتوب می اوس عیان سو

❀ ❀ ❀

بوستان ښکلی زیبا دی      رنګین په اوښکو زما دی

د زړه پرهار ګلګون دی، چه بلبل په تماشا دی

په مینه می زړه و چاودی تهوایی پخندا دی

نتلی د بیلتون یم      زه «سیدال» دامی بیان سو (۱)

---

(۱) پته خزانه ۱۷۱ ـ ۱۷۳ مخونه .

۲: **باوجان بابی**: بابوجان بابی د کرم‌خان بابی زوی دی، چه په اتغر کې اوسېدیء او یو د هغو غښتلو او مشرانو څخه دی چه په ملی جرگو کې د میرویس خان ملگری او په جنگو کې د ملی زعیم بازو او د پښتنو لښکرو مشرو دی پیاوړی سالار په هغه وخت چه گرگین وژل کېده له کلات د پرغښتلی راوستل او د ماشور (۱) له خوائې د قندهار د ښار حصار و نیو او چه ښار و نیول شو نو د میرویس خان له خوائې په کلات کې حکومت کاوه (۲)

په ۱۱۳٤ هـ کال چه اعلیحضرت شاه محمود د اصفهان د نیو لو عزم و کړ نو بابوجان بابی هم د دروزروتنو هوتکو، توخو، ترکو او آکا خیلو سره قندهار ته راغیء او د شاه محمود سره اصفهان ته ولاړ او د پټی خزانی په عبارت بابوجان په ټولو جنگو کې «هسی مړانه و کړ، چه رستم دوران ئې هېر کړ» (۳)

سلطان محمد لیکی: چه بابوجان د شاه محمود او شاه اشرف په وختو کې د پارس دلاروبندر حاکم و، او د هوتکو د شهنشاهۍ وروسته قندهار ته راغیء، جهانکشای نادری ئې د «باروخان» په نامه یادوی. هغه وخت چه نادر افشار د هرات څخه د قندهار خواته وخوځېد او امام ویردی بیگ د کرمان حکمران د ده په امر د گرشك او کلابس لوری ته مامور شو اعلیحضرت شاه حسین د بابوجان بابی په قیادت او قوماندانۍ یو لښکر د هغه د مقابلې د پاره وړواستاوه او دې زړور قوماندان د هغو سره جگړې و کړې او هغه ئې د فراه لوری ته وځغلول او ډېری ولجې ئې څنی را و گرزولې (٤)

---

(۱) د ماشور کلی د قندهار د زاړه ښار جنوب ته او د نوی ښار جنوب غربی پلو ته تخمینا ۷ میله لری واقع دی. پخوائې د زاړه ښار د جنوبی حصار دروازه د ماشور دروازه بلله.

(۲) (۳) پټه خزانه ۳۵، مخ. (٤) تاریخ سلطانی ۸۸ مخ جهانکشای نادری ۱٦٦ مخ.

علاوه پردي د بابوجان ښه عالم او اديب سړی هم و ، د ادب سره ئې مينه در لوده تل به ئې د شعر او د يوانو نه لوستل او پخپله هم شاعر و. ده په ۱۱۲۹ ه کال د «شهااو ګلان» هغه قصه په مثنوی نظم کړه چه پښتانه ئې په مجلسو کې نقل کوي او دا کتاب ئې « قصص العاشقين » نوميږی .

## د بابو جان د شعر نمونه

### عشق

عشق يو هسې توريالی دی‌ء — چه پر هر ځای ئې بری دی‌ء
دعشق اور هسې سوزان دی‌ء — چه سو ځلی ئې جهان دی‌ء
زړه بې عشقه کله زړه دی‌ء — چه بې عشقه زړه د مړه دی‌ء
پښتانه کاندی مثل — چه دی‌ء خوږ تر شات عسل:
چه: « بې عشقه سر کدو دی » — تش بې مغزه يو لاړو دی‌ء
زړه بې عشقه په کار ندی‌ء — هم هر زړه سزا وار نه دی‌ء
چه د عشق وکا خبری — کړی په غوږ دا مرغلری

دیا کانو عشق سزا دی‌ء
امانت دا ، دمولا دی‌ء

* * *

۳ : **بهادر خان** : بهادر خان چه پټه خزانه ئې « دصدرا کیا بر دوران » په لقب يادوی ، هم يو دهغو غښتليو خانانو څخه دی چه د ګرګين دوژلو په جرګه کې دملی زعيم سره ملګری و (۱) او د هوتکو د دوري ډير مشهور بهادر او

(۱) زيدی خان په محمود نامه کې وايی : سيدال اصر ، او بابوجان و بابی بل بادرخان و ، دبادرو لمسی - ( ۱٤٥ مخ پټه خزانه )

توریالی دی . دهوتکو په اکثرو جنگو کی ئې برخه اخیستې‌ده او هری خواته چه‌ئې په جگړه کې مخ شوی دی هغه خوائې اخیستې ده او بریالی شوی دی؛ لکه محمد هوتك چه لیکی بهادر خان د شاه‌حسین په وختو کی هم د لښکرو سالارو ، او « دشال » (۱) او « ژوب » کلاوی ئې فتح کړې اود شاه‌حسین بازو و ؛ چه وایی شاه‌حسین‌ده ته‌ورور خطاب کاوه او عوامو « امیرالامرأ » باله (۲) بهادر خان په قندهار کی په توره اوښندنه ( سخا ) دېر مشهور و ، دده په کرم اوسخاوت غریبان اوبې وزلی ماړه او آسوده وه .

علاوه پرتوره او سخا بهادرخان ښه علمدوسته سړی هم و ، متداوله علوم ئې لوستلی وه ، د شعرا او علماؤ سره ئې مرستی کولې او هیڅکله دده مجلس ددې طائفې څخه خالی نه‌و ، شاعرانو ته به‌ئې ښې ښې صلې ور کولې ، لکه پټه خزانه چه لیکی « په صله کی په دوران طاق دی ، اوپه ښندنه علمأ ته حاتم دی . چه له سفره راسی علمأ او شعرا میلمه کا ، او دوی ته ښندنی وکا . خالق‌تعالی دی دا کریم دوران او حاتم زمان تر دېره ژوندیء وساتی ... » (۳)

د بهادر خان د بدلو نمونه : بهادر خان هم د سیدال خان ناصر په شان خپل شعری احساسات په ملی اوزانو کې څرگند کړی دی اوپر ملی لحن او وزن ئې بدلی او سندری ویلی‌دی چه دلته ئې یوه نمونه را وړو :

---

۱ : شال یا شالکوټ داوسنی کویټې حدود دی - چه دا بوالفضل په قول د اکبری عصر په تشکیلاتو کی دقندهار دشرقی توابع باله کېده اودختو کلائې درلوده چه کاسی او بلوځ پښتانه پکښې اوسېدل ( آئین اکبری ۱۸۹ مخ ) دپټې خزانې حاشیه ۱۱۱ مخ -

(۲) پټه‌خزانه ۱۲۵ مخ

(۳) پټه‌خزانه ۱۲۵ مخ

بېلتون دی زوردی تر اېموهی سهارنم خاځی — لکه شبنم څاځی
دا سره یاقوت مې په لمن کې ستا په غم څاځی — په غم الم څاځی
گوره لیلی باران داونبو ستا په چم څاځی — څنگه پر چم څاځی

❀ ❀ ❀ ❀

راغله لیلی په شینکی خال نښا په گلو کوی — په سرو منگلو کوی
سهار چه وزی سیل کا، زغ په بلبلو کوی — گل په اوربلو کوی
ملالی ستر گی ئې کاته په وېر ژلو کوی — زیب په گجلو کوی
دژوبل زړه وینې په هر گړی هردم څاځی — لکه شبنم څاځی

❀ ❀ ❀ ❀

ښکلی نجلی ! دباغ په لورمه ځه نښا مکوه — عاشق رسوا مکوه
وریت سوی زړه مې دی مین پوری خندا مکوه — را شه جفا مکوه
زه یم پتنگ ته یې ډیوه ما جلبلا مکوه — نور ظلم بیا مکوه
یم ستا لـه عشقه لیونی پرما ، ماتم څاځی — غم او الم څاځی (۱)

* * *

٤: ملا پیرمحمد میاجی : داملاهم یودهغو روښن فکرو علماو څخه و، چه دملی زعیم میرویس سره په ملی لویه جرگه کې شامل او هم بیا وروسته په ټولو جنگو کې د میرویس نیکه ملا تړ او ملگری و .

دی دمرحوم ملا محمد سرور زوی و، چه پلار ئې د میا فقیرالله صاحب لاس نیوی کړی و اوده بیادخپله پلاره څخه فیض وموند (۲) او وایی چه بیادی دشاه اشرف

(۱) پټه خزانه ۱۲۵ـ ۱۲۷ مخونه
(۲) پټه خزانه ۱۲۹ مخ

او شاه محمود مرشد شو (١) ملاپیر محمد میاجي وروسته تر هغه چه په تولو ملي جگړو کی برخه واخیستله او میرویس نیکه وفات شو نو د میرویس مړ نی زوی اعلیحضرت شاه محمود داصفهان دنیولو دپاره ولاړه دی ئې هم ورو غوښت چه داصفهان تر فتح وروسته ئې هلته در وافضو سره دینی مباحثې کولې او پیر محمد میاجي هلته دومره شهرت وموند چه د روم علماؤ چه په اصفهان کی وه ده ته د «پیر افغان» لقب ور کړ. میاجي د شاه محمود تر مرگ وروسته د شاه اشرف سره هم اوږه پر اوږه ولاړ و؛ او ده ته ئې مشوره ور کوله، خو په ١١٤٣ هـ کال چه اعلیحضرت شاه اشرف خپلې قواوی له لاسه ایستلې وې او د شیراز څخه د قندهار لوری ته راروان و، او د نادر لښکری په پسې وې، شاه اشرف د «فسا» د پل سر ته (دشیراز په ٣ فرسخی کی) راورسید، په دې وخت کی ئې پیر محمد میاجي چه په پښتنو کی ډیر د احترام په ستر گو ورته کتل کېدل دخو پښتنو سربازانو سره دپله دساتنې دپاره پریښود او په خپله تر پله تېر شو، چه ملا پیر محمد میاجي په همدې ځای کی د متجاوزینو له خوا ووژل شو (٢)

دده علمی مقام: ملاپیر محمد علاوه پر توریالیتوب ښه لوی عالم هم و، او د همدې علمی لیاقت په اثر د روم علماؤ ده ته د «پیر افغان» لقب ور کړ، ده په اصفهان کی روافض په ډېرو مباحثو کی ملامت کړی وه او خلک ئې د امام اعظم صاحب مذهب ته را بلل. بر سېره پر دې ښه مؤلف او لیکونکی هم و؛ ده دوه کتابونه تألیف کړی؛ یو کتاب ئې داخلاقو په علم کی «د افضل الطرایق» په نامه لیکلی دی چه په هغه کی دعقائدو او اخلاقو بیان کوی، او بل کتاب

(١) جهانکشای نادری ١٢١ مخ (٢) جهانکشای ١٢١ مخ.

ئې د « القرایض فی رد الروافض » په نوم لیکلی چه دا دوازده کتابونه په پښتو دی او « افضل الطرایق » ئې منظوم هم دی ، چه د دغه شخصه دا ښرګند یږي چه ملا پیر محمد میاجی ښه شاعر هم و ، اوده یو شعر په پټه خزانه کې راغلی دی . (۱)

* * *

۵ : داؤد خان هوتـك : داؤد خان هوتـك دپټې خزانې د مؤلف پـلار او د قادرخان زوی دی چه په ۱۰۲۹ هـ کـال دقندهار د کوکران په کلي کې زیږیدلی دی ...ده دخپل وخت متداول علوم لوستلی وه او په زلمیتوب کې ډیـر عمر له قندهاره د کسي غرونو اوزوب او ډیرو اوپښورته په علم پسی تـلـلی و څو چه دخپل عصر په فصحا او علماو کې دنامه خاوند شو .

هغه وخت چه ملی زعیم او نورو پښتنو ګرګین واژه داؤدخان هم دده ملګری و اوبیا وروسته په ټولو جـګړو کې ورسره وه .

په ۱۱۲۰ هـ کـال چه د صفویانو لښکری پر قندهار راغلې نو دملی قائد میرویس نیـکه لـه خوا داؤد خان فراه ، سیستان او ګلستان او نورو ځایو ته ولاړ چه پښتانه دمیرویس نیکه دملاتړ دپاره راغونډ کړی اوهغه ، هلته دپښتنو سره مرکې وکړې اود نورزو ، او بارکـزو او ساکـزو ډیر پښتانه ئې د ځان مـلـګـری کړل او پر خسروخان ئې یرغل وکړ ، په دغو جنګو کې داؤدخان د میرویس دخوا دپښتنو لښکرو سپه سالارو (۲)

---

(۱) پټه خزانه ۱۳۱ مخ
(۲) پټه خزانه ۱۹۷ مخ

داؤد خان هم علاوه پر توره د ښې طبع خاوندو ، او ښه شعرونه به ئې ويل دادوې رباعی چه د تجنيس صنعت هم پکښې ښته داؤدخان ويلی دی :

چه دچا په زړه کی اور د مينی بل سی ‌ ‌ ‌ ‌ په اور بل ئې لمبې گډی حال ئې بل سی
اور د مينی کله مری د زړه له مينی ‌ ‌ ‌ ‌ د اور بل مينه كه تل د زړه په تل سی

* * *

كه ئې وينې وينې تل څاڅی له زړو څخه ‌ ‌ ‌ ‌ څوك چه وينی تا ، له ځوانو له زړو څخه
د زړو له زړو كه وينې وينی څاڅی ‌ ‌ ‌ ‌ په كړو د غم لو يدلی ستاله كړو څخه

تبصره : تردې ځايه چه د ميرويس نيكه سپه سالاران او جنگې ملگری ذکر شوی د هولو دژړند له حالاتو ځرگنديږی چه دا ښتانه جنگيالی ميړونه هم د توری خاوندان وه او هم د قلم هم توريالی وه او هم عالمان چه دا يوه رونه او ځانته مميزه ده .

# دسړو ځایواو دکتابونو نومونه

## ١: دسړو نومونه


### الف :

ابدال خان ٣١-١٠٣
ابراهیم ١٠٢-٢٠
ابوالفضل -٤-١١٠
احمدشاه بابا - ٩٢-٣٢-٣٤
احمدجان منشی -٣-٣١-٤٨-٥٦
اسرائیل اری -٤٩-٥٠-٥١-٥٢-٨٢-
اسدالله - ٨٤ -
اسلامخان - ١٠٤
اعتمادالدوله -٣٩-٤١-٤٢-٥٢-٥٦-٦٢-٧٤-
اکبر باچا -١١-
اورنګ زیب -١٨-١٩-
امیرالامیر -١١٠-
امام اعظم رح -١١٢

### ب :

باروخان -١٥-١٦-٢٠-١٠٨-٢٧
بار تولد -٣-
بارو -٢٠-١٦-
بابوجان -٢٠-٦١-١٠٨-١٠٩-
برون -٤-
بوار -٢٠-
بیټ نیکه ١٦-٢٩-٣٠

### پ :

پاپ -٥٠-
پتر کبیر ٤٩-٥٠-٥٥-
پیرافغان -١١٢-
پیرمحمد میاجی - ٦١-١١١-١١٢-١١٣

### ت :

تماش آستی ونس -٨-
توخی ١٦-٢٠-٢٣-
توران ١٥-٢٧-
تولر -١٥-
توماس بست -٨-
توماسچك -١٧

### ج :

جارج نیون هام فورد اسحاق -٣-
جلال الدین - ٢٧-
جعفرخان سدوزی -٦٠-٣٢-
جهانګیر -١٢-
جیمز اول -٨

### ح :

حاجی میرخان - ١-٢٧-٦٣-٦٦-

حاجی عادل -۲۸-۳۱-

حاجی ابدال -۳۱-

حسین -۲۷-۹۴-۹۶

حبیبی -۱-٤-۱۰٦-

حیات خان -۳-۲۷-

حیات سلطان -۸٤-

حسامی -۷


خ :


خافی خان -۱۰-٦٦-٦۷-۸۰-۸۱-

خانزاده -۳۲-

خسروخان -۸۲-۸۳-۸٤-۸٥-۸٦-۸۷-۸۸-
۸۹-۱۱۳



د :


داؤدخان -۲۱-۸٥-۱۱۳-۱۱٤-

درخو -۳۲-

دولت خان سدوزی -۳۱-۳٤-۳۷-

دیوان بیگ -۳۹-٤۰-٤۲


ر :


رستم خان -۳٤-۸۹-

ریدی خان مومند -٤۳-٤٥-٤٦-٦۱-٦۷


ز :


زار - ٥٤ - ٥٥ -

زمان خان - ۳٤ -

زینت محل ۹ -

زینبه -۹٤-۹۸


س :


سرجان مالکم -۳-٤۸ - ٥۷ -٦٤-٦٦-٦۹-
۷۰-۷۱-۷۷-۸۸-۹۳-

سر پرسی سایکس -۳-۷-۱۰۲-

سلطان محمد - ۳-۱۸-۱۹-۲۷-۳٦-٦٥-٦٦ -
۸۹-۹۳-۹۸-

سلطان حسین -۷-۳٥-٤۳-٤٤- ٤٥ - ٥٥-
۸۹-۹٥-

سلطان حیدر -٥-

سلطان احمد -۱۰۱-

سلطان خدا داد ( خود کی ) - ۱۸-۳۱ -
سلطان ملخی ۱۸-۱۹-۲٥-۲۸-۳۱-۱۰۳-

سیدال خان ناصر -٦۱-۹۷-۱۰۱-۱۰۳-۱۰٤-
۱۰٥-۱۰٦-۱۰۷-۱۰۹-۱۱۰-

سید جمال الدین افغانی -۳-۷-٥۸-٦٤-٦٦-٦۸-
٦۹-۷۱ ۹۳-۹٤-۹٦-۱۰۲-

سید ظهورالحسن -٤-۹۸-۹۹-
سید مسعود -٤-


ش :


شاه اشرف -۱۰۱-۱۰۲-۱۰۳ ۱۰٤ - ۱۰٥
۱۰۸-۱۱۱-۱۱۲-

شاه اسمعیل صفوی -٥-٦-
شاه حسین ۷٦ ۹۲-۹٦-۹۷-۹۸-۱۰٤-۱۰٥-
۱۰۸-۱۱۰-

شاه عالم -۹۰-

شاه عباس -٦-۱۱-۱۲
شاه صفی -٦-

شاه محمود -۷-۹٤-۹٥-۹٦ - ۹۹-۱۰۰ - ۱۰۱
۱۰۳-۱۰۸-۱۱۲-

شهنواز - ٦٥ -

شیخ صفی الدین اردبیلی -٦-
شیر محمد خان -۳-٦٦-۹۳-۱۰٦


ښ :


ښالم خان -۲۰-۲٥-۲۷-۲۹-۳۱-

ص :

حضرت صدیق رض -٤٦-
صمصام الدوله -٦٦-٨٠-

ظ :

ظهیر الدین محمد بابر -٧-

ع :

عباس قلی بیگ -٨٣-٨٨-
عبدالله خان-٨٤-٨٥-٩٣-١٠٢-
عبدالعزیز خان -٢٥-٩٣-٩٤-١ ١-
عبدالقادر خان-٢٥-
عزیز خان نورزی-٦١-
عمر-٢٧-
حضرت عمر فاروق رض -٤٦
علی اکبر شهامی -٣
علی قلی میرزا ٤-

غ :

غلځی -١٥-١٦-١٧-٢٠-٢٧
غلزی -١٦-
غلجی -١٦-
غرزی -١٦-١٧-
غلزی -١٧-
غیلجائی -١٧-
غلجه ئی -١٧-
غلجائی -١٧-

ف :

فراهی -١٥-
فرعون -٦٥-
فرخ یسار -٥-
فقیر - ٣٤-

ق :

قادر خان-١١٣-
قطب الدین بهادر شاه -٨١-
قلزه ئی-١٧-

ک :

کامران -٣٢-
کرم -٢٧-١٠٨-

گ :

گرگین -١٠-٢٦-٣٣-٣٤-٣٥-٣٦-٣٧-٣٨-
٤٠-٤١-٤٢-٤٣-٤٤-٤٥-٤٧-٥٣-٥٤-٥٥-
٥٦-٥٧-٥٨-٥٩-٦٠-٦٢-٦٣ - ٦٤-٦٥-٦٦ -
٦٧-٦٨-٦٩-٧٢-٧٤-٧٥-٨٢-٨٨-٩٣ -١٠٣-
١٠٨-١٠٩-١١٣-
گل خان بابر -٦١-
گلان -١٠٩-
گویا -٣-١٢-١٥-

ل :

لارودی -٤-٧١-

م :

متوبی بی-٦ -
محمد اعظم-٦٦
محمد جامی خان -٧٧
محمد خان (مشهور په حاجی انگرم -٦١
محمد خان -٧٨-٧٩-٨٢
مراد خان -٦٤-

محمدسرور -۱۱۱-
محمدشاه -۱۰۱
محمد صالح -٤-
محمدعلی‌خان بلوخ -۱۰۲-
محمدمهدی - ٤-٦٤ -
اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید-۹۲
محمدهوتك -۳-٦٤-٦٥ -۱۰۳- ۱۱۰-
ملکه الیزابت-۸
ملکیار -۲۰ ۲۳-۲٤-۲٥-۲۷-
محمود - ۹٤ - ۹٥ - ۹۹ ۱۰۰-
موسی کاظم ٦۰-
میان فقیرالله -۱۱۱-
میرویس - ۱-٤-٥ -۷ -۱۰-۱۹- ۲۰ -۲۳
-۲٥ -۲٦ - ۲۷-۲۸- ۲۹ - ۳۰ -۳۱ - ۳۲
۳۳-۳٤ -۳٦ -۳۷-۳۸ -۳۹ - ٤۰-٤۱
-٤۲ -٤۳-٤٤ -٤٥-٤٦-٤۷ -٦۸ -٤۹
-٥۳ -٥٥ -٥٦ -٥۷ -٥۸ -٥۹ - ٦۰
-٦۱ -٦۲ -٦۳ -٦٤ -٦٥ -٦٦ - ٦۷
-٦۸ -٦۹ -۷۰ -۷۱ -۷۲ -۷۳ - ۷٤
-۷٥ -۷۷ -۷۸ -۷۹ -۸۰-۸۱ -۸۲-۸٤
-۸٥ - ۸٦ -۸۷ -۸۸ -۸۹ -۹۰ - ۹۲
-۹٤-۹٦ -۹۸-۱۰۱ -۱۰۳-۱۰۸-۱۱۱
- ۱۱۲ -۱۱۳ -۱۱٤-
میشل - ٥۱
میلیسون -۳۲ -٤۸ -٤۹ -٥٥ -٥٦ -٦٤-٦٦
-٦۸ -۷۲ -۷٥ -۷۷ -۷۹-۸۳-۸٥-۸٦
-۸۸ -۸۹ - ۹۳ -۹٤ -۹٦

ن :

ناپلیون -۸٦ -
نادرشاه افشار - ٤-۷۲ -۱۰٤ - ۱۰۸-۱۱۲
نازو -۲٥ -۲۸ -۲۹ -۳۰ -۳۱-

نصروخان الکوزی -۱۰-
نوربابا -۲۳-۲٤-
نور خان -٦۱
نورالدین محمدجهانگیر -۸-
نورالله لارودی -٦٦-
نورمحمد غلجی -۹۸-

و :

ویردی بیگ -۱۰۸-

ه :

همایون -۷-
هوتك بابا -۱٥ -۱٦-۱۸ -۲۰-۲۱ -۲۲-۲۷-

ی :

یحیی‌خان -۲٥ -٦۱ -
یوسف خان -٦۱ -
یونس خان کاکړ -٦۲

* * *

## ۲ : دځایونو نومونه

الف :

اتریش -٥۰-
اتغر - ۱٦ -۱۸ -۲۱ ۲۲ -۱۰۳-۱۰۸-
آذربایجان -۷۰-
ارغسان -٦۲ -٦٥-
ارغنداو -۱۸- ۲۱ -۲۲-
اروپا -۸-
ازقان -۱۰٥ -
استراخان-۸۲-
اسلامبول -٥۰ -

اسماعیل‌خان اوغازی خان‌دیری -۹٦ -

آسیا -۱۷-

اصفهان -٤-٦٤ -۳۳ - ۳۵ - ۳٦ - ۳۷ - ۳۸ -۳۹ -٤۰ -٤۳ -٤٤ -٤۸ -٤۹ -۵۰-۵۱ -۵٦ - ۵۷ -٦۹ -۷۹ -۸۰ -۸۲ -۸۹ - ۹۱ -۹۲ - ۹۵ - ۹٦ - ۱۰۰ - ۱۰۳ - ۱۰۸ - ۱۱۲ - ۱۱۳ -

افغانستان -۵- ۱۰ -۱۱-۱۲ -۲٦ - ۲۷ - ٦۷ -۸۹ - ۹۵ -۹۷-

المان -٤۹- ۵۰ -

امو -۱۷-

اندجان -۷-

انگلستان -۹-

اولان -۸ -۲۱

ایتالیا -٤۹-

ایران -۳-٤-٦-۷-۱۷ -۸۹-

ایروان -۸-

ب

برمه -۹-

بست -۸۵-

بغداد -۷-

بلخ -۱۰ -۱۱-

بلوچستان -٦۱ -٦۲-

بمبئی -۸-

بیت‌الله -٤٤-

پ :

پارس -٤-۵-٦ -۱۰ -۱۱-۱۵ -۲٦-۳۵-۳٦-٤۲-٤٤-٤۵-٤۷ -٤۸-٤۹-۵۰-۵۱-۵۲ -٦۲-۷۰-۷٤-۷۵-۷٦-۷۷-۷۸-۷۹-۸۰ -۸۱-۸۲-۸۳-۸٤-۸۷-۸۸-۸۹-۹۳-۹۵-۹۸-۱۰۱-۱۰۳-۱۰٤-۱۰۸-

پامیر - ۱۷ -

پښتو نخوا - ۲۱-۲۲-

پښین - ۹٦-

پنجاب - ۹٦-

پېښور - ۱۱۳-

ت :

تازی - ۲۸-

تبریز - ۷-۷۹-

ترنك - ۲٤-۲۵-

تهران - ۱۰٤-

ج :

جلدك - ۱۸-۱۹-۲۸-٦۱-

ح :

حجاز - ٤ -٤۷-٤۸-

خ :

خراسان - ۱۰٤-۷۳

خلج - ٦۱-

خیبر - ۲۹-

د :

دلارام - ۷۹-۹۷-

دلخك - ۷۹-۹۷-

ده شیخ - ٦۵-

ډ :

ډهی - ۷-۹۹-

ډیله - ۱۰۳

ر :

روس - ٤٩-٥٠-٥١-٥٤-
روم - ٥٠-١١٢-١١٣

ز

زابل - ١١-
زرد کوه - ١٠٢

ژ :

ژوب - ٢٣-٦٢-١١٠-١١٣

س :

سبزوار - ٩٦-
سورت - ٨-
سور فر - ١٦-١٨-٢١ ٢٢-٢٨-
سوری یا سیوری - ١٦ - ١٨-٢١-٢٠-
٢٨-٩٦
سیاسنگ - ١٠٦-
سیستان - ٨٥-٩٠-٩٥-١١٣-

ش :

شال - ٩٦-١١٠
شالکوټ - ١١٠
شاجوی - ١٨-
شرقی هند - ٩-
شکر دره - ١٠٦-
شماخی - ٤٩-٥٠-٥٢-
شیراز - ١١٢-١١٣-
شیروان - ٥-٧٠-

ښ :

ښار صفا - ٣٢-٦٠-
ښوراوك - ٦١-١٠٢

غ :

غرج - ١٦-
غرجستان - ١٧-
غرچه - ١٦-١٧-
غزنی - ٢٨-٩٦-
غلج - ١٦-
غورك - ١٧-

ف :

فرانس - ٢ -٤٩-
فراه - ١٢ -٦١-٨٣-٨٥-٩٠-٩٦-١٠٨-١١٣
فسا - ١٠٥-١١٢-

ق :

قایانلوی - ٤٩-
قزوین - ١٠٤-
قندهار - ٥ - ١٠ - ١١ - ١٢ - ١٥ -
٢٥ - ٢٦ - ٢٨ - ٣٥ - ٣٨ - ٤٠ -
٤١ - ٤٢ - ٤٤ - ٤٧ - ٤٩ - ٥٦ -
٥٧ - ٥٨ - ٦٠ - ٦٢ - ٦٥ - ٦٦ -
٦٧ - ٦٨ - ٦٩ - ٧٥ - ٧٧ - ٧٨ -
٧٩ - ٨٢ - ٨٣-٨٤- ٨٦ - ٨٨ - ٨٩ -
٩٠ - ٩٢ - ٩٣ - ٩٥ - ٩٨ - ٩٩ -
١٠٠ - ١٠١ - ١٠٢ - ١٠٣ - ١٠٤ -
١٠٥ - ١٠٦ - ١٠٨ - ١١٢ - ١١٣-

ك :

کابل - ٧-١١ - ٢١ - ٢٨ - ٦٠ - ٩٨-
١٠٦ -
کرمان - ٣٤ - ١٠٤ ١٠٨ -
کسی غر - ١١٣ -

کلابس - ۱۰۸ -
کلات - ۱ - ۱۹ - ۲۱ - ۲۸ - ۹۶ -
۹۷ - ۱۰۵ -
گلستان - ۸۵ - ۱۱۳ -
کوسان - ۲۹ -
کوکران - ۵۸ - ۶۰ - ۹۲ - ۱۱۳ -
کوهدامن ۱۰۶ -
کویټه - ۱۱۰ -

گ :

گرجی - ۶۲ -
گرجستان - ۳۵ - ۴۲ - ۵۴ - ۷۰ -
۸۳ - ۹۷ -
گرشك - ۸۳ - ۷۳ - ۱۰۸ -
گرماو - ۱۸ -
گرمسیر - ۱۰۲ -
گومل - ۹۶ -

ل :

لندن - ۸ -
لهستان - ۵۰ -

م :

مازندران - ۹۸ -
مانچه - ۶۰ -
ماشور - ۱۰۸
مدینه - ۴۴ - ۴۵ - ۴۷ -
مرغه - ۲۱ - ۲۲ - ۲۳ -
مکه - ۴۴ - ۴۵ - ۴۷ - ۴۸ - ۴۹ - ۷۰ -
ملتان - ۹۶
موچه خورت - ۱۰۴ -
مهمان دوست - ۱۰۴ -

ن :

نارنج - ۹۴ -

و :

وازه خوا - ۲۳ -

هـ :

هرات - ۱۱ - ۸۲ - ۸۴ - ۸۹ - ۷۸ -
۹۶ - ۱۰۴ - ۱۰۵ -
هلمند - ۸۵ - ۸۶ - ۷۳ - ۹۷ - ۱۰۲ -
هند - ۳ - ۵ - ۶ - ۷ - ۸ - ۱۰ - ۱۱ -
۱۵ - ۲۶ - ۳۲ - ۳۳ - ۳۵ - ۴۷ -
۶۶ - ۷۰ - ۸۰ - ۸۱ - ۸۲ - ۷۶ -
۷۷ -
هندوستان - ۸ - ۹ - ۸۱ -

۞ ۞ ۞

## ۲: د کتابو نوم نه

الف :

افغان او پارس جگړه - ۳ - ۳۲ - ۳۸ -
۳۹ - ۴۴ - ۴۷ - ۴۸ - ۴۹ - ۵۲ -
۵۳ - ۵۵ - ۵۷ - ۶۲ - ۶۵ - ۷۶ -
۸۱ - ۸۲ - ۸۳ - ۸۵ - ۸۸ - ۹۰ -
۹۱ - ۹۳ - ۹۴ - ۹۵ -
افضل الطرایق - ۱۱۲ -
افغان تاریخی - ۴ - ۵۳ - ۷۰ - ۷۶ -
۸۱ -
القرایض فی ردا لروافض - ۱۱۲ -
اویستا فرهنگ - ۳ - ۱۷ -
آئین اکبری - ۴ - ۱۱۰ -

پ :

پټه خزانه ـ ۳ ـ ۱۵ ـ ۱۶ ـ ۱۸ ـ ۱۹ ـ ۲۰ ـ ۲۱ ـ ۲۲ ـ ۲۳ ـ ۲۴ ـ ۲۵ ـ ۲۸ ـ ۲۹ ـ ۳۰ ـ ۴۴ ـ ۵۹ ـ ۶۰ ـ ۶۱ ـ ۶۳ ـ ۶۵ ـ ۶۶ ـ ۶۷ ـ ۶۸ ـ ۸۵ ـ ۹۰ ـ ۹۴ ـ ۹۷ ـ ۹۸ ـ ۱۰۱ ـ ۱۰۳ ـ ۱۰۶ ـ ۱۰۷ ـ ۱۰۸ ـ ۱۰۹ ـ ۱۱۰ ـ ۱۱۱ ـ ۱۱۳ ـ

پټې خزانې تعليقات ـ ۴ ـ ۱۰۶ ـ

ت :

تاريخ ادبيات ايران ـ دبرون اثر ديا سمی ترجمه ـ ۴ ـ ۸۸ ـ ۸۹ ـ

تاريخ افاغنه ـ ۴ ـ ۹۹ ـ

تاريخ افغانستان ـ دمليسون تأليف د منشي احمد جان ترجمه : ۳ ـ ۳۱ ـ ۳۲ ـ ۳۳ ـ ۳۷ ـ ۳۸ ـ ۴۸ ـ ۴۹ ـ ۵۵ ـ ۵۶ ـ ۶۰ ـ ۶۲ ـ ۶۳ ـ ۶۴ ـ ۶۶ ـ ۶۸ ـ ۶۹ ـ ۷۱ ـ ۷۲ ـ ۷۳ ـ ۷۵ ـ ۷۷ ـ ۷۹ ـ ۸۳ ۸۶ ـ ۸۸ ـ ۸۹ ـ ۹۳ ـ ۹۴ ـ

تاريخ ايران ـ دسرجان مالکم اثر ـ ۳ ـ ۳۱ ـ ۳۳ ـ ۳۵ ـ ۳۶ ـ ۳۷ ـ ۳۸ ـ ۴۸ ـ ۵۰ ـ ۵۷ ـ ۵۹ ـ ۶۳ ـ ۶۸ ـ ۶۹ ـ ۷۰ ـ ۷۱ ـ ۷۸ ـ ۸۸ ـ ۹۳ ـ ۹۴ ـ ۹۵ ـ

تاريخ روابط ايران واروپا در دورهٔ صفويه ۳ ـ ۸ ـ ۹ ـ

تاريخ سلطاني ـ ۳ ـ ۱۶ ـ ۱۸ ـ ۱۹ ـ ۲۰ ـ ۲۷ ـ ۳۲ ـ ۳۴ ـ ۳۶ ـ ۶۰ ـ ۶۲ ـ ۶۵ ـ ۶۶ ـ ۸۹ ـ ۹۵ ـ ۹۶ ـ ۹۸ ـ ۹۹ ـ ۱۰۲ ـ ۱۰۵ ـ ۱۰۸ ـ

تاريخ علي قلي مرزا ـ ۴ ـ ۹۴ ـ

تاريخ مختصر ايران ـ دسرپرسي سايکس تأليف ۳ ـ ۷ ـ ۱۰۲ ـ

تاريخ نظامي ايران ـ ۴ ـ ۱۰۱ ـ ۱۰۲ ـ ۱۰۴ ـ ۱۰۵ ـ

تتمة البيان ـ دعلامه سيد جمال الدين افغاني اثر ۳ ـ ۷ ـ ۳۳ ـ ۵۸ ـ ۶۰ ـ ۶۸ ـ ۶۹ ـ ۷۱ ـ ۷۳ ـ ۷۷ ـ ۹۳ ـ ۹۴ ـ ۹۶ ـ ۱۰۲ ـ

ج :

جغرافياى تاريخي ايران ـ دبار تولد اثر ـ ۳ ـ ۱۷ ـ

جونګ ـ فراهي قلمي ـ ۳ ـ ۱۲ ـ ۱۵ ـ

جهانکشاى نادري ـ ۴ ـ ۶۴ ـ ۸۹ ـ ۱۰۴ ـ ۱۰۵ ـ ۱۰۸ ـ ۱۱۲ ـ

ح :

حيات افغاني ـ ۳ ـ ۱۵ ـ ۱۶ ـ ۱۹ ـ ۲۰ ـ ۲۵ ـ ۲۷ ـ ۹۶ ـ

خ :

خورشيد جهان ـ ۳ ـ ۱۶ ـ ۲۰ ـ ۲۵ ـ ۲۷ ـ ۶۲ ـ ۶۶ ـ ۸۴ ـ ۸۸ ـ ۹۴ ـ ۹۵ ـ ۹۶ ـ ۹۸ ـ ۱۰۵

د :

دائرة المعارف بستاني ـ ۳ ـ ۷

داستان ترکتازان هند ـ ۳ ـ ۹ ـ ۳۱ ـ ۶۶ ـ ۸۷ ـ

درهٔ نادره ـ ۴ ـ ۹۷ ـ

د هندي او انګليسي قاموس ـ ۳ ـ ۱۷ ـ

ر :

رحمان بابا (دیوان) ـ ٥٩ ـ ٦٣ ـ
روابط ادبی ایران و هند ـ ٣ ـ ٥ ـ ٦ ـ ٨
روضة الصفای ناصری ـ ٤ ـ ٨٥ ـ ٩٦ ـ
١٠١ ـ ١٠٥

ز :

زندگانی نادرشاه پسر شمشیر ـ ٤ ـ ٣٥ ـ
٣٧ ـ ٦٦ ـ ٧٢ ـ ٨٨ ـ ٩٤ـ١٠٥ ـ
زبان پامیر ـ ١٧

س :

سیرالمتأخرین ـ ٤ ـ ٩٦ ـ ٩٨ ـ

ف :

فرشته ـ ٧ ـ ٨

ق :

قصص العاشقین ـ ١٠٩

ك :

کاوه مجله ـ ٤ ـ ٥٠ ـ ٥١ ـ ٥٤

م :

مآثرالامراء ـ ٤ ـ ٦٦ ـ ٨٠ ـ ٩٦ ـ ١٠٢ ـ
منتخب اللباب ـ ٣ ـ ١٠ ـ ٨٠ ـ ٨٢ ـ
محمود نامه ـ ٤٣ ـ ٤٦ ـ ٦١ ـ ٦٢ ـ ٦٧ ـ
١٠٩

ن :

نادر نامه ـ قلمی ـ ٤ ـ ٩٨ ـ ١٠٢ ـ ١٠٥

❀ ❀ ❀

# ددی کتاب فهرست


| مضمون | مخ | مضمون | مخ |
|---|---|---|---|
| ذیل | ١ | بابا هوتك | ٢٠ |
| ددي کتاب مأخذونه | ٣ | ملکیار | ٢٣ |
| تر میرویس دمخه | ٥ | ښالم خان | ٢٥ |
| د پارس وضعیت | ٥ | میرویس څوك و ؟ او څه یې وکړه ؟ | ٢٧ |
| د هند وضعیت | ٧ | دده د نسب سلسله | ٢٧ |
| په افغانستان کښې د قندهار وضعیت | ١٠ | د میرویس مور | ٢٨ |
| د هوتکو ټبر | ١٥ | د میرمن نازو د خوب لیدل | ٢٩ |
| د هوتکو ښاغلی ترمیرویس د مخه | ١٩ | د میرویس د زېږېدو نیټه | ٣٠ |
| | | د میرویس ازدواج | ٣١ |

PROPERTY OF ACKU 5661


| مضمون | مخ |
|---|---|
| دمیرویس کسب | ۳۲ |
| د میرویس شخصی صفتونه | ۳۳ |
| د میرویس مقام د پښتنو په نزد | ۳۳ |
| گرگین څوك و؟ اوولی قندهار ته راغی؟ | ۳۵ |
| میرویس او گرگین | ۳٦ |
| میرویس داصفهان په دربار کښې | ۳۹ |
| د میرویس تگ حج ته | ٤٤ |
| دمیرویس مناجات | ٤٥ |
| دمیرویس خوب لیدل | ٤٦ |
| هغه سوالونه چه میرویس د حجاز علماو ته وړاندی کړل | ٤٧ |
| یو تصادف | ٤٩ |
| دمیرویس استفاده له موقع څخه | ٥۳ |
| دمیر راتگ قندهار ته | ٥٦ |
| دمیر رسیدل قندهار ته | ٥٧ |
| لمړی ملی جرگه | ٥٨ |
| دوهمه ملی جرگه | ٦۰ |
| دمیرویس لمړی اقدام | ٦۳ |
| ددی اقدام نتیجه | ٦٦ |
| دقندهار دښار نیول | ٦٧ |
| دریمه جرگه او دمیرویس وینا | ٦۹ |
| دولجی نیول | ٧۲ |
| دمیرویس بله وینا او دپښتنو څلرمه جرگه | ٧۳ |
| په کار پیل | ٧٥ |
| دمیرویس مکتوب دپارس پاچا ته | ٧٥ |
| دی اقدام په اصفهان کی څه تاثیر وکړ؟ | ٧٦ |
| د میرویس مراوده دهند د دربار سره | ٨۰ |
| دمیرویس مکتوب دهند دربار ته | ٨۱ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| دپارس ۳۱ زره عسکر د خسرو خان په قومندانی | ٨۲ |
| د خسرو خان نفاق اچول | ٨۳ |
| دمیرویس آمادگی | ٨٥ |
| دقندهار محاصره | ٨٦ |
| دخسرو خان مرگ او دپارسیانو تیښته | ٨٧ |
| دپارسیانو دبل لښکر ماتی | ٨۹ |
| دمیرویس وفات | ٨۹ |
| دمیرویس وروستنی خبری | ۹۰ |
| تر میرویس وروسته: | ۹۲ |
| دمیرویس ورور عبدالعزیز | ۹۲ |
| دمیرویس اولاد | ۹٤ |
| شاه محمود | ۹٤ |
| شاه حسین | ۹٦ |
| دمیرویس لور میرمن زینبه | ۹٨ |
| دمیرویس وراره اشرف | ۱۰۱ |
| دمیرویس سپه سالاران: | ۱۰۳ |
| سیدال خان ناصر | ۱۰۳ |
| دسیدال جنگونه | ۱۰٤ |
| دسیدال ادبی مقام | ۱۰٥ |
| بابوجان بابی | ۱۰٨ |
| دبابوجان دشعر نمونه | ۱۰۹ |
| بهادر خان | ۱۰۹ |
| دبهادر خان دبدلو نمونه | ۱۱۰ |
| ملاپیر محمد میاجی | ۱۱۱ |
| دده علمی مقام | ۱۱۲ |
| داؤد خان هوتك | ۱۱۳ |
| دسرو اوځایو او کتابو نومونه | ۱٥۱ |


تصویرونه:


۱ :- مرویس نیکه - د امړی مخ مقابل
۲ :- شاه اسماعیل صفوی - د٦ مخ مقابل
۳ :- سلطان حسین صفوی - د٧ مخ مقابل
٤ :- دقندهار زوړ ښار - د٦٧ مخ مقابل
٥ :- دمیرویس نیکه مقبره د۹۲ مخ مقابل
٦ :- شاه محمود هوتك د ۹٤ مخ مقابل
٧ :- شاه حسین هوتك د ۹٦ مخ مقابل
٨ :- شاه اشرف هوتك د۱۰۱ مخ مقابل

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library